بسم الله الرحمن الرحيم


**کتاب پېژندنه:**

| | |
|---|---|
| **کتاب نوم:** | يو اځې شوی |
| **ليکوال:** | ايف سکاټ فيټزګيرالډ |
| **ژباړن:** | طارق نجيب |
| **ډيزاين چارې:** | عبدالهادي اثر |
| **خپرندوی:** | مازيګر کتاب پلورنځی |
| **چاپ کال:** | ۱۳۹۴ل/2015م |
| **چاپ شمېر:** | ۱۰۰۰ |
| خپرونوبت: | ۲ |



**د چاپ حقوق خوندي دي**

Ketabton.com


ې شوی

ف سکاټ فيټزګيرالډ

ق نجيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ډالۍ:

هغه چاته چې زړه مې غواړي ډېر څه ورته ډالۍ کړم !

خپل ګران او قدرمن ورور:

- ډاکتر شمس نجیب ته -

ط. نجیب

## له ملګرو مننه:

ښاغلی مبارک خاموش، چې ژباړې ته یې هڅولی یم.

ښاغلی سید عباس هاشمي، چې مینه یې د قدر وړ ده.

ښاغلی جلال خان صدیقي، چې د ژباړلو لپاره یې دا کتاب را ډالۍ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غربي جزيره کې د جې کيټس بې
ماڼۍ تل د روښانه څراغونو،
نڅاګانو او د هغې فوق العاده کرکټر
باره کې ګونګوسيو يو بې ساري
محفل ګڼل کېده. خو ګيټس بې
يو شتمن ځوان چې تل د سلګونه
خلکو ترمنځ يوائحې، د يو شي په لټه
او منتظر معلومېده خو هيڅا سره
ددې پوښتنې ځواب نه و.

د هغې د ژوند ګردجنې سطحې
لاندې يو اوږد راز پروت و چې تر
لاسه کول يې شايد امکان نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیلیزه

د لوی څښتن تعالی ډېر شکر گزار یم، چې زه یې ددې جوگه کړم دا کتاب وژباړم او خپلو افغانانو او پښتو ژبې لپاره خدمت وکړم. وړاندې تر دې چې د ناول باره کې څه ووایم، اړینه بولم د هغه شخصیت قدرداني او یادونه وکړم چې د ادبیاتو په ډگر کې یې تر هرڅه ډېر هڅولی یم. ډاکټر شمس نجیب چې په لومړي ځل یې ناول لوستو ته اړ کړم، د پښتو ادبیاتو ډگر ته مې لاره پیدا کړه او نن دې حد ته راورسیدم چې تاسې ته د مینې ډک ناول (زه گناهگاره نه یم) وژباړم.

دا ناول د اردو ژبې نامتو لیکوالې آغلې عمیرا احمد لیکلی دی. چې د ناول له کیسې څخه د اردو یوه مشهوره ډرامه هم جوړه شوې ده. دا ناول (زه گناهگاره نه یم) زما د ژباړې دریمه هڅه ده او د ملگرو په غوښتنه



او هڅونه مې وژباړه.

ددې ناول کیسه دوه برخې لري، چې په ماضي کې د یوې انجلۍ په ژوند او څلورویشت کاله وروسته د همدې انجلۍ د لور په ژوند راڅرخېږي. د کیسې لوبغاړی پرځای ددې چې د ریښتیا په لټه کې شي، تېروتنه کوي او پاتې ټول ژوند د پښېمانۍ او خفگان سره لاس او گریوان وي.

انجلۍ هم په هرڅه بې باوري کېږي خو د خدای ج اسره له ځان سره ساتي. د ژوند تر پایه څه کوي، څوک ملامته وي او ددوی دواړو تر منځ د بې باورۍ دیوال ولې ودرېږي. ددې پوښتنو ځواب به درته خپله دا کتاب ووایي.

په پای کې د یوې خبرې یادونه اړینه بولم هغه دا چې هر کله تر یو کار او پرېکړې کولو وړاندې څو ځله فکر وکړئ، هغه چې تاسو به یې وکړئ سم به وي او په راتلونکي ژوند کې به د پښېمانۍ پیټی په اوږو نه وړئ.

په درنښت

طارق نجیب کاموال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوائځې شوی

د څښتن تعالی له درباره ډېر شکرګزار یم چې ماته یې ددې ناول د ژباړلو توان راکړ.

د ناول باره کې درته لږ څه وایم؛ دا د امریکا نامتو لیکوال ایف سکاټ فیټزګیرالډ لیکلی، که څه هم دا ناول ۹۰ کاله وړاندې په ۱۹۲۵ م کې لیکل شوی، خو بیا هم د شلمې پیړۍ د امریکا تر ټولو غوره او د انګلستان دوهم غوره ناول نومول شوی او په ۱۹۲۵، ۱۹۵۰ او ۱۹۹۰ کلونو کې پرله پسې چاپ شوی. په اخبارونو او مجلو کې یې ځانته ځای پیدا کړی.

په دې ناول کې د امریکا له جګړې وروسته اوضاع او یوه ټولنه د شتمنۍ او مقام له ویرې د ناکامۍ سره مخ شوې، خو لیکوال ددې هر څه نه ډېر په ځانګړې ځای او مهال کې د ګیټس بي د خپلو خوبونو ویرجن لټون کې دا هر څه ځای پر ځای کړي دي.

لیکوال فیټزګرالډ د خیال او ریښتینتوب تر منځ ټوله ییز ټکر راپه ګوته کړی دی.



خپلې موضوع ته راځم، تر ډېره د پښتو ژبې ناولونه په یوې ځانګړې موضوع لکه حماسي، عشقي، پولیسي او داسې نورو باندې راڅرخي، کیسه یې تر ډېر حده جالبه او لوستونکي پرې اسانه پوهېدلای شي.

په دې ناول کې لیکوال خپله کیسه د الف نه تر یا پورې نه رسوي بلکې د کیسې هره برخه بیله درته مخې ته ږدي او لوستونکی هڅوي چې خپله فکر وکړي او ځان وپوهوي.

په لومړي سر کې د لوستونکو فکر خپلوا که پرېږدي چې کیسه هر لورې ته بوتلای شي، خو هغه څه چې لیکوال یې ویل غواړي، شېبه وروسته یې درته روښانه کوي.

که څه هم زه د پښتو ادبیاتو مسلکي نه یم خو تر ډېره ورسره اشنایي لرم، او غوښتل مې د پښتو ژبې لیکوالان د ناول لیکلو یوې بلې بڼې سره بلد شي او لوستونکي هم د ناول هرې برخې د باریکۍ پام کې نیولو سره د کیسې یو بشپړ انځور جوړ کړي.

په پای کې له ټولو افغانانو ورونو هیله کوم چې خپل راتلونکی د پوهې په رڼا روښانه کړي، چې د سیالانو سیال شوو.

په درنښت

طارق نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړى څپركى

زما د وړوكتوب په حساس كلونو كې به پلار ماته نصيحتونه كول چې تر ډېره به يې زما مغزو كې انګازې كولې. هغه به ويل، كله چې هم په چا باندې نيوكه كوې بس دا په ياد لره چې په دې نړۍ كې ډېرو خلكو هغه څه نه درلودل كوم چې تا سره وو.

هغه به ډېر څه نه ويل، خو مونږ به ډېر وخت په داسې موضوعګانو سره بحثونه كول. خو دهغو ټولو خبرو نه د هغې يو اځنى مطلب زما پوهول ؤ. په پاى كې به دې ته مايل شوم چې ددې هر څه قضاوت راتلونكي ته پرېږدم او كله چې به زما صبر پاى ته ورسيد ، نو په دې به پوه شوم چې دا هر څه يو حد لري.

تېر منى چې كله له ختيځ نه راغلم نو دا احساس مې كاوه چې دا ټوله نړۍ ثابته ده او د تل لپاره معنوي پاملرنې ته اړتيا لري، ما نور بې مقصده چكرونه نه غوښتل چې د هر انسان زړه يې خپل حق بولي، يو اځې ګيټس بې، د كوم شخصيت باره كې چې ددې كتاب پاڼې تورې شوي دي، زما ددې عكس العمل نه يوه استثناء وه.



كه چيرې شخصيت د بدن د حركاتو يوه نه ختميدونكې سلسله وي نو بيا په هغې يو ډېر ښايسته څه موجود وو. د ژوند د وعدو لپاره يو ډېر لوړ حساسيت، چې د هغه پيچيده ماشين نه يې تشبيه كولاى شو چې په زرګونه مايله لرې زلزله حس كولاى شي. دا يې د هيلو لپاره يوه فوق العاده ډالۍ وه. يو عشقي تيارى چې تر اوسه ما په بل كوم شخص كې نه وو موندلې او كيداى شي راتلونكې كې يې هم ونه مومم. خو ګيټس بې په اخره كې سم راووت؛ يو څه چې ګيټس بې يې ښكار شو، يو څه الوده ګردونه دهغې د خوبونو په لاره پراته ول چې د لنډ مهال لپاره يې زما د ژوند د ناكامه خوښيو لاره هم وتړله.

په منځني لويديځ ښار كې زمونږ كورنۍ د دريو نسلونو را په ديخوا وتلى نوم لري. د ځان باره كې به يو څه ووايم؛ زمونږ د هارډ ويېرعمده سوداګرۍ زما د نيكه ورور پيل كړې وه چې وروسته زما د پلار په واک كې شوه. ما تر اوسه داسې تره نه دى ليدلى خو زه هم غواړم د هغې په څېر و اوسم، دهغې انځور اوس هم زما د پلار په كارې دفتر كې ځړيدلى دى. زه د نيو هيون پوهنتون نه په كال **۱۹۱۵** م كې فارغ شوى وم.

په ځاى ددې چې منځنى لويديځ ښار د نړۍ ارامه مركز وي، خو د نړۍ يوې زړې څنډې په څېر ښكاريده. ما پريكړه وكړه چې ختيځ برخې ته لاړ شم او هلته د بانډ سوداګري زده كړم ځكه هر څوك چې ما پيژندل د بانډ په سوداګرۍ كې بوخت وو، نو فكر مې وكړ كه زه پكې هم ورګډ شم نو څه به وشي؟

زما ترونو او خاله ګانو به ماته داسې لارښوونه كوله لكه چې په لمړي ټولګي كې مې داخلوي. په اخره كې به يې ويل ولې بانډ سوداګري شروع كوې او بيا به يې ويل، هو بيخي سم انتخاب دې كړى. پلار مې تر يو كاله پورې ماته پيسې جمع كولې، خو بيا يو څه وخت وروسته د تل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ختیځ ته راغلم.. د تل لپاره ! فکر مې لږ دوام وموند.

خبره اوس په دې نوي ښار کې د کوټې پیدا کول وو، تر څو پکې واوسېږم. زه د پراخه چمنونو او ښایسته ونو وطن نه دلته راغلی وم. په دفتر کې یو ځوان راته وویل چې په خوا کې ښارګوټي کې یو ځای کوټه ونیسو، نور ما د خدای نه څه غوښتل؟ هغې یو وړوکی موسمي کور پیدا کړ، د میاشې ۸۰ سینټه غوښته. په اخرو شپو کې یې له دفتره زما ملګري ته وویل شو چې واشنګټن ته لاړ شي نو زه مجبوره شوم او کور مې یواځې ونیو. ما یو سپې هم درلوده خو یو څو ورځې وروسته هغه هم وتښتید. او یوه زړه ښځه هم وه چې د کور صفایي او اشپزي به یې کوله.

زه د یوې ورځې لپاره یواځې وم، سهار مې یو کس ولید چې زما نه یو څو ورځې مخکې دلته راغلی و، په سرک ورسره ودرېدم.

- ته دې غربي کلي ته څنګه راغلې یې؟ هغه په ناهیلۍ پوښتنه وکړه.

ماورته وویل: زه نور یواځې نه یم ! زه یو لارښود او دایمې اوسیدونکی شوم.

هغه به کله ناکله د ګاونډیانو په اړه خبرې کولې چې څنګه ورسره ژوند تېر کړو.

د لمر راختلو سره او په ونو کې پاڼو یو ځل بیا د زرغونېدو په حال کې داسې لکه فلمونو کې د ونو پاڼې زرغونېدل په تیزۍ ښایي، ما هم هماغه فکر کاوه چې ژوند یو ځل بیا د اوړي نه پیل شو.

ما سره دویلو لپاره ډېر زیات کتابونه وو او ورسره ښه صحت هم و چې باید یوه شپبه مې د لوستلو پرته نه وی تېره کړې. د بانکې سستم او پانګه اچونې بیمې کتابونه مې اخستي وو، د لرې نه د سرو او سپینو زرو سیکو په څیر له ورایه پړقیدل خو په دوی کې دننه راز نه یواځې لیکوال خبر و.



دا خو هسې د چانس خبره وه چې ما په داسې یو بیګانه ځای کې یو کور په کرایه کړی و. دا ځای د شمالي امریکا په داسې یو نري او ګډوډ ټاپو کې پروت و چې یو سر یې تر نیویارکه رسیدلی و، د ښار نه شل مایله لرې دا ټاپو په دوه هګۍ ډوله ټاپوګانو چې د یوې جزیرې پواسطه سره بیل شوي وو پراته وو.

زه هم غربي هګۍ ډوله ټاپو کې پروت وم. زما کور د ټاپو په اخري سر کې و، د سمندر شور نه یواځې ۵۰ متره لرې، د دوه لوړو بنګلو تر منځ چې شاید دولس زره نه تر پنځه لس زره پورې د سیزن کرایه وي. یو اړخ ته اوږد برج، مرمرین د لامبلو حوض او ۱۲ هکتاره ځمکه کې یو چمن او بڼ پروت و. دا د ګیټس بي ماڼۍ وه او ریښتیا ما خو لا تر اوسه ګیټس بې نه پېژنده. په دې ماڼۍ کې په دې نوم یو ښاغلی اوسېده. زما کور بدرنګه کور و خو وړوکې و او په بره پروت و، د سمندر اوبه او د ګاونډي نیم چمن ترې هم ښکاریده.

د خلیج نه بلې غاړې سپین ښایسته څراغونه په اوبو کې ځلیدل او د اوړي تاریخ د هماغه ماښام نه پیل شو چې زه ډوډۍ خوړلو لپاره د ټام بکنین کور ته لاړم. ډیزي زما لرې خپلوانو کې راتله او ټام مې د کالج دورې نه پیژنده او د جګړې نه وروسته مې یواځې دوه ورځې هغې سره شیکاګو کې تېرې کړې وې.

د هغې خاوند یو نامتو پولو لوبغاړی و او که ووایو چې ملي څېره وه. یو د هغه اشخاصو نه چې د هغوی محدود لیاقت داسې یو ځای ته ورسیږي چې پایله کې هر څه مخ په ښکته روان شي. د هغه کورنۍ ښه شتمني درلوده، د کالج په مهال یې هم پیسو ته چندان اهمیت نه ورکاوه. خو اوس هغه شیکاګو نه راغلی دی او دلته په ختیځ کې په څنګه فیشن ژوند تېروي؟ ستاسو ساه ګانې به بندې شي، لکه د مثال په ډول، هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د پولو لپاره واړه بالونه د شیکاګو نه راغوښتل، په دې حقیقت به سترګې پټول وي چې مونږ وو ایو چې زمونږ په نسل کې دې یو څوک دومره شتمن شي.

دوی ولې شیکاګو ته راغلي وو، په دې زه خبر نه وم. بې له کومې وجې یې یو کال فرانسه کې تېر کړ او بیا دلته راغلل او د شتمنو سره د پولو لوبې کوي او خپل ساعت تېروي. ډېزي راته په ټیلیفون ویلي و چې دلته مونږه پاخه راغلي یو، خو زما پرې یقین نه وو. زه د ډېزي زړه نه نه وم خبر خو ټام راته معلوم و چې په یوځای کې ډېر وخت نه پاتې کیږي.

یو ماښام نری باد لګیده، د ټاپو ختیځې برخې ته د یو زوړ ملګري او لرې خپلوان چې ما ډېره پیژندګلوي هم ورسره نه لرله، لاړم. دا مانۍ چې ما څومره فکر کاوه د هغې نه ډېره ښایسته وه، چې د خلیج بلې لورې نه به سپینه او سره ښکاریده. چمن د سمندر د غاړې نه شروع او تقریبا څلور سوه متره تر کوره او بیا پکې بڼونه رانغښتل شوي وو، د چمن شاخوا خښتې نه جوړ پیاده رو او په منځ کې تاکونه هم وو. د کور مخه د ماسپښین باد په لور خلاصه وه او ټام د آس زغلولو جامې اغوستې، چاکې پښې برنډه کې ولاړ و.

هغه د کالج دورې نه بدل شوی و، متکبر انداز، غټه خولۍ او دوه تاره ویښته په تندي کې، یو دیرش کلن سړی و. دوه ځان ستایونکې سترګې یې په مخ کې له ورایه ښکاریدې. د ښځو په څېر آس زغلونکي جامو یې هم هغه مغروره څیره نه شوه پټولای. هغې یو ډبل اواز درلوده چې د خبرو پر مهال غیر اخلاقي لهجې په څیر څرګندیده. کرکه او چاته په ټیټه سترګه کتل ورته د پلار نه پاتې وو. په کالج کې هم ډېرو ورنه له دې کبله کرکه کوله.

"داسې فکر مه کوه چې په دې باره کې زما پرېکړه نهایي ده، ځکه یو



له تا نه او تاسو ډېرو نه پیاړوې یم" هغې به دا خبره ډېرو ته کوله. مونږ په یوه ټولنه کې راغټ شوي وو خو زه هیڅ د هغې په څېر نه وم.

مونږ د یو څو شېبو لپاره برنډه کې خبرې وکړې.

- دلته مې ډېر ښه ځای پیدا کړی. هغه سترګې په بې صبرۍ هاخوا دیخوا اړولې. د برنډې اخر سر پورې یې بوتلم او بیا یې په مودبانه لهجه وویل؛ دننه به لاړ شو !

دننه کړکۍ نیمه خلاصې وې، نری باد د کړکیو نه راننوته او کوټه کې دننه پردې چې د یو کونج نه بل کونج ته اوږدې شوې وې د سمندر د اوبو په څېر څپې یې وهلې. یوائینی شی چې په کوټه کې ساکن و هغه یو کوچ چې دوه جینکۍ پرې بې خاره پرتې وې. هغوی دواړو سپینې جامې اغوستې وې. زه باید د یو څو شېبو لپاره ولاړ وی او د پردو اوازونه او په دیوال نښتې تصویر ننداره مې کړې وی. ټام شاتنۍ کړکۍ بنده کړه. کوټه کې ارامي شوه، پردې، قالینې او دوه پیغلې په ورو په فرش راښکته شوې.

هغه کشره یو څه نااشنا ماته ښکاره شوه. هغه په صوفې سر تر سره پرته وه، پرته د کوم حرکت، زنه یې بره خواته لکه یو څه یې چې پرې ایښې وي او نه غواړي وغورځي. هغې زه د سترګو په کونج کې وکتم خو هیڅ ځان یې راباندې پوه نه که. ما خو له ځان سره هغې نه ښښنه هم وغوښتنه تر څو زه یې مزاحم شوی نه یم.

هغه بله انجلۍ ډېزي وه، هغې د راپاڅیدو کوښښ کاوه، صوفه کې کیناسته او یوه وړه زړه راښکونکې خندا یې وکړه، ما هم وخندل او کوټې ته وردننه شوم.

- زه د خوښۍ نه بې هوشه کیږم.

هغې بیا وخندل، زما لاس یې یوې شیبې لپاره ونیو، زما په لور یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکتل او بیا داسې لکه ماته چې وایي په دنیا کې د بل هیڅ پېښي په لیدو دومره خوشاله شوې نه ده. هغې په غیر مستقیمه توګه ماته هغه جینۍ را وپېژنده چې بیکر نومېږي. ما اوریدلي و چې د ډیزي په ورو خبرې دې لپاره کوي تر څو خلک ځان خواته مایل کړي.

په هر حال د اغلې بیکر شونډې وخوځیدې او ماته یې پخیر راغلی د سر په خوځولو وویل. یو ځل بیا د معذرت ټکی زما په ژړه کې تیر شو.

ما یو ځل بیا ډیزي ته وکتل، هغې په خوږ او ورو غږ زما نه پوښتنې کولې. دا هغه غږ و چې غوږونه ځان سره بره ښکته کوي، د هغې غږ د خبرو یوه سلسله ده یانې که وانه وریدل شي نو بیا به هیڅکله وانه وریدل شي. د هغې مخ خفه معلومیده خو ښایسته او سپین و، ځلیدونکې سترګې او سپینه خوله، خو د هغې په غږ کې یو شوق پروت و، که څوک یې پروا کوي نو په مشکله به هغه غږ هیر کړای شي.

ما هغې ته وویل چې دلته راتګ نه مخکې یو څو ورځې شیکاګو کې پاتې شوم او څومره خلکو ورته خپلې مینې رالیږلې دي،

- هغوي ما پسې خفه ول؟ هغې د خوښۍ نه وویل.

- ټول ښار بې خونده وو، ټولو خلکو د موټرو شاتنې ټیرونه د خفګان له کبله تور کړي ول او یو اوږد مهال خفګان ټول ښار په سر اخستی و.

- څومره ښایسته! راځه چې بیرته لاړ شو. ټام! او بیا یې بې ربطه وویل، «راځه زما ماشوم وګوره!»

- زه به ډېر خوښ شم.

- هغه ویده ده. هغه درې کلنه ده. تا تر اوسه نه ده لیدلې؟

- نه!

- ښه نو ته یې باید وګورې.

ټام چې په کوټه کې یې په بې صبرۍ قدم واهه، زما خواکې ودرېد او



زما په اوږه یې لاس راکیښود:

- نن سبا څه کې بوخت یې؟

- زه د بانډ سړی یم.

- چا سره؟

- ما خو د دوی نوم ندی اوریدلې.

بحث پای ته رسولو په څېر یې وویل: زه دې په دې خبره ناکراره کړم.

ما هم په لنډه توګه ځواب ورکه

- خبر به شې. که دلته پاتې شې.

- زه همدلته پاتې کیږم، غم مه کوه. هغه په یو څرک کې ډیزي ته او بیا ماته وکتل لکه د یو څه باره کې چې خبرداری ورکوي.

- زه به د خدای کم عقل یم چې بل ځای کې اوسیږم.

په دې وخت کې آغلې بیکر وویل؛ بالکل....

زه یې په خبره حیران شوم، دا د هغې لمړی حرف و چې د خولې نه یې راووت او په ریښتیا چې څومره زه حیران شوم هغومره هغه هم حیرانه شوه. هغې اسویلی وویست، ستوماني یې وباسله او په ځای ودریده.

- زه ستړی یم، خدای خبر زه د کله نه په دې صوفه پرته یم؟ هغې په ګیله من انداز وویل.

- ماته مه ګوره! درته مې وویل چې نن ما سپښین به لاړ شو نیویارک ته. ډیزي ورته وویل.

- نه. ډېره مننه! هغې یو څو تازه انګور میز د پاسه قاب نه را واخیستل؛ زه اوس د ټریننګ په حال کې یم.

کور به ورته وویل:

- ته بالکل په ټریننګ کې یې. ټام خپل ګیلاس په میز کیښود: هغه څه چې تا تر سره کړي زما نه ډېر لرې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما بیکر ته وکتل چې هغې به کوم داسې کار کړی وي، هغې ته کتلو نه مې خوند اخیسته. نرۍ وه، وړې سینې او راوتلی بدن درلود ،ه لکه تر اوسه د هیڅ کوم سړي لاسونو نه وي لمس کړي، خپل بدن یې د اوږو نه شاته غورځولو و ، لکه د عسکري ښوونځي زده کونکي په څېر، چې د هر چا توجه یې ځانته راجزبوله. د هغې خړ رنګه سترګو یو ځل بیا زما په لور وکتل خو دا ځل مودبانه او د یو څو پوښتنو سره، ښایسته مخ کې یې د خفګان نښې هم ښکاریدې. ما ته داسې ښکاره شوه چې ما پخوا چیرته لیدلې ده او یا مې ددې کوم انځور لیدلی دی.

- ته په غربي جزیره کې اوسیږې؟، زه هلته څوک پیژنم.

- زه هلته هیڅوک...

- ته باید ګیټس بي وپیژنې.

- ګیټس بي ! کوم ګیټس بي؟" ډیزي ځان پوهول غوښتل.

وړاندې تر دې چې زه ووایم هغه زما ګاونډي دی، د ډوډۍ لپاره اواز وشو. ټام په غیر طبیعي ډول زما په اوږه لاس کیښود او زه یې له ځان سره روان کړم. هغوی دواړو لاسونه یو د بل په کوناټو ایښي او مونږ ورپسې ګلابي رنګه برنډې ته لاړو. د برنډې مخه د لمر غورځیدو ته وه، په میز باندې د څلور شمعو رڼا نري باد څپانده کولې.

- دا شمعې ولې ایښې دي؟ ډیزي نیوکه وکړه او په خپلو ګوتو یې مړې کړې.

- په راتلونکي دوه اونیو کې به د کال اوږده ورځ وي. هغې په خوښۍ ټولو ته وکتل؛ آیا تاسو د کال اوږدې ورځې ته انتظار کوئ او بیا ورپسې خفه یې؟ زه خو یې انتظار کوم او چې تیره شي بیا ورپسې خفه یم.

- مونږ باید یو پلان جوړ کړو. بیکر اسویلې وکښ، په میز کیناسته



داسې لکه د خوب تیاری چې نیسي

- سمه ده، څنګه پلان به جوړ کړو؟ خلک څنګه پلان جوړوي؟ ډیزي زما په لور داسې وکتل چې د خوښي رایه به ورکړم، وړاندې تر دې چې زه ځواب ورکړم، د هغې سترګې به خپلې وړې ګوتې شوې.

- وګوره ! ژوبل شوه.

مونږ ټولو وروکتل، د ګوتې بند یې شین او تور شوی و.

- دا تا ژوبل کړه، ټام ! زه پوهیږم چې تا داسې نه غوښتل خو ژوبله دې کړه، دا هغه څه و چې ما د یو غټ سړي سره واده کولو نه تر لاسه کړل، یو غټ، لوی وحشي سړي نه...

«- دا د وحشي لفظ په ما ډیر بد لګیږي، که څه هم په ټوکو کې وي. ټام د خبرو منځ کې راټوپ کړل.

- وحشي... ډیزي بیا تکرار که.

کله کله به ډیزي او بیکر په یو ځای خبره کوله، دا به د هغوی طنزیه خبرو یوه بیلګه وه چې د هغوی د سپینو جامو او ښایسته سترګو په څیر یوه نمونه وه. هغوی دواړو زه او ټام په خپله مودبانه ساعت تیرۍ کې شریک کړي وو. په دې پوهیدلې چې لږه شیبه وروسته به ډوډۍ وخوړل شي او دا ماښامنۍ به پای ته ورسیږي. دا ځای د غرب نه بیخي بیل و، دلته به ماښام شیبه په شیبه ډیر زر پای ته رسیده.

ما د موضوع بدلولو لپاره د پرمختګ باره کې خبرې شروع کړې خو ټام پکې ځان راځای کړ او د څومره کتابونو نومونه یې واخیستل او لګیا شو. د هغې په خبرو کې بې ځایه دلایل تر سترګو کیدل. په همدې وخت کې د ټیلیفون غږ راغی، د مزدورانو مشر دننه لاړ تر څو ټیلیفون ته ځواب ورکړي، ډیزي زما په لور راکږه شوه:

- زه به درته یو کورنې راز ووایم، د مزدورانو د مشر د پوزې باره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، غواړې چې پوه شې؟
- زه خو راغلی یم چې ستا خبرې واورم!
- ښه نو دا د مزدورانو مشر چې و په نیویارک کې یې د نقرې پاکولو کار کاوه چې دوه سوه کسانو ته د نقرې پاکولو دنده یې لرله. هغې به سهار نه تر ماښامه کار کاوه، تر دې چې پوزه یې پکې داسې شوه.

یوه شیبه وروسته لمر د هغې ځلیدونکې مخ ته مخه ښه ووېل. د هغې غږ زه مجبورولم تر څو بې ساه اخستلو د هغې خبرو ته غوږ شم. د لمر رڼا د هغې د مخ نه داسې په نه زړه روانه وه لکه مازیګر کې یو ماشوم د لوبو کوڅې نه وروسته خپل کورته روان وي.

د مزدورانو مشر دننه راغی او ټام ته یې په غوږ کې څه ووېل، ټام لږ غوندې نا خوښی شو، خپله څوکۍ یې په زوره شاته کړه او پرته د څه ویلو دننه لاړ. د ټام نه شتون لکه ډیزي چې ناخوښه کړه، ډیزي زما په لور راکړه شوه، د هغې غږ لکه سندره چې وایي، راته ووېل:
- زه ډېره خوښه یم چې ته دلته راغلی یې. تا ماته یو ګلاب... یو په زړه پورې ګلاب رایاد کړ، همداسې نده؟

هغې بیکر ته د تایید لپاره وکتل.
- یو په زړه پورې ګلاب؟

دا خو سمه نه وه، زه هیڅ د ګلاب په څېر نه وم. هغې پرته د فکر کولو دا ووېل، د هغې په بدن کې یو نا کراره خوځښت رامنځته شوی و، لکه زړه یې چې غوښتل بهر راووځي او هغه پټې خبرې ټولې ووایي. بیا یې ناڅاپه لاسپاک په میز کېښود او دننه لاړه.

ما او بیکر یو بل ته په سترګو کې وکتل، ما څه ویلو ته ځان تیار کړ خو هغې د خبرداری په توګه په شونډو ګوته کېښوده، ----شش...

یو ورو غوندې پس پسک دننه نه اوریدل کیده او بیکر دروازې ته



غوږ ورنږدې کړ تر څو څه واوري.

«- هغه ګیټس بي چې تا نوم واخسته، هغه زما ګاونډي دی.
- ته خبرې مه کوه، زه دا خبرې واورم، چې څه شوي؟
- ولې څه خبره ده؟ما ترې وپوښتل
- ته دا وایې چې نه یې خبر؟ ما فکر کاوه چې ټول به خبر وي. حیرانه شوه
- زه نه یم خبر!
- ټام نیویارک کې یوې ښځې سره لاره لري.
- ښځې سره لاره لري؟ ما د ځان پوهولو لپاره خبره تکرار کړه، بیکر یواځې سر وخوځاوه. ما غوښتل چې ځان پوه کړم خو د بوټانو ټک ټک سره هغوی دواړه راووتل.
- داسې وخت نه شي تېریدې؟ ډیزي مکرجنه ژړا پیل کړه.

د یو څو شېبو لپاره مې بهر ته کتل:
- ډېر عشقي موسم دی او یوه سندره ویونکې مرغۍ مې هم ولیده، ډېر خوږ غږ یې و، عشقي وو کنه ټام!
- ډېر عشقي» هغې په ناخوښۍ دا ووېل، بیا یې اوږده کړه؛ که ډوډۍ نه وروسته رڼا وه نو لاړ به شو د آسونو ځای ته.

دننه نه یو ځل بیا د ټیلیفون زنګ راغی، ډیزي سر د نا په خوځولو د ټام د آسونو خبره هم پای ته ورسیده، اصلا ټولې خبرې تیت شوې. د پنځه دقیقو لپاره د شمعې لمبې په حرکت وې او ما هم د شمعې په رڼا کې سترګې خښې کړې وې. زه نه پوهیدم چې ډیزي او ټام د څه باره کې فکر کوي. د څو شیبو لپاره حالات د پوښتنو نه ډک ول.

د آسونو خبره بې موخې منځ ته راغلې وه او بیا ځلې یاده هم نه شوه. ټام او بیکر پاڅیدل او کتابتون ته روان شول. ډیزي هم پاڅیده او زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې ورروان شوم. د څو دهلیزونو نه تېر بهرنۍ برنډې ته ورسیدو. په توره تیاره کې چې د لرې نه یواځې رڼا ښکاریده، په لرګینه څوکۍ څنګ په څنګ کېناستو.

هغې خپل مخ دواړه لاسونو کې ونیو، د هغې په مخ کې ځورونکي احساسات ښکاریدل، ما فکر وکړ چې د وړې لور باره کې ترېنه پوښتنه وکړم خو بیا مې مناسبه ونه ګڼله؟

هغې ناڅاپه وویل: مونږ یو بل ډېر نه پیژنو کنه، نیک؟. که څه هم نږدې خپلوان یو خو ته زما واده ته رانغلې.

- زه د جګړې نه نه وم ستون شوی.

- دا خبره دې منم خو زه ډېره ستونزه کې وم او په هر چا بې باوري وم. د هغې خفګان پر ځای و، زه منتظر وم خو هغې نور څه ونه ویل. د هغې د لور نه پرته بل را سره د خبرو کولو لپاره نه و.

- لور به دې خبرې کوي، او ګرځي راګرځي که نه؟"

- هو ! هغې ماته وکتل، یوه خبره درته وکم نیک ! ته خبر یې چې هغه پیدا شوې وه ما څه ویل، غواړې درته ووایم؟

- ولې نه..مهرباني !

- د هغې د پیدا کیدو لا یو ساعت نه وو پوره او خدای خبر ټام چیرته و. زه د ډېرو ګډو وډو سوچونو سره راپاڅیدم او نرسې راته وویل چې انجلۍ پیدا شوې، ما سر کیښود او ښه مې وژړل. ما ویل سمه ده چې انجلۍ ده، هغه به هم یوه کم عقله وي. کم عقلې جونې هسې هم په دې دنیا کې ډېرې دي، یوه وړه ښایسته کم عقله ! هر څوک هم دا فکر کوي او هغه ډېر پر مختللي خلک هم. د هغې سترګې راډکې شوې. د ناخوښۍ خندا یې وکړه؛ زه څومره مغلقه یم، خدایه زه څومره مغلقه یم !

د هغې غږ مات غوندې شو، زه یې اړ کړم تر څو خپل پام ترې بل ځای



ته یونسم. زه یې نا کراره کړم او دا ماښامنې ماته یو چل غوندې ښکاره شو تر څو زما احساسات پکې راوپاروي. زه انتظار وم، هغې ماته وکتل، د هغې په مخ کې هماغه د پیغلتوب غرور پټ و. په داسې یوه راز نه ډکه ټولنه کې هغې خپل او د ټام شتون فرضي ګڼل.

په توره کوټه کې سور رنګه څراغونه لګیدلي، ټام او بیکر د یو کوچ په دواړه څنډو ناست او بیکر ورته په لوړ غږ ناول لوستنه. په کوټه کې د هغې غږ انګازې کولې داسې لکه څوک چې سندرې زمزمه کوي. د سرو څراغونو رڼا د ټام په بوټانو کې ځلیدله او د بیکر د خزان د پاڼو په څیر زیړ ویښتان یې روښانه کړي وو، د هرې ورقې په ختمیدو یې په خپلو نازکو ګوتو ورقه بل لورې ته اړوله. کله چې مونږ راننوتو د خپل چپ لاس په اشاره یې مونږ ته د چپ وویل.

- په راتلونکې کې به جریان ولري. دا یې وویل او مجله یې د میز په سر وغورځوله. خپل لاسونه یې د زنګنونو په سر کیښودل او پاڅیده.

- لس بجې دي او اوس به دا ښه انجلۍ لاړه شي او ویده به شي.

- جورډن بیکر به سبا ته په ټورنمنټ کې لوبیږي ډیزي وویل.

- ښه...ته جورډن بیکر یې؟

زه اوس پوه شوم چې هغه ماته څنګه اشنا ښکاریده. ما د هغې باره کې ډېرې کیسې اوریدلې وې، په دې کې بې خونده او بحراني کیسې هم وې خو ماته یوه هم نه وه یاده.

- ښه شپه ! ! هغې په نرم غږ وویل. ما اته بجې راپاڅوه !"

- که ته پاڅیږې نو !

- بالکل پاڅیږم ! ښه شپه ښاغلې نیک کیروې، بل وخت بیا ګورو !

- بالکل به ورسره وګورې !. ډیزي د هغې خبره تایید کړه. فکر کوم یو واده تیار کړو، دلته بیا کله کله راځه، زه غواړم تاسو دواړه په زوره سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ځای کړم. تاسو دواړو به کاټني پسخانه کې بند کړم او یوه کښتۍ کې به مو سمندر کې خوشې کړم، بس دغه شان ساعت تیري به وکړو.

- ښه شپه، ما خو هیڅ وانه وریدل. بیکر زینو ته په ختو کې وه. شیبه وروسته ټام وویل.

«هغه ډېره ښه انجلۍ ده، هغوی باید دلته یواځې نه وه پرېښې.

- چا باید نه وه پرېښې؟» ډیزي په پوښتنیز ډول وویل.

- د هغې کورنۍ !

«د هغې کورنۍ کې یوه سل کلنه ترور ده، خو ځه نیک به یې خیال ساتي کنه، که څنګه نیک؟ هغه به ټول اوړی د رخصتۍ په ورځو کې دلته راځي.

- زه فکر کوم کور کې اوسیدل به ورته ښه وي. ټام او ډیزي یوې شیبې لپاره د سترګو په کونج کې یو بل ته وکتل.

- هغه د نیویارک ده؟ ما زر وپوښتل

- هغه د لیوزویلي ده. زمونږ دواړو ماشومتوب یو ځای تیر شوی دی، زمونږ ښایسته ماشومتوب...

- تاسو دواړو خو برنډه کې زړه خواله سره وکړه. ټام وویل.

- ریښتیا ! زما خو څه نه یادیږي. ډیزي ماته وکتل، ما به پکې څه ویلي و. یو څو شیبې وروسته مې د تلو تکل وکړ. هغوی راسره تر دروازې راووتل، ما خپل موټر چالان کړ، ډیزي په تادۍ راغږ کړ:

- لږ ودریږه !

- ما نه هیر شوي و چې تا نه پوښتنه وکړم، مونږ اوریدلي و چې تا کوژده کړې ده. ټام هم د هغې خبره تایید کړه.

- هو مونږ دري کسانو نه اوریدلي دي، دا باید سم خبر وي.

زه پوهیدم چې دوي ولې دا خبرې کوي. ختیځ ته راتلو سره دا خبره



ما پورې تړل شوې وه. ما داسې انګیرله چې زما په راتلو به ډیزي غیږ کې ماشوم او خوشاله زما مخې ته راشي، او ټام خو نیویارک کې نورو ښځو سره لاره درلوده.

ګرمي نیمایي ته رسیدلې وه، د هغوي کور نه راووتم. د لارې په سر د پټرولو پمپ سرو او شنو څراغونو روښانه کړی و. کله چې خپل ځای ته ورسیدم، موټر مې د خپل وړوکې کرایي کور په موټر تمځای کې ودراوه او بهر راووتم. د یوې شیبې لپاره د کور مخې چمن کې ناست وم. باد خپل زور ازماوه، ونو هم خپل مقاومت ښوده خو تر منځ یې پاڼو چغې سورې وهلې. زه یواځې نه وم. پنځوس شپیته متره لرې د ګاونډي د بنګلې په کوټه کې یو کس ولاړ و. په ځیر مې ورته وکتل، خپل دواړه لاسونه یې د پطلون په جیبونو ننباسلي وو. د هغه د دریدو انداز نه داسې ایسیدله چې همدا ګیټس بي وي.

ما غوښتل هغې ته ورغږ کړم. آغلې بیکر د ډوډۍ پر مهال د هغې نوم اخیستی و، ما غوښتل ځان ورسره معرفي کړم. خو ما ورغږ نه کړ. هغې جیب نه لاسونه راوویستل او د تورو اوبو په لور یې اشاره وکړه، زه ترې لرې وم خو زه پوهیدم چې هغه ریږدیده. ما هم د هغې په اشاره اوبو ته وکتل خو د یو شین څراغ پرته چې د اوبو هغه بله خوا و، نور هیڅ نه تر سترګو کیدل. ما یو ځل بیا ګیټس بي ته وکتل، خو هغه تللی و او زه یو ځل بیا د شور نه ډکه تیاره کې یواځې پاتې شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

د نیویارک او غربي جزیرې تر منځ لاره کې د رېل پټلۍ او خام سرک د پخوا زمانو انځورونه راښودل. دا سیمه تقریبا ټوله تشه وه. دې ته د ایرو دره ویل کېده. په ریښتیا هم لکه یو صنعتي ځمکه، د بټیو لوګو نه ډکه، هر ځای کندې او نه ختمیدونکې د ایرو او لوګو نه ډکه هوا وه. دوړو او سترګیا نه ډک مخونه یې وو، چې مزدورانو به په ګرانه یو بل پیژندل او په خپلو کارونو به بوخت ول. په خوا کې تیریدونکو مسافرو به تر نیم ساعته د ایرو درې زړه بوږنونکې سیمې ننداره کوله. دلته یو وړوکی د ریل تمځای هم و، په همدې ځای کې می د ټام او د هغه یاره هم لیدلې وه.

که څه هم ټام ماته د هغې باره کې ډېر څه ویلي و خو ما بیا نه غوښتل چې ورسره وګورم. یو ماسپښین له ټام سره په ریل موټر کې نیویارک ته روان شوم. د ایرو درې ته په رارسېدو سره یې په روانه کې ریل موټر نه ټوپ کړه.



- راځه راپسې، زه غواړم زما جینۍ سره وګورې.

ما فکر کاوه چې یو ښه ځای ته مې بوځي خو د یکشنبې ماسپښین و، بل څه پلان مې نه درلود، که نه ټام سره زه چیرته راتلم.

زه ورپسې شاته روان وم، د ریل پټلیو نه لږ لرې د سپینو کټارو نه ور تېر شو، هلته یو ودانۍ وه، چاپیره تری د زیړو خښتو وړوکی دیوال هم و، د درې دوکانونو نه یو د هوټل دپاره و چې ټوله شپه به خلاص و، یو خالي و او دریم د موټرو ګراج (جورج بی ویلسن، د موټرو پیرل او پلورل)، زه ټام پسې همدلته ورننوتم. دننه ماحول ډېر ګډوډ و، یو زوړ فورډ موټر په کونج کې ولاړ و چې دوړو یې رنګ ورک کړی و. په دې کې د اپارتمان څښتن دفتر نه راووت، خپل لاسونه یې سره موښل. هغه سپین، کمزوری، بی پروا او یو څه ښایسته و. هغې مونږ ولیدو، راروان شو، آبي سترګې یې له ورایه ځلیدې.

- سلام ویلسن، کاروبار څنګه دې؟ ټام ورته خوشالۍ نه په اوږه لاس کیښود.

- شکایت نشم کولای، کله رابانديې موټر خرڅوې؟ ویلسن لکه قناعت چې یې تر لاسه نه کړ.

- راتلونکې اونۍ ته، زما سړي پرې کار کوي.

- کار یې ډېر ورو ندی روان؟ دا ولې؟

- نا هغه سست ندې، که ته داسې فکر کوې نو زه به یې په بل چا وپلورم. ټام ورته په ارامه ځواب ورکه.

- زما د خبرې مقصد دا نه و، ما یواځې غوښتل ووایم... ویلسن د خبرې صفایي ورکوله، د هغې غږ همداسې پسې ورک شو او ټام ګراج کې هاخوا دیخوا کتل. لږه شیبه وروسته زینو کې د ټک ټک غږ سره یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیرش کلنه ښځه رابښکاره شوه، هغه لږه چاغه وه، توربخن لباس یې پر تن و، خو ښایسته ښکاریده او ډېر په ناز هم راروانه وه. هغې نرۍ موسکا وکړه، د خپل خاوند خوا نه داسې تیره شوه لکه هیڅوک چې نه وي ولاړ، ټام سره یې د لاس سترې مشي وکړه، په سترګو کې یې ورته وکتل. ما سره یې هم په دوه ګوتو سترې مشي وکړه او راکتل یې هم نه، په خپلو شونډو یې ژبه تیره کړه او بیا یې خپل خاوند ته وکتل، په نرمه لهجه یې ورته وویل:

- څوکۍ خو راوړه، چې یو څوک خو پرې کیني.

- هو ولې نه. ویلسن خبره واوریده او رهي شو، د ویلسن ښځه ټام ته ورنږدې شوه.

- زه غواړم درسره وګورم، زمونږ پسې بل ریل موټر کې راځه! ټام ورته په غوږ کې وویل.

- سمه ده! هغې سر وخوځاوه او لرې ودریده، په دې کې جورج ویلسن هم دوه څوکیو سره رابښکاره شو.

د جولایي څلورمه نیټه وه، مونږ ورته لاندې په سرک ولاړ وو، یو ماشوم ریل پټلۍ باندې ناهیلی ناست و، پیشو یې غېږ کې نیولې وه.

- ډارونکی ځای دی کنه؟

- ډېر بد ځای دی.

- هغې ته دا ښه ده چې دا ځای پریږدي.

- ولې د هغې خاوند څه اعتراض نلري؟

- ویلسن؟ هغه فکر کوي چې میرمن یې نیویارک ته خپلې خور کره ځي. هغه بیرا دی، بیچاره په دې هم نه دې خبر چې هغه ژوندی دی.

زه، ټام او د هغې جینۍ درې واړه نیویارک ته روان شوو، د ویلسن



ښځې نرۍ تنګ کارټني لباس په تن و چې پلن کوناټي او د بدن هر اندام پکې له ورایه ښکاریده. سټیشن کې یې یو اخبار او یوه رنګینه مجله هم رااخیسته، او بل دوکان نه یې آیس کریم او یو څه خوشبوی هم رااخیسته.

- زه غواړم ددې سپیانو نه هم یو واخلم، زه غواړم یو ځان سره کورته یوسم، یو وړوکې کوکری، ډېر خوند کوي.

زوړ سړي ټول سپي په پنجره کې بند کړي وو.

- کومې نمونې لري؟ آغلې ویلسن ورنه وپوښتل

- هره نمونه راسره شته، ستاسو کوم پکار دی، آغلې؟

- زه غواړم پولیسي سپې واخلم، زه پوهیږم هغه نه لري.

زوړ سړي پنجرې ته په ځیر وکتل، لاس یې ورننویسته او یو کوکری یې د څټ نه راونیو.

- دا خو پولیسي ندی. ټام وویل.

- نه پولیسي ندی خو د همغې په څېر به وي. زوړ سړي په ناهیلۍ ځواب ورکه.

- رینښتیا هم څومره ښایسته دی. دا په څو دی؟ آغلې ویلسن وپوښتل.

- همدا سپی؟ دا په لس ډالره دی.“سړي په خوښۍ ځواب ورکه. آغلې ویلسن تری کوکری واخیسته، په ملا یې ورته لاس ووهه بیا یې وپوښتل.

- دا نر دی که ښځه؟

- دا سپې؟ دا خو نر دی. سړي وویل.

- بس مردار سپی دی، دا واخله پیسی او لس دانې پرې نور واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټام یې خبرې ورختمې کړې. لږ وړاندې چې لاړ ما وویل،

- صبر وکړئ، زه همدلته ښکته کیږم.

- نه، ته دلته نه شې ښکته کیدای. د مارټل زړه به خفه شي که څنګه مارټل؟

- اووه...، ما خپلې خور کیټرین ته ټیلیفون کړی، هغه هم اپارتمان ته راځي، هغه خو مې تا لپاره راغوښتې ده. مارټل د مشورې په څېر وویل.

- ښه زه به ډېر خوښ شوی وم خو..."ټام په خپله خبره کلک ولاړ و، زه مجبور ورسره لاړم، عجیبه غوندې اپارتمان و، وړه کوټه، وړه اشفزخانه او وړوکی تشناب او هر څه تنګ تنګ. په دې ځای کې مې په خپل ژوند دوهم ځل لپاره شراب وڅکل بلکې په زوره رابانديې وڅکل شول، ما بیا هم کوښښ وکړ چې تر څو له دې ځای نه لاړ شم خو ټام او کیټرین پرېنښودم. ټام خو اغلې ویلسن( مارټل) سره بلې کوټې ته لاړ، کیټرین راسره خواکې کیناسته، زما په اوږه یې لاس کېښود، یوه پښه یې زما غیږ کې کېښوده.

- ته هم غربي جزیره کې اوسیږې؟

- هو !

- ښه... یوه میاشت وړاندې هلته یو محفل ته تللې وم، هغه محفل یو سړي جوړ کړی و، ګیټس بې نومیده، ته یې پیژنې؟

- هو، زما ګاونډي دی.

- ښه، خلک وایي د کایسر جرمني وراره یا بل څه خپلوان دی، ځکه دومره ډېرې پیسې لري.

- رینښتیا...

هغې سر وخوځاوه. کوټه د لوګو نه ډکه وه. هر ځای د شرابو بوتلونه،



یو نیم کس به ته بل به راننوته، بیا هغه څه وشول چې کیدونکې ول. که څوک یې د ژوند خوند بولي او که څوک یې د لوی ګناه په څیر ارزوي. نیمه شپه وه، د ټام او اغلې ویلسن غږونه رالوړ شول.

- زه به یې نوم اخلم، ډیزي...ډیزي...ډیزي...

ټام د غوسې نه په سوک ورته پوزه ووهله، هر ځای وینې پرتې وې، اغلې ویلسن بد رد وویل. زما شپه همداسې په بې خوبۍ تېره شوه. بهر راووتم او د څلورو بجو ریل ته کیناستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ریم څپر کې

د ګرمۍ په شپو کې د ګاونډي د کور نه د تیزې موسیقۍ غږونه راتلل. د هغې د کور په شنو چمنونو کې انجونې، هلکان، سړي او ښځې د پتنګانو په څیر د شمپین شرابو بوتلونه په لاس کې نیولي وو تلل راتلل. د ماسپښین مهال کې به ځینې میلمنو د سمندر غاړو کې یو نفري کښتۍ ځغلولې او څوک به د ساحل په غاړه لمر ته په شګو سر چپه پراته وو، لنډه دا چې هر چا څه غوښتل هغه یې کول. د ګرمۍ شنبې او یکشنبې رخصتیو ورځو کې به دا محفل د سهار د نهو نه پیل تر نیمې شپې پورې دوام موند. د دوشنبې په سهار به اضافي صفاکاران راوبلل شول تر څو د تېرې شپې ورانکارۍ ترمیم، د چمنونو نه چټلې صفا کړي، لنډا دا چې دا کور یو ځل بیاد پخوا په څیر صفا او د راتلونکې اونۍ میلمنو ته تیار وي.

د هرې جمعې ورځ به پنځه غټ کارټنه نارنجان او لیموان د نیویارک نه راوړل کېدل او دوشنبه به همدغه د نارنجانو او لیموانو پوستکو



ډېرې د کور مخې ته پراته وو. هلته دا سې یو ماشین و چې د یوې بټنې په فشار کولو سره به یې یو اځې نیم ساعت کې تر دوه سوه لیموانو نه جوس جوړاوه او دا بټن تر دوه سوه ځله ډېر د اشپزانو د مشر له خوا کیکاږل کېده.

هر دوه اونۍ وروسته به یو ډله خلک د کافي اندازه رنګ ډېو، رنګینه څراغونو سره راتلل تر څو د ګیټسبي کرسمس ونه پرې سینګار کړي.

د محفل پر مهال به د میزونو په سر هر رنګه خواړه، نیمه پخ شوې سورخې غوښه، د فیلمرغ غوښې نه نیولې تر رنګینه سلادونو پورې هر څه اېښودل شوي وو، خلکو به په خپله خوښه هر څه راخیستلای شوو. منځنی صالون د موسیقۍ ډلې ته ځانګړی شوی و، ډېری میلمانه به پیغلې وې چې د شرابو ګیلاسونه به یې لاس کې نیولي و، یوې بلې خوا تلل.

شاوخوا اووه بجې د موسیقۍ ډله راورسیده، ورسره شپیلۍ، واړه غټ ډولونه، دوه درې قسمه ستارونه او د سندرو لپاره هر رنګه الات موجود و. ځینې نور د سمندر غاړې لمبلو نه وروسته په زینو بره روان وو، تر څو جامې بدلې کړي، نو یو میلمنو خپل موټر پارک کول. هر ځای خنداګانې او د مستۍ چغې وهل کیدې. بهر چمن کې میزونو باندې رنګارنګ میوې اېښودل شوې وې، هلک او جینۍ چې په لمړي ځل به یې یو بل همدلته لیدل، په یو کونج کې ناست یو بل سره خبرې کولې او خنداګانې به یې کولې.

د لمر پرېوتو سره څراغونه ورو ورو روښانه کېدل، سازکونکو هم نرمې سندرې پیل کړې، خنداګانې پسې زیاتیدې. خلک لا راروان وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول راغلي خلک یواځې کوربه ته نه بلکې یو بل ته هم نا اشنا وو، محفل نو نور شروع شوی و.

هیڅوک مې نه پیژندل، بې موخې یوې بلې خوا ګرځیدم. خو بیا مې هم هڅه کوله تر څو کوربه پیدا کړم. دوه درې کسانو نه مې پوښتنه وکړه خو هغوی برندې برندې راته کتل او اورې به یې پورته اچولې. چمن کې میزونو باندې ایښودل شویو میوو خواته لاړم، دا یواځینی ځای چیرته چې یواځې دریدل بې موخې یا یواځې نه ښکاریدل.

زه همدلته ولاړ وم، چې دننه نه آغلې جورډن بیکر په مرمرینو زینو کې ودریده، لږه په شا لاړه او بیا یې چمن ته بې خونده نظر وکتل.

- ښه راغلاست به ورته ووایم که نه، خو بیا هم یو څوک خو مې پیدا کړ چې ورسره پیژنم.

- هیلو ! ما په زوره ورغږ کړ او د هغې خواته وروان شوم.

- ما فکر کاوه چې ته به همدلته یې. ما ته یاد ول چې ته همدلته اوسیږې او دلته به راځې. هغې زما لاس ونیو لکه چې وایي کوربه توب دې نور زه کوم. دوه جینکۍ د آغلې بیکر خواته ودریدې، ورته یې وویل:

- وبخښه... تا ونه ګټله !"اغلې بیکر تیره اونۍ کې د ګولف پایلوبه بایللې وه.

د جورډن بیکر نرم لاس زما په لاس کې و، دواړه زینو نه راښکته او د چمن په لور لاړو، څوکیو کې کیناستو، خوا کې درې سړي او دوه جینکۍ هم ناستې وې، دوی د ګیټسبي باره کې وویل چې ګیټسبي نه غواړي هیچا سره ستونزه ولري. یوې جینۍ ویلې چې هغې کوم څوک وژلي. یو بل پکې ویل چې د جګړې په موده کې د جرمنیانو جاسوس و، هر چا د ګیټسبي باره کې خپل نظر ورکاوه او د محفل په هر کونج کې د



هغې باره کې پس پسک روان و.

- راځه ووځو."بیکر راته په غوږ کې وویل، ما هم دا غوښتل ځکه نیم ساعت مې هسې تېر شو. مونږ پاڅیدو، هغې ویل راځه کوربه پیدا کړو. هغې ویل تر اوسه یې ګیټسبي سره نه دي لیدلي، زه هم نور بې صبره شوی وم.

مونږ د ګیټسبي په لټه شو، هغه برنډه کې نه و، دننه هم نه تر سترګو کیده، کتابخانې ته لاړو، دننه د ګونګې سترګو والا یو پوخ عمر کتابخانې مشري په غاړه لرله، یوه شیبه مو کتابونو کې تیره کړه.

ښه شیبه ووته، زه لا بیکر سره وم، زما ساعت لږ تېر شو، بیرته بهر راووتو، ما هم ځان سره وړوکي ګیلاس شمپین شراب راخیستي و، یو سړي راته د لرې وکتل او موسکی شو او خواته مې راغی.

- ستا څیره راته اشنا ښکاري، د جګړې په موده کې ته په پنځمه فرقه کې نه وې؟ هغه ډېر په مودبانه لهجه رانه وپوښتل.

- ولې؟ هو... زه په اته ویشتم پیاده ځواک کې وم.

- زه شپاړسم کې وم، د ۱۹۱۸ جون میاشتې پورې. زه پوهیدم چې ته مې چېرته لیدلی یې.

یوه شیبه مو د فرانسې ځینو زړه بوږنونکو سیمو باره کې خبرې وکړې. خبرو کې یې راته دا هم وویل چې همدلته اوسیږي او یو ښایسته موټر هم لري، او سهار ته یې پکې د چکر وهلو بلنه هم راکړه.

- غواړې راسره پکې چکر ووهې؟

- کله؟

- هرکله چې ستا زړه وي، زوړیاره ! همدا مهال مې ترې د نوم پوښتنه کوله چې بیکر راغله او موسکۍ شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ساعت دې تیر دی نو. هغې وویل.
- مخکې نه بهتره. ما یوځل بیا خپل نوي ملګري ته مخ واړوه.
- دا محفل ماته غیر عادي ښکاري. ما لا تراوسه کوربه نه دی لیدلی، زه هم هلته او سیږم.

ما خپلې جونګړې ته اشاره وکړه،

- او دا سړی، ګیټس بي نو میږي ماته یې بلنه راکړې او اوس خپله نشته.

د یوې شېبې لپاره هغې ماته داسې کتل لکه چې پوه شوی نه وي.

- زه ګیټس بي یم ! هغه ناڅاپه وویل
- څه؟ اوه... ډېره بخښنه غواړم ! ما ورپسې زر وراضافه کړه.
- ما فکر کاوه تاسو ما پیژنئ، زوړ یاره ! زه ویریږم لکه چې یو ښه کوربه ثابت نه شوم. هغه موسکی شو، یانې هر څه یې درک کړي و، دهغې موسکا کې چې ډېر کم خلک یې لري یو راحت بخښونکې راز پروت و، چې تراوسه به مې خپل ژوند کې څلور پنځه ځله لیدلې وي. د هغې عمر څه د پاسه دیرش کاله و. د هغې هره خبره د خوند او ادب نه ډکه وه. که چیرې یې ځان راته معرفي کړی هم نه وای نو کیدای شي زه ورنه ډېر متاثره شوی وای، د خولې نه راوتلې هره خبره یې د احتیاط نه ډکه وه.

یوه شیبه تېره نه وه چې د کارکونکو مشر راغی او ګیټس بي ته یې غوږ کې وویل:

- شیکاګو نه ټیلیفون دی.

هغه سر لږ ټیټ کړ، ښښنه یې وغوښته.

- هر څه چې مو اړتیا وي، ویلی شې، زوړ یاره ! وبښئ زه لږ



وروسته بیا راځم.

هغه چې لاړ زر مې مخ بیکر ته واړوه، تر څو خپلې حیرانتیا باره کې ورته ووایم. ما فکر کاوه چې ګیټس بي به یو چاغ او ځان ښودونکی سړی وي.

- هغه څوک دی؟ ته خبره یې؟
- هغه بس یو سړی دی چې ګیټس بي نو میږي.
- هغه د کوم ځای دی؟ هغه څه کار کوي؟
- اوس نو تا ته ښه موضوع په ګوتو درغله، یو ځلې یې راته چا ویلې و چې اکسفورډ کې یې درس ویلی دی. هغې دا خبرې په پیکه موسکا کولې. د هغه ماضي شخصیت ماته تت غوندې ښکاره شو خو بیا یوه شبېه کې بدل هم شو، ځکه هغه وویل.
- خو زه پرې باور نه لرم. بیکر وویل.
- ولې باور نه کوې؟
- زه نه یم خبره، بس زه فکر کوم چې هغه اکسفورډ ته هیڅ تللی ندی. هغې په خپله خبره ټینګار وکړ. ددې نه ماته د هغې بلې انجلۍ خبره رایاده شوه چې ویلې یې؛ زما په فکر څوک یې وژلې. زما په فکر کې نورې پوښتنې هم راوټوکیدې. ما به د ګیټس بي باره کې دا خبرې په اسانۍ منلې وی ایا دا هر څه د منل کیدو وړ هم و، لږ تر لږه زه په دې خپلې نا څه تجربه ویلی شم چې ځوان خلک داسې نه کوي چې د یو نا معلوم ځای نه راشي او په داسې ځای کې دیره شي.
- په هر حال هغه ډېرې ستر محفلونه جوړوي. جورډن بیکر وویل. هغې موضوع بدلول غوښتل.
- او زما داسې محفلونه ډېر خوښ وي، ورو محفلونو کې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیت ساتنه نه کیږي

د ډول نه یو غټ ډنګ پورته شو او ورپسې سندرغاړي چغې شروع کړې، ویل یې د ګیټس بي په غوښتنه سندره وایي او بیا یې نور څه وویل تر څو خلک مست کړي، سندره یې پیل کړه.

ما یو ځل بیا ګیټس بي ولید، مرمرینو زینو کې یو اځې ولاړ او هرې یوې ډلې ته یې بیا بیا کتل. هغه تازه ښکاریده، لنډ ویښته لکه هره ورځ یې چې مشین کوي، څیره یې زړه راښکونکې وه. ماته خو داسې ګناهګار سړی ښکاره نه شو. سندره چې ختمه شوه، ځینو ښځو د سړیو په اوږو سرونه ایښي، ځیني جینکۍ د هلکانو په غیږ کې د خوښۍ نه بې حسه پرتې وې.

- ښښنه غواړم! د ګیټس بي د کارکونکو مشر ناڅاپه زمونږ مخې ته ودریده..

- آغلې بیکر! بخښنه غواړم، ښاغلې ګیټس بي غواړي تاسو سره یو اځې وګوري.

- ما سره؟ بیکر په حیرانۍ وپوښتل.

- هو آغلې!

هغه په ورو پاڅیده، ماته یې وکتل خپلې وریځې یې په حیرانۍ پورته واچولې او سړي پسې د بنګلې په لور روانه شوه. ما ولیدل د هغې د شپې لباس پر تن و، د هغې په هر خوځښت کې یوه خوښي او خوند پروت و داسې لکه ښایسته سهار کې چې په لمړي ځل یې د ګولف په چمن باندې قدم وهل زده کړي وي.

زه یو اځې وم، تقریبا دوه بجې وې، دننه لاړم، شا خوا مې وکتل د ډېرو ښځو خپلو میړونو سره لانجې روانې وې.



د کتابخانې مخې ته ولاړ وم. دننه نه ګیټس بي او بیکر یو ځای راووتل. ګیټس بي ورته راوتو کې څه ویل خو ډله خلکو ګیټس بي ته خدای پامانۍ لپاره نژدې راغلل او خبره یې نیمایي کې پاتې شوه.

د جوړډن بیکر ډله هم جوړډن ته منتظر وو او غږونه یې ورته کول، تر څو یو ځای بیرته لاړ شي. هغې ویل

- ما ډېر څه په زړه پورې واوریدل. زه څومره وخت دننه وم؟ ماته یې غوږ کې وویل.

- نیم ساعت، ولې؟

- ډېر په زړه پورې خبر دی، خو زه یې درته نه وایم، ځوروم دې پرې. هغې اسویلې وویست.

- مهرباني وکه راشه، ما سره وګوره... کتابچه...د آغلې هاروړډ په نوم... د هغې بیړه وه، په نیمایي خبرو یې پوه نه شوم.

که څه هم ما په لمړي ځل په دې محفل کې ګډون کړی و، خو زه تر ډېره ناوخته هلته پاتې شوم. زه د ګیټس بي د اخرني میلمنو د جملې نه وم، کوم چې د هغه شاوخوا راټول شوي وو. ما وغوښتل تر څو هغې ته روښانه کړم او ښښنه تري وغواړم چې هغه ما نه و پیژندلی.

- ذکر کول یې اړین نه دي، هیڅ خبره نه ده زوړ یاره! هغې په ډېرې لیوالتیا ښښنې نه منع کړم. د بیا ډاډ راکولو لپاره یې خپل لاس زما په اوږه کیښود.

- او هیر دې نه شي، سبا سهار چکر ته وځو. یو ځل بیا د کارکونکو مشر راښکاره شو، خپله زنه یې د هغې اوږې ته نژدې کړه،

- فیلاډیلفیا غواړي تاسو سره خبرې وکړي، ښاغلیه!

- سمه ده، یوه دقیقه کې درځم، هغوي ته ووایه زه بیرته راځم... ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه.

- ښه شپه.

- ښه شپه. هغه موسک شو ، ښه شپه، زوړ یاره... ښه شپه !

زینو نه راښکته شوم، ومې کتل چې محفل لا ختم نه دی. دروازې نه تقریبا پنځوس متره لرې، لسګونه موټرې ګډ وډ ولاړ دي، څراغونه یې روښانه دي، خلکو یو شور ماشور جوړ کړی و ، د سړک غاړې لښتي کې د یو نوي ماډل موټر مخکې ټیر پروت و او موټر کوږ ولاړ و ، لسګونه خلک ترې راچاپیر وو ، د ځینو موټرچلونکو لاره چې بنده وه هغه ځای نه به یې چغې وهلې او هارنډونه به یې وهل او یو غالمغال یې جوړ کړی و.

یو سړي چې اوږده چپنه یې اغوستې وه، موټر نه راښکته شو ، په سړک ودرید او موټر ته یې په ځیر وکتل.

- وګورئ، دا خو په لښتي کې غورځیدلی. هغه خلکو ته ویل، خلک موټر چلونکي ته په غوسه وو.

- که موټر نه شې چلولې خو مه چلوه، د شپې پرې چل زده کوې. هغه بل ویل

- خودکوشي دې کوله. ښه ده چې یو ټیر ترې وتلی دی. موټر چلونکې ویل،

- موټر زما دې خو ما نه چلوه. ځینې نور هم خپلو موټرو نه راښکته شوو ، پیغلو د ډېر شرابو څښلو او اوږدو سینډلو له کبله سم دریدل هم نه شوکولای. د موټرو هارنډونه وو چې یو بد حال یې جوړ کړی و.

په دې کې یو بل اوقي غوندې راغی، دواړه لاسونه یې په تشو کیښودل، ویې پوښتل؛

- څه خبره ده؟ تیل پکې ختم شوي دي؟ دوه درې کسانو موټر ته



اشاره وکړه، هغه یوځل د موټر بیل شوي ټیر ته اوبیا بره وکتل لکه د اسمان نه چې راپریوتی وي. بیا یې وویل چې موټر چالان کړو او په شا به یې بوځو ، یو ورته وویل؛

- ټایر یې نشته نو څنګه یې شاته بوځې؟ اوقي بیا وویل.

- خو ځئ یوه هڅه خو به وکړو. په دې کې د شور او هارنډونه نور هم زیات شوو. زه هم د صحنې نه ووتم، یو ځل می شاته وکتل، د ګیټسبي کور د سپوږمۍ په رڼا کې د محل په څیر ښکاریده، دهغې په کور کې عجیبه ناڅاپي خاموشي خوره شوې وه، خپله زینو کې ولاړ و او خلکو ته یې د خدای پامانۍ لپاره لاسونه خوځول.

***

ډېر وخت به مې کار کاوه. سهار وختي به کار ځای ته تلم. راسره کار کونکي مې هم یوائې په لمړي نومونو پیژندل. د غرمۍ ډوډۍ به مې هغوی سره په یو بیروباري هوټل کې خوړله، څه د غرمې ډوډۍ وه خو بس کوفته شوې غوښه، جوش کړي الوګان او قهوه به وه. جرسي ښار کې مې یوې جینۍ سره یارانه هم جوړه کړې وه خو د هغې ورور منځ کې خنډ شوی و ، د جولای په میاشت کې په رخصتۍ لاړه، ما هم پړی پرې سست کړ.

نیویارک ښار مې یوڅه خوښ شوی و ، زه به اکثره پنځم واټ لاره باندې پیاده تلم، په لاره به مې خیال کې یو څو ښځې ځان سره ملګرې کړې او خپل تصور کې به د هغوی ژوند ته ورننوتم. کله کله به په خیال کې همدې ښځو پسې د هغوي کورونو پورې لاړم، هغوی به کور ته ننوتو نه مخکې راوکتل او موسکۍ به شوې. دا هر څه زما د یوائیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکارندوی وې، د نورو کارکونکو هم زما په څير حال و، تر ډېره به هسې د کړکۍ مخې ته ولاړ وو، بيا به تير مازيګر د ډوډۍ په بهانه له کار ځايه راووتل او د خپل ژوند دردونکې شيبې به يې ضايع کولې.

يو څه وخت لپاره مې جورډن بيکر سره هم نه و ليدلې. بيا مې د ګرمۍ نيمايي کې وليدله. په لمړي سر کې ماته ځان داسې غوره مال ښکاريده، چې هغې سره يو ځای لاړ شم ځکه هغه د ګولف لوبې اتله وه او هر چا پيژندله. خو دلته يو څه نور وو، په حقيقت کې زه مين نه وم، د خلکو پر وړاندې د هغې سلوک داسې مغرور غوندې و. جورډن بيکر به اکثره د هوښيارو خلکو نه ډډه کوله. ځاني بې اعتباره وه. هغې داسې هيڅ نه شو زغملای چې د هغې پکې تاوان وي. زما په فکر خپل احساسات نه ښکاره کوي. دنيا والو ته يې خپلې بدغونې موسکا سره خپلو غوښتنو او ځان ښودونکې بدن ته قناعت ورکاوه. خو ما ته يې هيڅ فرق نه کاوه. بې اعتباري داسې شی نه دی چې يو سړی دې پرې ښځه ملامته کړي. ما دا هر څه هغه وخت درک کړه کله چې مونږ يو ځای د يو محفل نه راتلو او هغې موټر چلاوه. په لاره کې يې د مزدورانو خواکې موټر دومره نږدې وځغلاوه چې د هغې سړي کورتۍ زمونږ د موټر بانټ باندې ولګيده.

- دا څنګه موټر چلوې؟ يا خو بايد ډېر احتياط وکړې او يا هيڅ موټر ونه چلوې.

- زه احتياط کوم!

- دا څنګه احتياط دی؟

- ښه... نو دا نور خلک دې احتياط کوي.

- دا نو څنګه خبره شوه.



- هغوی احتياط کوي او زما موټر مخې ته نه راځي، او د يو ټکر کيدو لپاره بايد دواړه خواوې بې احتياطه و اوسي. هغې خپله خبره باندې ټينګار کاوه.

- کيدای شي تا هم د ځان په څير کوم سړي سره وخت تير کړی وي.

- زه اميد لرم چې هيڅکله نه، بې پروا خلک مې ډېر بدې شي، نو ځکه خو ته راباندې ګران يې.

د هغې خړ رنګه سترګې په سرک وې، خو هغې زمونږ دواړو اړيکې ته نوم ورکړ. د يوې شېبې لپاره مې فکر کاوه چې زه پرې مين شوې يم. خو زه هر کله په ارامه مغزو فکر کوم او زما دننه قانون زما د خواهشاتو لپاره د خنډونو په څير کار کوي. په اونۍ کې يو ځل به مې ورته ليکونه هم ليږل او لاندې به مې ورته ليکل، (په مينه... نيک)

هر يو کس په ځان کې دننه يو حقيقي ښه والی ګوري او زما دا ؤ.

زه د ګوتو په شمېر ايماندارو خلکو د جملې نه يم، تر کوم حده چې ماته ځان معلوم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

د جولايي مياشت سهار نهه بجې وې، د ګيټس بي ښايسته موټر زما د کور په دروازه په تيزۍ راننوته او درې غبرګه هارنونه يې شروع کړه. دا لمړی ځل و چې هغه زما خواته راغی که څه هم ما يې يوائې دوه محفلونو کې برخه اخستې وه. ماته يې خپل موټر کې د چکر وهلو بلنه هم راکړې وه.

- سهار په خير. زوړ ياره ! د غرمې ډوډۍ به نن ما سره خورې او زه فکر کوم يو ځای به لاړ شو. د هغه هر يو انداز د يو بې جوړې شخصيت څرګندونه کوله. د هغې دغه خاصيت په متواتره توګه د هغې محتاط خوی له کبله چې د بې کرارۍ په شکل کې پروت و، ماتيده. خپل موټر کې ناست و، هغې ځای نه يې په خوښۍ راکتل،

- ښايسته دی کنه، زوړ ياره؟ تا مخکې دا نه و ليدلی؟"هغه د موټر نه راښکته شو، يوائې ما نه بلکې هر چا ليدلی و، طلايي زيړ رنګ، د نکل پواسطه روښانه شوی، دواړه خواوو ته پلن شوی او اوږد شوی اود



هر چا نظر راښکونکې پرانستی موټر و.

په تېره مياشت کې مې ورسره څلور پنځه ځله ليدلي و، هغه لږ غږيده، زما په لومړي ځل ليدلو، هغه د نه تعريف کيدونکې ځانګړتياو څښتن و، خو وروسته زما په اند لږ تت شوی، اوس هغه يو ساده سړی، زما ګاونډي د يو محل څښتن و.

او بيا د زحمت نه ډک چکر پيل شو، ګيټس بي خپلې خوږې خبرې پيل کړې، د خبرو په منځ کې به يې خپل ورون په څپيړه هم وهه. هغې په منځ کې دا خبره راواچوله؛

- ګوره زوړ ياره ! زما باره کې ستا څه نظر دی؟ په هر حال ما غوښتل د پوښتنې ځواب ته عموميت ورکړم، لږ فکر کې شوم. وړاندې تر دې چې ځواب ورکړم.

- ښه... زه به درته ځان باره کې يو څه ووايم. زه نه غواړم زما باره کې کوم غلط نظر ولرې. نو هغه لکه چې د خيالي تهمتونو نه خبر و، کوم چې به ډېری وخت د هغه محفلونو پرمهال خلکو خپلو منځو کې پرې بحثونه کول.

- په خدای زه به درته ريښتيا خبره وکړم، منځني لويديځ کې زه د شتمنې کورنۍ ځوی يم. اوس ټول مړه دي. بيا امريکا ته راوستل شوی وم، خو خپل تعليم مې اکسفورډ کې تر سره کړ ځکه زما ټول نيکونه تعليم يافته وو. تعليم کول زمونږ د کورنۍ يو دود دی.

هغه ماته مخ راواړوه او ويل يې؛ زه پوه شوی وم چې ولې جورډن بيکر په دې باوري وه چې هغه دروغ وايي. هغه اکسفورډ کې تعليم کولو خبره ډېره په تيزۍ وکړه او يا يې بيخي تېره کړه، داسې لکه مخکې يې هم دا خبره مزاحم شوې وه او په دې بې باورۍ کې د هغه ټولې خبرې تيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې.

- د منځني لوديځ د کومې برخې يې؟ما ترې سمدلاسه وپوښتل.

- سن فرانسسکو.

- ښه...

- زما د کورنۍ ټول غړي مړه شوو نو ځکه ټوله شتمني ماته پاتې شوه."د هغې غړ کې رېښتينولي وه، داسې لکه د کورنۍ ټول غړي ناڅاپي د لاسه ورکول يې اوس هم ځوروي. يوې شيبې لپاره شکي شوم لکه زما پښه چې کشوي خو هغې ته يوځل کتلو سره مې قناعت ترلاسه کړ.

- هغې نه وروسته زه د يو ځوان راجا په څير د اروپا په ټولو هيوادونو کې ګرځيدم او د سرو زرو، غوره ډول ياقوت، لويو لوبو ته تلل، يو څه رسامي او دا هرڅه زما د ځان لپاره ول او کوښښ مې کاوه تر څو د پخوا نه راپاتې خفګان پرې هېر کړم.

د هغه په خبرو زما باور نه و، ځکه مې ځان هغه پسې خندا نه راقابو کړ.

- بيا نو جګړه پيل شوه، زوړ ياره. دا نو زما لپاره يوه هوسايي وه او د زړه نه مې غوښتل چې پکې مړ شم، خو بيا ماته ښکاره شول چې دا خپل خوړ ژوند تېر کړم. جګړې ته په ورتلو سره لومړی بريدمن شوم. د ارګونا په ځنګل کې چې زمونږ ليوا کې څومره سلا وه، ما راواخسته او همداسې پرې مخکې لاړم، زمونږ او دښمن تر منځ يوائې نيم مايل فاصله وه، هلته پياده عسکر نه شو ورتلای. هلته مونږ دوه ورځې او شپې پاتې شوو، مونږ ۱۳۰ عسکر او شپاړس ليوس ټوپکې وې. او کله چې پياده ځواک راغی نو د دريو جرمني فرقو ټول عسکر وژل شوي وو.



نو بيا يې ماته د تورن رتبه راکړه او هر يو متحد دولتونو ماته مډالونه راکړه اوله کې د هغه خبرې راته دروغ ښکاريدې خو اوس يې راته خوند راکاوه. هغې خپل جيب ته لاس کړ او يو ګلابي رنګ او سپنيزه ټوټه يې زما ورغوي کې کيښوده.

- دغه مډال د مونټې نګرې حکومت له خوا راکړل شوی دی.

زه حيران شوم، دغه شی خو په رېښتيا هم فوق العاده او اصل ښکاريده. ګرد چاپيره د دايرې په شکل پرې ليکل شوي ول، (مونټې نګرې نيکولس ريکس).

- هغه بل مخ يې وګوره !

- تورن جي ګيټس بي، د فوق العاده کارنامو لپاره. ما ولوستل.

- دلته يو بل شی دی چې زه يې له ځان سره تل ساتم، د اکسفورډ د ورځو يادابنت، چپ لاس ته ولاړ سړي نوبل جايزه ترلاسه کړې وه.دا يو انځور و، بې شميره ځوانانو سپورټي لباس په تن و، عکس کی ګيټس بي هم و، خو وړوکي او ځوان ښکاريده او يو د کرکټ بيټ يې لاس کې نيولی و.

اوس دا هر څه ماته رېښتيا ښکاره شول، د هغې په کور کې مې د پړانګانو څرمنې ليدلې وې، الماری کې دننه ياقوت او لعلونه يې راته هم ښودلي وو. د هغه زړه ناکراره او مات شوی ښکاريده.

- نن در نه يوه غټه غوښتنه لرم. هغه وويل، خپل يادګاري عکس يې جيب کې ننويست.

- نو ما فکر وکه چې ته بايد زما باره کې پوی شې، زه نه غواړم زما باره کې داسې فکر وکړې چې زه هيڅ شی وم يا يم، زه د نااشنا خلکو ترمنځ راګير يم، نو ځکه کله دلته کله هلته، زه غواړم خپل تېر خفګان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې هیر کړم. نن ماسپښین به زما خفګان نه خبر شې.

- غرمې ډوډۍ کې؟
- نا ماسپښین، زه خبر شوی یم چې ته آغلې بیکر سره کله کله چایو ته وځې.
- ته دا ویل غواړې، یانې ته آغلې بیکر سره مینه لرې؟
- نه زوړ یاره ! زه میېن نه یم. خو آغلې بیکر به تا سره د موضوع په اړه خبرې وکړي.

زه هیڅ پوی نه شوم چې د (موضوع په اړه) خبرې نه د هغه مطلب څه و، خو زه د لیوالتیا نه ډېر وارخطا شوم. ما آغلې بیکر ددې لپاره نه وه بوتلې چې زه ورسره د ګیټس بې باره کې خبرې وکړم. زه ډاډمن وم چې د هغې غوښتنه به په زړه پورې وي خو شیبه وروسته زه په دې پښېمانه وم چې ما ولې د هغه ګنه ګوڼې کور کې پښه ایښې وه. هغه نور هیڅ ونه ویل، مونږ د ایرو درې نه تېرېدو کې و، یو نظر مې آغلې ویلسن هم ولیده. موټر ډېر په سرعت روان و، د هوایي پل سره تېرېدو کې یو موټر سیکل ډوله شی زمونږ د موټر مخکینۍ کونج سره یوځای شو، یو ترافیکي پولیس پرې سپور و.

- سمه ده زوړ یاره ! سرعت به لږ کم کړو. خپلې بټوې نه یې سپین کارت راوویست او د پولیس مخې ته یې ونیوه. پولیس هم سترګې ځیر کړې،
- ښه تاسو یې، بل ځل به مو پېژنم، ډېر وبخښئ، ښاغلي ګیټس بې ! پولیس وار سره سر وخوځاوه، خپله ترافیکي خولۍ یې په احترام لږه ټیټه کړه او خپله مخه یې ونیوله.
- دا څه و؟"ما وپوښتل.



- کمشنر سره مې یوځل ښه کړې و او اوس راته هر کال د کرسمس کارت رالیږي.

د پل نه ښار داسې ښکارېده لکه په لومړي ځل چې ورته ګوري او د دنیا ښایست همدې ښار کې راټول شوی دی. کله چې د بلیک ویلې جزیرې نه تېرېدو، یو لیمو ډوله موټر زمونږ خواکې تېرېده، موټروان سپین موټر چلونکی لباس پر تن و، شاته درې ستایلش توریان او ورسره یوه جینۍ ناسته وه. ما په زوره وخندل، هغوی مونږ ته داسې بد راکتل لکه د هغوی د موټر سیالي چې مو ورخرابه کړې وي.

غوریدونکې غرمه وه، د ګیټس بې د غرمنۍ اراده وه. یوځای ته ورننوتو،

- ښاغلي کیروې ! دا زما ملګرې ښاغلي وولف شیم دی.

یوه شیبه مې وولف شیم سره خبرې وکړې. ګیټس بې هم بل خوا تللی و، بیا راغی.

- دیخوا وګوره، زوړ یاره ! نن سهار مې لکه چې په غوسه کړې او بیا یې هم هماغه موسکا وکړه.
- زما راز او پټ شیان نه خوښیږي. زه پوی نه شوم چې ته ولې ماته د یو ملګري په څېر هر څه روښانه نه وایې، ولې دا هر څه آغلې بیکر پورې تړې؟
- اوه...داسې څه خاص خبره نشته، آغلې بیکر یوه لوبغاړې ده او ته پوهیږې هغه به هیڅکله داسې کوم کار ترسره نه کړي چې هغه غلط وي.

ناڅاپه یې خپل لاسي ساعت ته وکتل، پاڅید، زه یې وولف شیم سره پرېښودم

- هغه چاته زنګ وهي، راځي. وولف شیم دا وویل او هغه پسې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاته کتل.

- ښه سړی دی کنه؟ ښایسته هم او ځوان هم.
- هو...
- هغه... اکسفورډ کې درس ویلی.
- ښه...
- د اکسفورډ کالج نوم خو دې اوریدلی کنه؟
- هو... نوم مې اوریدلی.
- د نړۍ نامتو کالجونو نه یو دی.
- ګیتهس بې د څه وخت راهیسې پیژنې؟ ما ترې وپوښتل.
- یو څو کاله کیږي. هغه په قناعت بخش ډول ځواب راکه؛ هغه سره مې د جګړې وروسته وپیژندل او ملګری مې شو. یو ساعت خبرې مې ورسره کړې وې او ما پیژندلی وچې کره نسل سړی دې پیدا کړی.ما ځان سره وویل؛ که دومره دې خوښ وي، نو کور ته یې بوځه او خپلې خور او مور سره یې معرفي کړه.
- زما تاته خیال دی، ته زما د لستونو تنهیو ته ګورې ما یې تنهیو ته نه کتل خو اوس یې ورته زما پام که،
- خالص انساني غاښونو نه جوړې دي.
- ښه...«ما له نږدې وکتل،» ډېر ښه سوچ دې کړی دی.
- هو... خپل لستوڼي یې بډ وهل.
- هو... ګیتهس بې د ښځو باره کې ډېر احتیاط کوي، هغه د خپل ملګري ښځې ته هم نه ګوري. په دې وخت کې ګیتهس بې هم بیرته راغی.

ښاغلي وولف شیم خپله قهوه وڅښله او په یوه جټکه کې پاڅید.

- ما خپله ډوډۍ وخوړه، تاسو دواړه ځوانان ماته اجازه راکړئ.



- څه ناوخته دی درباندې؟" ګیتهس بې ترې بیخونده لهجه کې وویل.

ښاغلي وولف شیم د دعا په څېر خپل لاسونه پورته کړه.

- ته ډېر موادبه یې او زه د یو بل نسل پورې اړه لرم. ته همدلته کېنه، خپلو لوبو باره کې وغږیږه، پیغلې انجونې او... او...زما لپاره، زه خو پنځوس کلن یم، زه به اوس څه تاسو سره ځان برابروم. مونږ ته یې لاس راکړ، خپله نمونه یې پوزه یې کش کړه او لاړ. زه حیران شوم لکه چې ما د هغه باره کې څه بد ویلې ول.
- هغه کله کله ډېر احساساتي کیږي، دا ورځې اوس د هغه احساساتي کیدو دي.
- څوک دی هغه، په هر حال، فلمي لوبغاړی دی؟
- نه
- د غاښونو ډاکټر دی؟
- څوک؟ وولف شیم؟ نه هغه قمارباز دی. هغه زړه نازړه شو او بیا یې په ارامه پسې اوږده کړه،
- دا هغه سړی دی چې د ۱۹۱۹ کال نړیوالې لوبې یې فیکس کړې وې.
- لوبې یې فیکس کړې وې؟ ما د هغه خبره تکرار کړه. زما ښه یاد شي چې ۱۹۱۹کال کې داسې څه پیښې شوي ول. یوه شېبه وروسته مې ترې بیا وپوښتل.
- هغه دا کار څنګه کړی و؟
-"بس هغه موقع نه ګټه اخستې وه.
- نو بیا یې پولیس ولې نه نیسي؟
- هیڅوک یې نه شي نیولای، زوړ یاره! هغه ډېر هوښیار سړی دی. ما تینګار وکه او د ډوډۍ پیسې ما ورکړې، خدمتګار چې زما باقي پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړې، ما ولیدل چې ټام بکنن هم د کوټې نه راووت. ما ګیټس بې ته وویل.

-زه ورځم یو چاته باید سلام ووایم.

کله چې ټام مونږ ولیدو، زمونږ خوا ته په تیزۍ راروان شو.

-ته چېرته وې؟ ډیزي وارخطا وه، تا تر اوسه ټیلیفون نه و کړی.

-دا ښاغلې ګیټس بې دی، ښاغلې ټام بکنن.

دوی په لنډه توګه سره لاسونه ورکړل. د ګیټس بې مخ کې نا اشنا غوندې شرم راڅرګند شو.

-ته چېرته وې. په هر حال، دومره لرې ډوډۍ خوړلو ته څنګه راځې؟ ټام رانه وپوښتل.

-ښاغلې ګیټس بې سره ډوډۍ خوړلو ته راغلې وم.

ما ګیټس بې ته وکتل خو هغه تللې و.

***

د اکتوبر میاشت، ۱۹۱۹ کې جورډن بیکر د پلازه هوټل په څوکۍ ناسته خپله کیسه یې شروع کړه:

-د یو ځای نه بل ځای ته پیاده روانه وم، ما ته به چمن کې ګرځېدو خوند راکاوه. ځکه زما بوټان د انګلستان نه وو، چې په پوخ سرک به اکثره ښویدل، د ټولو نه غټ چمن هغه وخت کې د ډیزي فې په کور کې و، هغه اتلس کلنه وه یو اځې دوه کاله مانه مشره وه. د لیوزویلې د ټولو نه نامتو جینۍ وه. سپین لباس یې پر تن و، یو سپین سپورټي موټر یې هم درلود، په ټوله ورځ کې یو ټیلیفون زنګ راغلی و، یو څو هیجاني ځوان افسران د کیمپ نه راغلي وو. هغوی غوښتنه کړې وه تر څو ډیزي سره په یو اځې وګوري.



کله چې د هغې کور نه تېرېدم، د هغې سپین سپورټي موټر د سرک غاړه کې ولاړ و او هغه یو تورن جنرال سره موټر کې ناسته وه چې ما لا تر اوسه نه و لیدلی. د یو بل خبرو کې داسې ورک وو چې ماته یې هیڅ پام نه و تر څو زه پنځه فوټه ورنږدې شوم.

-سلام جورډن، مهرباني وکه راځه! هغې ناڅاپي وویل،

هغې غوښتل ما سره خبرې وکړي، ځکه د هغې ټولو همزولو کې ما نه ډېره متاثره وه. هغې ما نه وپوښتل که ریډ کراس سره کار کول غواړې، نو زه یې کار ورسره ولای شم هغې ما سره خبرې کولې او ښاغلې افسر د ډیزي خولې ته کتل.

آفسر ورته په داسې انداز کې کتل چې هره پیغله غواړي یو څوک ورته داسې وګوري ما ته هم عاشقانه غوندې چاپیریال ښکاره شو، ځکه تر اوسه مې هغه صحنه یاده ده. د هغې نوم ګیټس بې و چې بیا مې تر څلورو کالو پورې ونه لید. که څه هم ما هغه شپه محفل کې ولید خو ما فکر نه کاوه چې دا دې هماغه سړی وي.

دا مهال نو ۱۹۱۹ کال و، راتلونکې کال لپاره مې څلور رسامۍ هم کړې وې او ټورنمنټ کې مې هم برخه اخستې وه، نو ما به ډېرې وخت ډیزي سره نه لیدل. د هغې باره کې وحشي افواګانې خپرېدې، د ژمي یوه شپه ډیزي خپل سامانو نه ټولول تر څو نیویارک ته لاړه شي او خپل مېین افسر ته خدای پاماني ووایي، مور یې پرېنښوده چې لاړه شي، خو بیا تر څو اونیو پورې یې د کور هیڅ غړي سره خبرې نه وې کړې. بیا یې افسر سره ونه کتل او په سیمه کې هم هاغه ځوانان پاتې ول کوم چې د عسکرۍ جوګه نه وو او هسې خوشې ګرځیدل.

خو راتلونکې مني پورې بېرته خوشاله شوه، لکه د پخوا په څېر خوشاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې اوربند نه وروسته مې واوریدل چې نیو اورلیون کې یو چا سره کوژده کړې، خو بیا د یې د جون په میاشت کې د شیکاګو نه ټام بکنن سره واده وکړ. هغې ډولۍ پسې سلګونه خلک خپلو شخصي موټرو کې راغلي وو او واده لپاره یې د ملباک په نوم د یو هوټل هال هم نیولی و. د واده نه یوه ورځ وړاندې ورته ټام بکنن د ملغلرو یو هار چې درې سوه پنځوس زره ډالره ارزښت یې درلود، ډیزي ته ورکړ.

زه د ناوې ملګرې وم، واده خلکو ته ډوډۍ ورکولو نه نیم ساعت وړاندې د هغې کوټې ته ورغلم. هغه د خپل ګلابي لباس په څېر ښایسته په خپل کټ کې بې خوده پرته وه. هغې یو لاس کې د شرابو بوتل او بل لاس کې یو خط نیولی و. هغې په ورو وویل،

-ماته مبارکي راکړه، تر اوسه مې شراب نه دي څښلي، خو اوس ترې ډېر خوند اخلم.

-څه خبره ده؟ ډیزي..زه ویریدلې وم او زه ویلی شم چې ما تر اوسه داسې جینۍ نه وه لیدلې. هغه کټ کې کېناسته او د غاړې هار یې وشکوه او د ملغلرو دانې په فرش تیت شوې،

-دا لاندې ویسه، د چا چې وي همغې ته یې ورکړه او ورته ووایه ډیزي خپله پریکړه بدله کړه... ډیزي خپله پریکړه بدله کړه. هغې په ژړا پیل وکړ، هغې ژړل او پسې ژړل یې. زه ووتم او د هغې د مور مزدوره مې پیدا کړه. مونږ دواړو دروازه بنده کړه او هغه مو په یخو اوبو ولمبوله. هغې د ماشومانو په څېر لا خط لاس کې نیولی و، خط یې ځان سره تشناب ته هم یوړ او د لمبلو وخت کې یې لاس کې کلک نیولی او زیبښل شوی و، هغې هغه وخت خپل موټی خلاص کړ چې پوی شوه خط د اوبو سره ټوټې شوی دی او نور د لوستو وړ ندی.



خو هغې نور هیڅ ونه ویل، یو څه یخ مو د هغې په تندي کیښود او کالي مو ورته بدل کړل. نیم ساعت وروسته کوټې نه راووتو، د ملغلرو هار یې غاړه کې پروت او پېښه نوره پای ته رسیدلې وه.

راتلونکی سهار پنځه بجې یې ټام بکنن سره واده وکړ، پرته د کومې لړزې نه، جنوبي سمندر خواته یې درې میاشتینی سفر پیل کړ.

کله چې بیرته راغلل نو ما هغوی دواړه په سانتا باربره کې ولیدل. ما تر اوسه داسې ښځه نده لیدلې چې خپل خاوند سره داسې چلند کوي، که چیرته به هغه د کوټې نه هم بهر وتلو نو هغه به بې کراره کیده او پوښتل به یې؛ ټام چیرته لاړ؟ تر هغې چې به ټام کوټې ته رانتوت نو د هغې حالت به همداسې و.

ډیزي به په شګو کې ناسته او ټام به ورته غیږ کې سر ایښی و، ډیزي به یې سترګې موښلې او هغې ته به یې په خوښۍ کتل. دا وخت د اګست میاشت وه.

راتلونکی اپریل ډیزي وړه لور وزیږوله او یو کال د پاره فرانسې ته لاړل. دوی مې بیا کینز او بیا وروسته ډې ویلي کې هم ولیدل، بیا وروسته شیکاګو ته راغلل. لکه څنګه چې ته خبر یې ډیزي شیکاګو کې ډېره مشهوره وه. که څه هم هلته شتمن او وحشي ځوانان ول خو ډیزي پکې خپل عزت وساته دا ځکه چې ډیزي شراب نه څښل او دا ډېره ګټوره وي چې د شاوخوا شرابیانو منځ کې څوک شراب ونه څښي. او ډیزي هم کوم هلک سره یارانه نه وه جوړه کړې.

نو دادی شپږ اونۍ وړاندې یې د ډېرو کلونو وروسته د ګیټس بي نوم یو ځل بیا واوریده. هغه وخت چې ما درنه د ګیټس بي پوښتنه وکړه، تا ته یاد شي؟ غربي جزیره کې ګیټس بي پیژنې؟ کله چې ته لاړې، ډیزي زما کوټې ته راغلې وه، زه یې له خوبه پاڅولې وم او ما نه یې پوښتلي ول.

-تاسو د کوم ګیټس بي باره کې خبرې کولې؟ زه نیمه ویده وم. هغې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نااشنا غږ کې داسې څه ویل لکه په دې نوم سړی یې چې پیژنده. ګیتس بې هماغه افسر و چې پنځه کاله وړاندې یې دهغې په سپورتي موټر کې ورسره خوا په خوا لیدلی و.

کله چې جورډن بیکر کیسه واوروله نو مونږ پلازه هوټل نه نیم ساعت وړاندې راوتلي وو. لمر هم یوائځې د جګو ودانیو په څوکو کې ښکاریده او د ماشومانو غږونه لکه په چمن کې د چیمچارانو په څېر،

-دا خو ډېر عجیبه تصادف و. ما وویل

-خو دا هر څه تصادفي نه دي

-ولې نه

-ګیتس بې دا کور ځکه اخستی چې ډیزي مخامخ د اوبو هاغاړه اوسیږي

دا یوائځې ستوري نه ول چې هغې خپلې هیلې او غوښتنې ورښوولې، هغه زما مخې ته یو ځل بیا ژوندی راغی، هغه غواړي پوه شي، که ته چیرته ډیزي ته خپل کور کې د چایو یا ډوډۍ بلنه ورکړې او بیا ګیتس بې هلته درشي.

ددې غوښتنې محبوبیت زه ډېر حیران کړم. هغې پنځه کاله انتظار کړی و او یوه بنګله یې اخستې وه. چیرته چې هغې غوښتل د ستورو رڼا د تصادفي پتنګانو په څېر وویني او یو وخت هغه د یو نا اشنا باغ ته لاړ شي،

-آیا دا اړینه وه چې تا ماته دا هر څه ویلي ول تر څو د هغه دومره وړو کې عرض پوره کړم

-هغه ویریدلی دی، هغه ډېر انتظار کړی دی، هغه فکر کاوه چې ته به یې ونه منې.

ذهن کې مې یوه بله پوښتنه وزیږیده،



-هغې ولې تا ته ونه ویل تر څو دا کار وکړې؟

-هغه غواړي چې خپل کور وروښايي او ته د هغه ګاونډی یې. نو ځکه..

بیا یې خلکو نه پوښتنې شروع کړې که څوک ډیزي وپیژني او زه لومړنی کس وم چې هغه وموندلم. ما ورته هماغه وخت وړاندیز وکړ چې زه به یې نیویارک کې کوم هوټل ته بوځم او ته هم هلته راشه هغه راته ویل

-زه نه غواړم هغه هوټل کې وګورم، زه غواړم هم دلته نږدې یې وګورم زما د کور خوا کې. کله چې مې ورته وویل چې ته د ټام ملګری یې او ډیزي ستا خپلوانه ده نو هغه خپله نظریه بدله کړه. هغه ټام دومره خاص نه پیژني، که څه هم هغه به هر وخت د شیکاګو اخبار ددې لپاره اخسته که چیری پکې د ډیزي نوم راڅرګند شي.

نور ما ښام شوی و، د یو وړو کې پل لاندې تېرېدو، ما خپل لاس د هغې د شانه را چاپېر که او د ماښام ډوډۍ مې ورته وویل، نور ما د ډیزي او ګیتس بې باره کې فکر نه کاوه، دا پاک، نرم، محدود شخص چې جهاني شکاکیت سره تړاو لري، کوم شخصیت چې اوس مهال یې ملا زما په مړوند راګیره ده.

-او ډیزي باید خپل ژوند کې څه ولري؟ زما په غوږ کې پس پسک وویل،

-ایا هغه غواړي ګیتس بې سره وګوري؟

-هغه لا نده خبره، او ګیتس بې نه غواړي هغه خبره شي. بس ته ورته د چایو لپاره بلنه ورکړه.

مونږ د ګڼو ونو خوا کې تېر شوو، هغې زما لاسونه کلکول د هغې خفه، سترې او کرکې څیره کې مسکا راغله نو زه ورته نور هم نږدې شوم، دا ځلې د مخ په لور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم څپرکی

په هغه شپه چې کله غربي جزیرې ته راغلم، د لرې مې ولیدل داسې راته ښکاره شوه چې کور مې اور اخستی دی، دوه بجې به وې، د ټاپو هماغه کونج نه د څراغونو شغلې تر سرکه رارسیدلې وې. په کونج کې راتاو شوم چې ومې لیدل د ګیتس بې کور دی، د سر نه تر بیخ پورې یو سپین پړق و. په لومړي ځل لیدو مې داسې وانګیرله لکه چې بیا کوم محفل جوړ دی، یا پکې خلک پټ پټونی کوي او ټول کور د لوبو لپاره تیار شوی دی. خو هلته هیڅ کوم غږ نه و. هلته یواځې باد و چې د ونو سره یې ډغرې وهلې. کله چې زه ټیکسي خپلځای ته رارسولم، ومې لیدل چې ګیتس زما په لور راروان دی، خدای خبر د کله نه به یې زما لاره څارله.

- ستا کور خو ډیر روښانه ښکاري. ما ورته وویل.
- رېښتیا...؟ هغه خپلې سترګې بنګلې ته واړولې؛ ما خو پکې یو څو



کوټو ته کتل، راځه لاړ شو کاني جزیرې ته، زوړیاره! زما موټر کې.

- ډېر ناوخته دی.
- نو بیا راځه یوه شیبه خپل حوض کې ولامبو. په ټول اوړي کې مې پکې نه دي لمبلي.
- زه ځم ویده کیږم!
- سمه ده.

هغه منتظر و، ماته یې په ځیرونکي نظر وکتل. یوه شیبه وروسته مې ورته وویل،

- ما اغلې بیکر سره خبرې وکړې، سبا ته ډیزي ته زنګ وهم او د چایو لپاره ورته بلنه ورکوم.
- اوه... ښه خبره ده! هغه په بې پروایي وویل: زه نه غواړم تاته کومه ستونزه جوړه شي.
- کومه ورځ تا لپاره غوره ده؟
- هره ورځ چې ستا خوښه وي. هغه بیا وویل" زه نه غواړم تاته کومه ستونزه جوړه شي.
- سبا نه بله ورځ څنګه ده؟

هغه یوه شیبه فکر وکړ، بیا یې بې میله وویل: زه غواړم د کور مخې چمن دې برابر کړم.

مونږ دواړو د چمن وښو ته وکتل.

- یوه بله وړه خبره هم ده. هغه زړه نا زړه وویل.
- ولې؟ که ته غواړې یو څو ورځې وروسته به یې راوغواړم.
- اوه... دا خبره نه ده. هغه لالهانده غوندې ښکاریده؛
- ما فکر کاوه...دلته ماته وګوره... زوړ یاره! ته ډېرې پیسې نه ګټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کنه؟

- دومره نه. ددې خبرې په اوریدو لږ ډاډمن شو.

- ما هم دا فکر کاوه، بخښنه غواړم، ته خو ګورې کنه، زه یو وړوکی غونډې تجارت کوم، ته خو پوهیږې کنه، نو ما فکر کاوه چې ته هسې هم ډېرې پیسې نه ګټې...ته باندېونه خرڅوې کنه، زوړ یاره !

- بس خپله هڅه کوم.

- ښه... دا به ستا لپاره ګټوره وي او ستا وخت به هم کم مصرفیږي او پیسې به هم ډېرې وي، دا به زما او ستا ترمنځ وي.

زه اوس پوه شوم، د مختلفو حالاتو تر سیورې لاندې دا مذاکره زما د ژوند یو بحران څرګندوي، خو دا وړاندیز په ښکاره ډول د یو خدمت په بدل کې و. ما سره هم بله لاره نه وه نو د هغه خبرې مې ورپرې کړې.

- زما لاسونه ډک دي، زه درنه ډېر مننډوی یم. خو زه د خپل کار پرته نور څه نشم کولای.

- زه درته داسې نه وایم چې ته وولف شیم سره تجارت شروع کړه.

ما هغه په دې وپوهوه چې خپلې خبرې نه نه اوړم. هغه تر ډېره منتظر واو هیله من و چې زه به بیا خبرې شروع کړم، خو بیا لږه شېبه وروسته مجبور شو او په نه زړه کور ته روان شو.

هغه ماسخوتن زما سر لږ غونډې سپک شو او لږ خوشاله هم وم. زه فکر کوم کوټې ته راننوتو سره په ډوب خوب ویده شوی وم. نو زه نه یم خبر چې ګیټس به کاني جزیرې ته تللی و او که هماغسې ولاړ به یې د خپل کور کوټو ته کتل.

راتلونکې سهار وختي مې دفتر نه ډیزي ته ټیلیفون وکړ او هغې ته مې د چایو بلنه ورکړه.



- ټام ځان سره مه راوله. ما هغې ته خبرداری ورکړ.

- څه...؟

- ټام ځان سره مه راوله.

- ټام څوک دی؟ هغې په معصومه لهجه وویل.

هغه ورځ ډېر تیز باران و، تقریبا د غرمې یوولس بجې به وې چې ډله سړي زما انګړ ته چې باراني کوټونه یې اغوستي وو راننوتل، ګیټس بي مخکې او لس دولس مزدورکاران ورپسې، ګیټس بي خلکو ته لاربښوونه وکړه تر څو وابښه وریبي او د چمن خواوشا سیمې صفا کړي. هغه بیرته لاړ. ماسپښین دوه بجې وې، د ګیټس بي له خوا د چایو اړوند بې شمیره لوښي راوړل شول. یو ساعت وروسته دروازه په زوره پرانستل شوه او ګیټس بي وړین ټوکر نه جوړه دریشي، نقره یي شرټ، طلایي نیکټایي غاړه کې، ترور دننه راننوت. د هغه رنګ سپین تښتیدلی و او په مخ کې یې د بې خوبۍ نښې له ورایه ښکاریدې،

- هر څه خو سم دي کنه؟ هغه زر وپوښتل.

- هو، ستا خلکو ښه کار کړی دی. چمن یې هم ښه برابر کړی دی.

- کوم چمن؟ هغه زر وپوښتل... ښه... ستا د کور چمن. هغه د کړکۍ نه بهر وکتل، خو هغه ته په کتلو راته داسې څرګندیدله چې هیڅ نه ګوري.

- ډېر ښه ښکاري. هغه بیا په نا اړونده توګه وویل؛ یو اخبار کې ویل شوي چې کیدای شي باران تر څلورو بجو ودریږي، تا هر څه تر لاسه کړي؟ د چایو لپاره خو ټول لوازم پوره دي کنه؟ هغه مې د لوښو خونې ته بوته. بیا مونږ یو ځای د خوړو دوکان ته لاړو او هغې نه مو لیموي کیک راواخیست.

- دا به بس وي کنه؟ ما وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دا د کیسل ایکرنټ یو راز دی، خپل موټر چلونکي ته ووایه چې لاړ شي او یو ساعت وروسته درپسې راشي.

- فرډي ! یو ساعت وروسته راشه !

مونږ دننه لاړو، دننه یوه درنده او حیرانونکې صحنه رامنځته کیدونکې وه.

- ښه نو... دا ډېره خندونکې خبره ده !

- څه شی خندونکی دی؟

هغې مخ راواړوه، په کې دروازه هم وټکیده، زه دروازې ته ورغلم، ګورم چې ګیټس بی ولاړ دی، په شاته دروازه بیرته بهر تللی و، رنګ یې مړګونی سپین تښتیدلی لکه هیڅ وینه چې ونه لري. خپل لاسونه یې د کوټ په جیبونو کې ننباسلي او باران لوند خیشت کړی دی. زه مخکې هغه راپسې دهلیز ته راننوت، لا یې زړه نه ښه کاوه چې کوټې ته ننوځي. په زوره مې دننه ولیږه، ما د دهلیز دروازه بنده کړه ځکه باران بیا زور اخستی و.

تر یوې شیبې پورې هیڅ خبرې نه وې شوې بیا مې نرۍ پس پسک واوریده، زه هم دهلیز کې بې موخې ولاړ وم. زه هم دننه ورغلم.

ګیټس بې لا تر اوسه لاسونه جیب کې ننباسلي، دیوالي بخاري د پاسه الماری باندې یې ډډه وهلې ولاړ و. هغې خپلو پښو ته کتل. سر یې راپورته کړ تر څو یو نظر ډېزي ته وګوري. الماری په سر ایښودل شوې ساعت یې سر سره ټکر شو او لاندې راوغورځید، په خپلو لړزیدلو لاسونو یې د نیولو ناکامه کوښښ وکړ.

- مونږ مخکې سره لیدلي ول. ګیټس بې ورو وویل، ماته یې یو نظر وکتل او د هغه شونډو د خندا یوه ناکامه هڅه وکړه. د مات شوي ساعت



- هو ډېر دی... ډېر ښه دی... زوړ یاره !

تر درې نیمو پورې باران یو څه ورو شوی و، خو بیا هم نرۍ نرۍ څاڅکې د پرخې په څېر د ځمکې په لور راروان وو. ګیټس بې په کراره نه شو کیناستی. شېبه وروسته به یې د کړکۍ نه بهر کتل. اخر له ځایه پاڅید او ماته یې په غیر عادي لهجه کې وویل:

- زه ځم نور...

- ولې...؟

- چایو ته هیڅوک نه راځي. ډېر ناوخته شو. هغه خپل لاسي ساعت ته وکتل.

- زه ټوله ورځ انتظار نشم کولای.

- ځان نه ساده مه جوړوه. د څلورو نه خو یوائې دوه دقیقې تېرې دي.

هغه بیرته غمجن کېناست لکه ما چې په زوره حصار کړی وي، په همدې کې د بهر نه د موټر غږ راغی چې زما د کور انګړ ته راداخل شو، مونږ دواړو خیز کړ. زه بهر ورووتم.

د لغړو ونو لاندې یو موټر راروان و، ډېزي شاته سیټ کې ناسته وه، درې کونجه یو ډول سنبلي خولۍ یې په سر وه او د همغې ځای نه لیوا له موسکۍ شوه،

- په ما ګرانه ! په همدې ځای کې اوسیږې؟ د هغې غږ د باران ټک ټک سره یو ځای شو، ما هم خپل غوږونه ورڅک کړل. د زلفو یوه برخه یې لمده تر زنې رارسیدلې وه. ما یې لاس ونیو تر څو موټر نه راښکته کیدو کې ورسره مرسته وکړم.

- ته خو په ما مېین شوی نه یې؟ ماته یې غوږ کې په ورو وویل... نو بیا ولې زه باید یو ائې راشم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړولو هڅه یې وکړه خو بیرته په خپل سم ځای کینښودل شو، بیا هغه کیناست، ځنګل یې په صوفه او د زنې لاندې یې لاس کینښود او نیغ کیناست.

- د ساعت ماتولو لپاره بخښنه غواړم. هغه وویل.

- زوړ ساعت و. ما ورته په احمقانه لهجه وویل، زه فکر کوم مونږ درې واړه په دې باوري وو چې ساعت په ځمکه غورځیدو سره ټوټه ټوټه شوی و.

- مونږ ډېر کلونه یو بل سره نه دي لیدلي. ډیزي وویل

- راتلونکې نومبر میاشت پنځه کاله پوره کیږي. د ګیتس بی غیر ارادي ځواب مونږ یو ځل بیا د خاموشۍ په لور بوتلو. زه ووتم تر څو دوی ته چای راوړم. چای تیار هلته ایښی و. ګیتس بي غلی ناست و، ما او ډیزي خبرې کولې، هغې په عصبانیت کله ماته او کله ډیزي ته کتل. کله کله چوپتیا هم د هرڅه ځواب نه شي ویلای نو ځکه ما بښنه وغوښته او پاڅیدم.

- ته چیرته ځې؟ ګیتس بي زر وپوښتل.

- زه بیرته راځم.

- مخکې تر دې چې له دې ځایه لاړ شې، تاسره مې کار دی. هغه ما پسې تر اشپزخانې راغی، دروازه یې بنده کړه او پس پسک کې یې خبرې پیل کړې.

- څه خبره ده؟

- ته ډېره غټه سهوه کوې. هغه وویل، سر یې د نه په ډول ښې چپې لور ته اړوه،

- دا غټه سهوه کوې، غټه سهوه.



- هیڅ خبره نده، ته شرمیږې؟" له نیکه مرغه ما ورسره دا هم ورزیاته کړه؛ ډیزي هم شرمیږي... د هغه لکه چې باور رانغی؛

- ډیزي هم شرمیږي...؟

- څومره چې ته شرمیږې، هغومره هغه هم...

- لږ په ورو غږیږه...

- ته د ماشومانو په څېر کارونه مه کوه. ما یې خبره ورپرې کړه: یو اځې دا هم نه، ته سپین سترګې توب کوې، ډیزي هلته یو اځې ناسته ده... هغه خپل لاس اوچت کړ لکه ماته چې وایي بس دی، ماته یې وکتل او د کوټې دروازه یې په احتیاط پرانسته او یو ځل بیا کوټې ته ننوت.

زه د کور شا دروازه باندې بهر ووتم، په کومه دروازه چې ګیتس بي د ډیزي په راتلو وتلی و، تر څو خپل احساسات قابو کې راولي، هغه خو خپل ټول ځان باران کې لوند کړی و. باران یو ځل بیا ښه تیز شوی و. زه لاړم د خپل کور چمن کې یوې غټې ونې لاندې ودریدم، د هغه ځای نه یو اځې د ګیتس بی بنګله ښکاریده. د باران څاڅکي به د ونو پاڼو کې سره یو ځای کیدل او لاندې ورته زه ولاړ وم.

تقریبا نیم ساعت وروسته لمر هم د وریځو تر منځ سر راښکاره کړ. د خوراکي توکو ډک موټر د ګیتس بي کور ته تاو شو، زه فکر کوم چې دې خوراکونو نه خپله ګیتس بي ډېر کم خوري. زه بیرته دننه لاړم، باران ودریدو سره د هغوی پس پسک د هلیز کې هم اوریدل کیده. غږونه ورو ورو د احساساتو سیلۍ سره تیزیدل، خو د باران ودریدو سره ټول کور کې چوپتیا خپره وه. اشپزخانه کې مې تر خپلې وسې لوښي یو بل سره ووهل او څه شور مې جوړ کړ، خو هغوی هیڅ نه اوریدل. هغوی دواړه د کوچ دواړو څنډو کې یو بل ته مخامخ داسې ناست ول لکه د یو چا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ازموینه اخستل کېږي او د شرم هغه پل اوس له مینځه تللی و.

د ډېزي مخ د اوښکو نه ډک و او کله چې دننه ورغلم نو یو څه په زوره مې ټوخی وکه، نو پوی شول، ډېزي زر پاڅېده او د آینې مخې ته ودرېده او د سمال باندې یې خپل اوښکې پاکولې. خو ګېټس بې ترور غوندې ښکارېده، خو په لفظي ډول هغه ځلېده، پرته د څه ویلو او یا لاسونو خوځولو نه یې د ویاړ شغلې رابهر کېدې او دا وړه کوټه پرېې ډکېدله.

- اوه... سلام... زوړ یاره! هغه وویل، لکه د څو کالو راهیسې یې چې راسره نه وي لیدلي، ما خو فکر وکه کېدای شي لاسي سترې مشې هم راسره وکړي.

- باران خو ودرېدلی دی.

- ودرېدلې؟ کله چې هغه پوه شو چې زه د څه باره کې غږېږم نو پام یې شو چې د لمر وړانګې کوټې ته هم راننوتې دي. هغه د هوا حالاتو پېژندونکي په څېر وویل، ډېزي ته یې مخ واړوه،

- ته دې باره کې څه فکر کوې؟ باران خو ودرېدلی.

- زه ډېره خوشاله یم، جې. د هغې ستونی د خفګان او درد نه ډک و. د ډېرې خوښۍ نه یې په غیر ارادي ډول وویل.

- زه غواړم چې ته او ډېزي زما کور ته راشئ، زه غواړم ډېزي ته خپل کور وښایم.

- په ریښتیا غواړې چې زه هم درشم؟

- د زړه نه یې وایم، زوړ یاره!

ډېزي بره لاړه تر څو خپل مخ پریمینځي. زما ډېر وروسته پام شو چې هلته به ځان پاک هم نه وي. ما او ګېټس بې لاندې چمن کې د هغې انتظار کاوه.



«زما کور خو ښایسته ښکاري کنه، وګوره! لکه څراغ ښکاري.»

ګېټس بې وویل او زه هم ورسره موافق وم، کور په ریښتیا ډېر ښایسته ښکارېده.

- هو... ښایسته دی. "هغه خپل کور ته بیا بیا کتل.

- یوائځې مې درې کالو کې دومره پیسې تر لاسه کړې تر څو پرېې دا کور واخلم.

- ما فکر کاوه تاته دا دومره پیسې د میراث نه پاتې دي.

- ماته پاتې وې، زوړ یاره! خو ما ټولې پیسې د جګړې له وجې له لاسه ورکړې. د جګړې له وېرې... هغه وویل.

زه فکر کوم هغه په مشکله پوهېده چې هغه څه وایي، کله چې ما ورنه وپوښتل چې څه کاروبار کوې نو د هغه ځواب په زغرده لهجه کې و.

- دا زما شخصي چارې دي. وړاندې تر دې چې خپل ځواب ته فکر وکړي چې دا یو ښه ځواب نه و،

- اوه... زه د ډېرو شیانو سوداګري کوم. هغه ته د خپلې بدځوابۍ احساس وشو،

- لومړي سر کې مې د درملو سوداګري کوله، بیا وروسته د تېلو کاروبار او اوس یو هم نه کوم. هغه ماته په ځیر کتل چې ګنې خفه شوی نه وي.

- زه فکر کوم ته د هغه شپې باره کې خبرې وکې، ما چې درته کوم وړاندیز کړی و؟ وړاندې تر دې چې زه ځواب ورکړم، ډېزي دننه نه راووته. د هغې د کمیس تنۍ له ورایه د لمر په رڼا کې پړقېدې.

- دا غټ ځای؟ ډېزي په ژړغوني غږ کې وویل.

- ستا خوښ شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېر مې خوښ شو، خو زه نه پوهیږم ته پکې څنګه یو اځې اوسیږې؟

- زه یې تل په زړه پورې خلکو نه ډک ساتم. شپه او ورځ، هغه خلک چې په زړه پورې کارونه کوي. لمانځونکي خلک...

پر ځای د دې چې بنګلې ته لنډ ورننوځو، مونږ د لاندې سرک د لارې د شا په دروازه دننه ورغلو، ډېزي هم د خوښۍ نه حیرانه پاتې وه. مرمرینو زینو پورې ورسیدو، د مرغیو پرته بل کوم غږ نه اوریدل کیده. ما فکر کاوه چې دلته دننه د هرې صوفې او میز شاته میلمانه ناست دي، د یوې ځانګړې قوماندې لاندې ټول غلي وي تر څو مونږ تېر شو. مونږ بره لاړو، پر له پسې د خوب خونې وې، هره خونه د ګلابو او سنبلې وریښمو او په تازه نوي ګلانو سینګار شوې وې. بیا ورپسې د کالو بدلولو خونې، تشنابونو کې دننه ورې کوټې چې د یني ناروغ خلک پکې خپل ورزش هم کولای شي. هغه د یوې شیبې لپاره هم ډېزي نه مخ نه اړوه. زما په فکر ګیټس بې هر څه د دې جوګه کړي و تر څو د هغې ښایسته سترګې پرې ډکې شي او تقریبا هر څه د ډېزي د خوښۍ وړ وګرځیدل.

ګیټس بې لکه د پخوا یې چې دا هرڅه پلان کړي وو. هغه ډېر خوشاله بریښېده، لکه د ډېرو کلونو موخې ته چې رسیدونکی وي او د خپل هدف تر لاسه کونکی وي. ډېزي هملته ولاړه، ګیټس بې بره روان، هغې ویل لندن کې یو کس لري چې د هر موسم جامې ورته لیږي، یوه یوه الماري به یې خلاصوله او هغې نه یې شرټونه، دریشي، نکټایانې چې د هر یو لپاره بیله بیله الماري وه. بیا د ښځو د جامو الماري شروع شوې، بنډل به یې راخېسته او یو یو به یې لاندې ډېزي په لور غورځاوه. ډېزي هم د خندا نه شنه وه او د یو یو رانیولو هڅه به یې کوله، اخر لاندې ځای



د کالو نه ډک شو او ډېزي پرې سر کیښود او په ژړا شوه.

- دا څومره ښکلې کالي دي، زه ډېره خفه کیږم ځکه تر اوسه مې داسې ښایسته کالي نه دي لیدلي.

د کور لیدو نه وروسته بهر راووتو، تر څو راته چمنونه او د لمبلو حوض او نوي موسمي ګلونه راوښیي. زمونږ راوتلو سره باران شروع شو.

- که دا لړه نه وي نو ستا کور د همدې ځای نه ښکاري، ستاسو کور مخې ته تل یو شین څراغ بل وي. ګیټس بې وویل.

ناڅاپه ډېزي خپل مړوند د هغې نه راچاپیر کړ خو ګیټس بې د تیرې خبرې باره کې سوچ کاوه، لکه د هغه شین څراغ ارزښت ورته د تل لپاره بې ارزښته شوی وي. هغه یوه لاره چې دوی دواړه یې سره جلا کړي وو اوس د دوی ترمنځ یو اځې اوبه او یو شین څراغ پروت و.

زه ترې هاخوا لاړم، هاخوا د ګیټس بې د ماشومتوب انځور ځوړند و، د بیړۍ تفریحي لباس یې پر تن و. هغه خپل سر شاته بې پروا نیولې و. هغه وخت تقریبا اتلس کلن ښکاریده، ډېزي وویل.

- زما ډېر خوښ شو، ستا دا پیکی! تا خو ماته نه وو ویلي چې تا یو وخت پیکې هم درلود او د تفریح بیړۍ باره کې...؟

- دلته وګوره! ګیټس بې زر وویل، ستا باره کې ډېرې سپینې ورقې توري شوې دي. دوي خوا په خوا ولاړ انځور ته کتل. ما غوښتل لاجورد باره کې ترې وپوښتم. په دې کې د ټیلیفون زنګ راغی، ګیټس بې خپله غوږۍ پورته کړ،

- هو... ښه... زه اوس خبرې نشم کولای... زه اوس نه شم کولای دې باره کې خبرې وکړم... ما ورته ویلي و یو وړوکی ښارګوټی...هغه باید پوه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وړوکی ښارګوټی څه مطلب لري... ښه، نو هغه زمونږ ندی پکار که ډېټرایټ د هغه نظر وي، د وړوکي ښارګوټي..."

هغه غوږې کېښود.

- دلته راشه، زر... ډېزي کړکۍ کې ولاړه، ویل یې؛ باران اوس هم وریږي. تیاره د غرب خوا ته ډېره ده او دلته سمندر د پاسه ځګن وریځې ګلابي او طلایي ښکاري.

- هلته وګوره... ګیټس بي ورته په ورو وویل،

- زه غواړم هغه ګلابي وریځې راونیسم او تا پکې ونغاړم... ډېزي وویل.

ما غوښتل چې لاړ شم خو هغوی دواړو زما خبره هیڅ وانه وریده. خو کیدای شي دلیل یې دا و چې زما شتون د هغوی یواځیوالي لپاره قناعت بخش و.

- زه پوهېږم چې نور څه وکړو؟ ګیټس بي وویل؛ ښاغلی کلپ سپرنګر به راولم چې مونږ ته پیانو وغږوي" هغه د کوټې نه ووت، پونګ ته یې غږ کړل تر څو کلپ سپرنګر راوغواړي، هغه یوه شیبه کې راغی.

- ستا د تمریناتو مزاحم شوي خو نه یو؟ ډېزي په مودبانه لهجه کې ترې وپوښتل.

- زه ویده وم... زه ویده وم، خو اوس راپاڅېدم.

- کلپ سپرنګر به پیانو وغږوي. ګیټس بي د هغه خبرې ورپرې کړې.

- زه ښه پیانو نه شم غږولای. ډېر وخت کېږي تمرین مې نه دی کړی..."

- لاندې به لاړ شو. ګیټس بي یو ځل بیا خبرې ورپرې کړې. هغه یوه بټنه کیکاږله، خړې کړکۍ څراغونو بندیدو سره روښانه شوې، د ګیټس بي موسیقۍ کوټه کې پیانو سره خواکې یوه ډیوه هم بله وه.



هغه اورلګید راواخست او د ډېزي لپاره یې پرې سګرټ بل کړ او په یو کونج کې ورسره خواکې کیناست. د کوټې فرش باندې یواځې باندینۍ رڼا انعکاس کاوه. کله چې کلپ سپرنګر پیانو غږول شروع کړل، شیبه وروسته په ناخوښۍ د ګیټس بي په لټه شو،

- ګوره زما تمرین نشته، ته ګورې، ما درته وویل چې زه نه شم غږولای. زما تمرین...

- ډېرې خبرې مه کوه... غږوه... ګیټس بي ورته په دریم ځل خبره خوله کې وچه کړه.

کله چې ما ګیټس بي ته د خدای پامانۍ لپاره وویل، د هغه په مخ کې مې د وارخطایي نښې ولیدې اګر چې یو شکمن پرکالتوب د هغې په خوشبینه څیره کې راڅرګند شو. تقریبا تر پنځه کالو، د ډېزي خوبونه نیمګړي پاتې شوي وو. دا د هغې غلطي هم نه وه او یا د ګیټس بي د ستر ژوند وهمونه وو، ګیټس بي یې د خپلو نوښتګرو جذبو تر منځ غورځولی و چې د وخت په تېرېدو پکې ورزیاتیدل.

هیڅ کوم اور یا تازه والی ددې چلینج نه شي ورکولای چې د یو سړي اروایي زړه تر کومه حده زیرمې ساتلی شي. ما چې کله هغه ته وکتل لږ مې ځان برابر کړی و. د ډېزي لاس یې کلک نیولی و، لکه ډېزي چې ورته غوږ کې څه وایي او د احساساتو ډک زړه یې د هغه په لور کوږ شوی وي.

هغوی دواړو زه هیر کړی وم، خو ډېزي بېره وکتل او لاس یې راکړ خو ګیټس بي زه بیخي نه پیژندم. ما یو ځل بیا هغوی ته او هغوی ما ته وکتل. او بیا زه د کوټې نه راووتم او لاندې مرمرینو زینو کې باران ته یوه شېبه ودریدم او هغوی مې هملته ځانته پرېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

جیمز ګیټز یې خپل اصلي نوم و. هغه خپل نوم اووه لس کلنۍ کې بدل کړی و. هغه وخت یې د خپل مسلک شروعات وکړه کله چې ډان کوډي د خپلې تفریحي بیړۍ سره د سمندر طوفاني اوبو ترمنځ راګیر شوی و، هغه وخت جیمز ګیټز د ساحل په خواکې د خپل شلیدلي جرسي او د لمبلو لباس کې ګرځیده. ریښتیا هغه وخت یې نوم ګیټسبي شو . هغه یوه کښتۍ له چا نه پور کړې وه او کرایه به یې ورکوله. په هماغه ماسپښین کې یې ډان کوډي د سمندري طوفان نه ژغورلی و. د هغه مور او پلار پردیو پټیو کې کار کوه، خو د هغه خیالاتو دا هرڅه نه شول زغملای او خپل مور او پلار یې هم نه شول قبلولای.

یو کال کې جنوبي ساحل سوپریر ډنډ پورې ورسیده او بیا پنځه کالو پورې ډان کوډي سره پاتې شو. ډان کوډي پنځوس کلن میلونر او عیاش سړی و. یوه ورځ ځوان ګیټسبي د بیړۍ په راشپیل ناست او بره د بیړۍ عرشې ته ګوري، هغه ډان کوډي ته موسک شو، هغه په دې پوه



شوی وچې هغه چاته هم وګوري نو په هغه سړي بیا ګرانیږي. یو څو ورځې وروسته یې ورته نوې آبي رنګه کورتۍ، شپږ جوړه پتلونونه او کښتۍ خولۍ واخستل.

ګیټسبي خپل دهلیز کې ولاړ او د هغه کیسې کولې، هغه ویل،

- هغه ما ته هرڅه رازده کړي وو، څنګه کالي واغوندم او څنګه د یو ښاغلي په څېر عمل او خبرې وکړم.

ګیټسبي ته دا ټولې پیسې ډان کوډي نه په میراث پاتې شوې وې. هاغه وخت کې تقریبا پنځه ویشت زره ډالره کیدل، خو هغې پیسې وانه خستې، د امریکا هر اخبار همدا سر خط جوړ کړی و او مختلفې افواګانې یې خپرولې. چې ګیټسبي سره دا دومره پیسې د کومه راغلې.

هغه ما ته دا هرڅه ډېر وروسته وویل. د هغې لنډه دمه چې د اسویلي ویستلو یا د غلط فهمۍ لرې کولو لپاره فکر کاوه. ما ترې ګټه اخستته او د هغه لومړنیو افواګانو باره کې مې فکر کاوه چې یو یې هم سم نه ول.

❁❁❁

په څرګند ډول د ډیزي بهر ته یو ائحې تلل ټام ځوراوه. نو ځکه د شنبې ورځې د ګیټسبي محفل کې ډیزي سره ټام هم راښکاره شو. کیدای شي د هغه شتون په دې محفل کې فشار راوړونکی ثابت شو. دا ځل بیا هماغه خلک یا هماغه شان خلک دې محفل ته راغلي ول. خو ما ته یې دا ځل د پخوا په څېر خوند نه راکاوه او یا کیدای شي زه ورسره روږدی شوی وم او یا کیدای شي چې ما ورته د ډیزي د سترګو له مخې کتل او دا په ثابت ډول خفه کونکي وي چې یو څوک د بل په نظر ګوري.

هغوی مازیګر تېر راورسیدل او مونږ د سلګونو خلکو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځیدو، ډیزي خوښۍ نه وویل،

- دا څومره خوند کوي. هغې غلي غوندې ماته وویل،

- که ته غواړې ما ښکل کړې، ماسخوتن هر مهال غږ کولای شې، زه تیاره یم. یواځې زما نوم واخله.

- خوا او شا وګوره! ګیتس بي ورته وړاندیز وکړ.

- زه ګورم، ډېر حیرانونکی چاپیریال دی...

- ته کولای شې د هغه چا چې یواځې نوم دې اوریدلی وي دلته وګورې.

ټام په مغروره سترګو وروکتل، ویې ویل،

- مونږ ډېر نه ګرځو. او حقیقت خو دا دی چې زه خو دلته هیڅوک نه پیژنم.

- کیدای شي هغه ښځه وپیژنې...ګیتس بي د شفتالو ونې لاندې ښځو په لور اشاره وکړه، ټام او ډیزي دواړو وروکتل، غیر حقیقي احساسات ورسره مل و تر څو د فلم نامتو ستورې په لیدلو یې باور راشي.

- هغه ډېره ښایسته ده. ډیزي وویل.

- او هغه کس چې خوا کې ورسره ناست دی یو نامتو ډایرکټر دی. ګیتس بي هغوی ټولو ته وروپیژندل.

- دا ښاغلی بکنن... او دا آغلې بکنن... یوه شیبه زړه نا زړه شو بیا یې وویل: ښاغلی بکنن د پولو لوبغاړی دی...

- اوه... نه، زه نه یم.ټام نیوکه وکړه.

خو حقیقت کې د ګیتس بي په دې خبره ؛ د پولو لوبغاړی. ټام ته ډېر خوند ورکړ.



- ما تر اوسه دومره فلمي لوبغاړي نه وو لیدلي. زما هغه سړی هم ډېر خوښ دی، څه نومیږي؟ ډیزي وویل.

ګیتس بي هغه هم وروپیژنده او دا یې ورته وویل چې هغه د فلم تولیدونکی هم دی.

- زه که څه هم د پولو لوبغاړي په څېر نه ښکارم. ټام په خوښۍ وویل.

ګیتس بي او ډیزي نڅا کوله، هغه مې تر اوسه په نڅا نه وو لیدلي. بیا هغوی زما کور ته لاړل او هملته تر نیم ساعته زینو کې ناست وو. د ډیزي په غوښتنه زه هملته باغ کې د څوکیدار غوندې ولاړ وم. هغې ویل که چیرته سیلاب یا اور یا بل څه خدایي افت راشي چې له مخکې نه مونږ ته خبر راکړې.

ټام هم راښکاره شو، مونږ ماښامنۍ ډوډۍ باندې ناست وو.

- خفه کیږئ خو نه چې زه هلته نورو خلکو سره ډوډۍ وخورم، هغوی ډېر مزاحیه سړي دي.

ما وویل: ورځه... ډیزي په مهربانۍ وویل؛ او که چیرته د کومې انجلۍ نه د کور پته اخلې نو ماسره یو وړوکی غوندې پنسل شته.

اخیرنی ځای چې زما یاد شي زه ډیزي سره ولاړ وم، د فلم ډایرکټر او نور فلمي لوبغاړي لا اوس هم د شفتالو ونې لاندې ناست وو. زه هملته مخکینو زینو کې ناست وم. زما ملګري هم خپلو موټرو ته منتظر ول، ماسره یو ځای کیناستل. بهر تیاره خپره شوې وه. د ګیتس بي د جامو اغوستلو خونه کې مې یو سیوری ولید، ورپسې بل سیوری...

- هسې دا ګیتس بي څوک دی؟ په هر حال ټام پوښتنه وکړه.. ما ته خو کوم غټ قاچاقبر ښکاري.

- دا دې چیرته واوریدل؟ ما ترې وپوښتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چا نه مې نه دي اوريدلي. ما تـه دا سې ښکاري. دا ټول نوي شتمن شوي خلک ټول غير قانوني کارونه کوي، ته خو پوهيږې.

- ګيټس بې هغې ډله کې نه دی.ما په لنډ ډول ورته وويل.

هغه هم د يوې شپې لپاره غلی و. پـه ولاړه سترې غونډې شو، يوې بلې خوا ته کږيده، د پښو لاندې وړو تيږو کرنجار کوه.

- ښـه، بيـا کيـدا ی شـي د ډېـرو هڅـو جذبـه وي چـې دا ژوي يـې سره راټول کړي دي.

يو نري شمال د ډيزي پوستين کالر ورپاوه.

- لږ تر لږه د هغه خلکو نه خو ښه دی کوم چې مونږ پيژنو. ډيزي وويل.

- ته خو خوشاله نه ښکارې...

- زه خوشاله وم.

ټام وخندل او ما ته يې وکتل.

- ستا د ډيزي مخ ته پام و چې هغه جينۍ ورته ويـل پـه يخو اوبو دې لمبوم.

- ډېرى خلک چې دلته راځي، هغوي تـه بلنـه نـه ورکول کيـږي، هغـې جينۍ ته هم بلنه نه وه ورکړل شوې. هغوی بس په خپـل زړه دلتـه راځي او ګيټس بې دومره مو ادبه دی چې هغوی باندې نيوکه هم نه کوي.

- زه غوا ړم چې پوه شم چې هغه څوک دی او هغه څه کوي؟ ټام ټينګـار وکړ.... او زه فکر کوم چې زر به ترينه ځان خبر هم کړم.

- زه يې درتـه همـدا اوس ويلی شم؛ ډيزي ځواب ورکـه. هغـه درمـل ځايونه لري، بلکې د ډېرو درملځايونو څښتن دی. هغه هر څه خپلـه جوړ کړي دي.

ليمو موټر راښکاره شو.



- ښه شپه، نيک ! ډيزي وويل.

په هماغه شپه تر ډېره هملته پاتې شوم، ګيټس بې راتـه ويلي و چې همدلتـه اوسم تـر څـو هغـه وزګار شـي. زه هـم بـاغ کـې ورتـه کيناسـتم. د حوض لمبلو غويمنډ هم پای ته رسيدلی. کله چې هغـه زينـو کـې راښـکته کيده، سترګې يې ځليدونکې او سترې ښکاريدې.

- دهغې محفل خوښ نه شو؟

- بالکل يې خوښ شو.

- د هغې خوښ نه شو. هغـه ټينګار وکـه، د هغـې دلتـه ساعت تېـر نـه شو. هغه غلی و او ما د هغې نه ختميدونکې خفګان باره کې فکر کاوه.

- ځان د هغې نه ډېر لرې محسوسوم. د هغې پوهول به ډېر ګران شي.

- ته د نڅا باره کې خبرې کوې؟

-"نڅا؟ زوړ ياره ! نڅا ضروري نه ده.هغه ددې نه کم نه غوښـتل تـر څـو ډيزي لاړه شي او ټام ته په ځغرده وو ايي" ما تـا سره هيڅکله مينـه نـه ده کړې" ډيزي بايد هغې سره څلور تېر کړي کلونه د خپل ژوند نـه وتـوړي او په همدې يوه جمله هر څه ورختم کړي. او لږ څه نور يـې هـم زړه غوښـتل او هغه دا چې کله ټام سره معاملـه ختمـه کړي، يـو ځـل بيـا ليـوز ويلـي تـه د ډيزي کور ته لاړ شي او هلتـه ورسره واده وکړي. لکه اوس وخت چې پنځه کاله وړاندې وي او هيڅ هم نه وي شوي.

- هغه به پوه نه شي.هغه هڅه کوي چې يو څه ځان پـوه کـړي، مـونږ پـه ساعتونو ساعتونو ناست وو او...

دهغې خبرې نيمايي شوې، همدا سې بره او ښکته يې قدم وهه.

- ما به هغې نه ډېر څه نه ول غوښتي. ما جرآت وکړ؛ ته ماضي نه شې تکرارولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ماضي نه شم تکرارولی؟ سترګې يې ډکې شوې. ولې نه... ماضي تکراريدای شي... زه به هر څه د پخوا په څېر جوړ کړم. هغه به يې ګوري. هغه خپل سر خوځاوه.

هغه به د ماضي باره کې ډېر غږېده او يو څه تېرې شوې تېروتنې يې بيرته سمول غوښتل. هغه ډيزي سره مينه کړې وه. د هغه ژوند د هماغې ورځې نه ګډوډ شوی و. او که هغه يو ځل بيا د سره پيل وکړي او ورو ورو راروان شي نو ورته به خنډ ين ځای معلوم شي...

... پنځه کاله وړاندې د مني شپه وه، يو ماښام په سرک روان و، د ونو زيړو پاڼو ټول سرک لړلی و او دوی هغه ځای ته لاړل چيرته چې ونې او پاڼې نه وې او سرک د سپوږمۍ رڼا کې ښکاريده، هغوی هملته يو بل ته مخامخ پرته د څه ويلو ودريدل.

د هغه زړه درزا به پسې زياتيده، کله چې به يې د ډيزي مخ ته کتل. هغه پوهيده که هغه جينۍ يې مچو کړې وی. هغه انتظار کړی و. شيبه وروسته يې مچو کړې وه، د هغې سرې شونډو جنګولو سره لکه د ګل غوټۍ په څېر پرانستل شي او مجسم کول پای ته ورسيږي.



# اووم څپرکې

د ګيټس بي پر وړاندې پوښتنې هله راپورته شوې کله چې د شنبې په شپه د هغې کور کې هيڅ کوم څراغ روښانه نه شو، ما ليدل چې ډله ډله کسان خپلو موټرو کې د هغه د کور مخې ته ودريدل او شېبه وروسته به په ناهيلۍ بيرته ستنېدل، زه حيران وم چې هغه به ناروغ وي که څنګه؟ د هغه کور ته لاړم. يو نا اشنا ناظر دروازې ته راغی او ورانکارې غوندې څيره يې درلوده، ماته يې په بدګمانۍ وکتل.

- ښاغلې ګيتس بيي ناروغ دی؟
- نه...لږ ځنډ وروسته يې وويل؛ ښاغليه !
- هغه مې ډېرې ورځې کيږي نه دی ليدلی، هغه ته ووايه چې ښاغلی کيرووي راغلی و.
- څوک؟" شډل غوندې اندازکې يې وپوښتل.
- کيرووي...
- کيرووي، سمه ده، زه به ورته ووايم. په زوره يې دروازه بنده کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ښځینه کاروکونکې ماته ویلي ول چې ګیټس بي یوه اونۍ وړاندې خپل ټول کاروکونکي شړلي او په ځای یې نور راوستي دي. خواړه راوړونکي هلک ویلي و چې هغوی اوس خوراکي شیان هم نه اخلي.

راتلونکې ورځ راته ګیټس بي ټیلیفون وکړ

- چیرته روان یې؟ ما ترې وپوښتل.

- نه... زوړ یاره !

- ما اوریدلي تا ټول کارکونکي شړلي؟

- زما داسې کسان پکار دي چې اوازې نه خپروي او د کور خبرې بهر نه وباسي، ډیزي به کله کله ماسپښیني دلته راتله. ښه نو دا کاروان سرای د ډیزي له خوا رد شوی و.

- ښه...

- اوس خبره تر رسنیو هم رسیدلې وه. چې ګیټس بي د کومې جینۍ سره اړیکي لري. هغه د ډیزي په غوښتنه ماته زنګ وهلی و. ډیزي غواړي که کولای شې سبا غرمې ډوډۍ ته راشئ. آغلې بیکر به هم راشي. نیم ساعت وروسته ډیزي خپله هم زنګ ووهه تر څو پوه شي چې زه ورځم که نه. یو څه خو روان وو. خو زما باور نه شي چې دومره زر هغوی دا صحنه رامنځته کړي. په ځانګړې توګه هغه صحنه چې ګیټس بي یې تېره شپه یادونه کړې وه.

راتلونکې ورځ ډېره ګرمه وه. په یقیني توګه لکه د اوړي اخري ورځ وي.

د ټام بکنن د کور په دهلیز کې نرۍ باد لګیده. دننه کوټه هم یخه او تیاره وه. ډیزي او جورډن په یو اوږد کوچ باندې پرتې وې لکه د نقره یي



مجسمو په څېر، سپین کمیسونه یې د پکي باد هاخوا دیخوا کول.

- مونږ خو خوځیدی نه شو... هغوی دواړو په یوه خوله وویل.

- ښاغلی تومس بکنن، هغه د پولو لوبغاړی چیرته دی؟ ما وپوښتل، په همدې کې یو غټ او دروند اواز د هلیز کې واوریدل شو.

ګیټس بي د سرې قالینې منځ کې ودرید او په لیواله نظر یې ځیر ځیر کتل. ډیزي هغې ته وکتل او په خندا شوه، د هغې خوږه او زړه راښکونکې خندا.

- انګازې داسې دي چې ټام ټیلیفون کې خپلې یارې سره خبرې کوي. جورډن رانږدې شوه او ماته یې غوږ کې وویل. مونږ چپ وو، د ټام غږ هر ځای کې اوریدل کیده.

- سمه ده، زه درباندې خپل موټر نه خرڅوم... ما تاته هیڅ ژبه نه ده درکړې... که ته ماته داسې د ډوډۍ په وخت کې مزاحمت کوې نو... ډیزي بیا پرې شکمنه وه، ما ورته وویل چې رېښتیا هم یو کس سره یې د موټر معامله ده. ټام غوږی ایښی و، د کوټې دروازه یې پرانسته او په چټکۍ کوټې ته راننوت.

- ښاغلې ګیټس بي ! هغه خپل غټ غوښین لاس په ناخوښۍ د ګیټس بي په لور وراوږد کړ.

- زه ډېر خوښ شوم چې تاسو مې ولیدئ...نیک...

- مونږ ته یوه یخه نوشابه تیاره کړه. ډیزي وویل.

همدې خبرې سره ټام ووت تر څو نوشابه راوړي. ډیزي چټکه پاڅیده او د ګیټس بي خواته لاړه، د هغه سر یې د ځان په لور راټیټ کړ او شونډو نه یې ورته مچو واخسته.

- ته پوهیږې چې زه تا سره مینه لرم. هغې په ورو وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تا خو هېر کړي چې دلته یوه بله انجلۍ هم شته ! جورډن وویل، ډیزي په شکمن ډول شاوخوا وکتل،
- خو ته هم نیک نه مچو واخله !
- څومره بې شرمه یې...
- زه هېڅ پروا نلرم. ډیزي وویل. هغه بیرته لاړه او کوچ باندې کېناسته لکه هیڅ یې چې نه وي کړي. په همدې وخت کې نرسې یوه وړه ماشومه انجلۍ لاس نه نیولې کوټې ته راننوته.
- څومره ښایسته ! ډیزي زمزمه یې ډول وویل او خپل غېږ یې پرانسته،
- راشه خپلې مور ته، ته راباندې ډېره ګرانه یې.

ماشومې د نرس لاس پرېښود او د مور غېږې ته ورغله، زه او ګیټس بې ورتېټ شو او وړې سره مو سترې مشې وکړه. ګیټس بې ماشومې ته په حیرانۍ کتل او زه فکر نه کوم چې د هغه په وړاندې ددې ماشومې شتون د باور وړ و.

- ما خو ډوډۍ نه مخکې کالي بدل کړه. ماشومې په خوښۍ مور ته وویل.
- ځکه چې ستا مور غوښتل چې تا ټولو ته وښایي، ته یو خوب یې... ته یو وړوکی ښایسته خوب...“
- هو...“ ماشوم په معصومه لهجه وویل ؛ جورډن خاله هم سپین کالي اغوستي.
- تاته د خپلې مور ملګري ګران دي؟ ډیزي په همدې خبره ګیټس بې ته وکتل،...ته فکر نه کوې چې هغوي ډېر ښایسته دي.
- پلار مې چیرته دې؟



- هغه د پلار په څېر نه ښکاري کنه ! هغه زما په څېر ښکاري، ددې وېښته او مخ ما ته تللي دي. ډیزي بیرته خپل کوچ کې کیناسته، نرسه بیا رامخې ته شوه او د ماشومې لاس یې ونیو.
- راځه... پامې.
- په مخه دې ښه ګرانې ! باسلیقې ماشوم د نرسې لاس نیولی، په بې میله نظر یې شاته کتل او لاړه. همدې وخت کې ټام راستون شو. د شرابو بوتل سره څلور ګیلاسونه د واورو ټوټو نه ډک وو. ګیټس بې خپل ګیلاس ترې واخست.
- په ریښتیا هم یخ دی. هغه وویل.

مونږ په دمه دمه یو ګیلاس وڅښل.

- ما یو ځای کې لوستي و چې لمرهرکال ګرمیږي. ټام په اجتماعي ډول وویل؛ که همدا اسې وي نو ډېر زر به ځمکه لمر کې وروغورځیږي، یوه شیبه، دا خو سرچپه ده، لمر هم هر کال خپل حرارت کموي. لږه شېبه وروسته یې وویل.
- راځه بهر ته ! هغه ګیټس بې د لاس نه ونیو، غواړم دا ځایونه درته وښایم. زه هم ورپسې ووتم. یو جاله وان په ورو ورو د اوبو خواته روان و. ګیټس بې همغې ته کتل، هغې د اوبو نه هاخوا اشاره وکړه.
- زما کور بیخي تاسو ته مخامخ دی.
- ښه نو ته هلته اوسیږې؟مونږ درې واړو هماغه خوا وکتل. بیا ټام وویل.

د خوړلو خونې کې مو د غرمې ډوډۍ وخوړه، د ګرمۍ له کبله یې ټولې پردې پرتې وې تر څو بهر نه ګرمه هوا رانشي.

- نن ماسپښین مو څه اراده ده، څه کوو؟ او بیا بله ورځ او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکو لس کالو پورې؟

- دا څنګه خبرې کوې، ژوند خو د منې نه یو ځل بیا شروع کیږي. جورډن وویل.

- خو اوس ډېره ګرمي ده. ډېزي وویل؛ هر څه ګډوډ دي، راځئ ټول ښار ته لاړ شو. ډېزي ټینګار وکړ، ګیټس بې د سترګو کونج کې هغې ته وکتل.

- اوه... ته ډېر ښایسته ښکارې" ډېزي وویل.

د هغوی سترګې سره بیا وجنګېدې او یو بل ته یې همداسې کتل. شیبه وروسته ډېزي خپلې سترګې ټیټې کړې.

- ته همیشه ډېر ښایسته ښکارې. ډېزي بیا خپله خبره تکرار کړه.

هغې ورته ویلي و، چې تاسره مینه لرم او ټام په خپلو سترګو لیدلي وو. ټام حیران و، د هغه خوله وازه پاتې وه. هغه کله ګیټس بې او کله ډېزي ته کتل لکه د ډېر وخت وروسته یې چې پېژندلې وي.

- سمه ده... زه تیار یم چې ښار ته لاړ شو. راځئ، ټول ښار ته ځو. ټام وویل

هغه پاڅید، هغه بیا کله ګیټس بې او کله خپلې میرمنې ته کتل. هغوی یو هم نه خوځېدل.

- راځئ کنه !" هغه لږ عصباني غوندې شو، څه خبره ده؟ که ښار ته ځئ خو راولاړ شئ چې ځو. د هغه لاسونه رېږدېدل، د ځان قابو کولو لپاره یې د شرابو ګیلاس راواخیست. د ډېزي غږ سره ټول راپورته شول.

- همدا اوس ځو؟ او په داسې حال کې؟ دومره وخت خو یو چا ته ورکړئ چې یو سګرټ وڅکي. ډېزي د نیوکې په څېر وویل.

- ډوډۍ نه وروسته خو ټولو سګرټ وڅکوه.



- اوه... راځئ خوند واخلئ، اوس ډېره ګرمي ده. ډېزي وویل خو ټام ځواب ورنکړ.

- راځه جورډن" هغوی دواړه بره لاړل چې تلو لپاره ځان چمتو کړي او مونږ درې واړه لاندې د هغوی په انتظار ودریدو. ډېزي د بره نه اواز وکړ

- د څښلو لپار باید یو څه راواخلو.

- زه به لاړ شم ویسکي به راواخلم. ټام دا وویل او دننه لاړ.

ګیټس بې زر ما ته مخ راواړوه،

- زه خو دې کور کې هیڅ نه شم ویلای، زوړ یاره !

- هغه ډېره بې احتیاطه غږیږي، د هغه خبرې...ما زړه نا زړه وویل.

- د هغه خبرې د پیسو نه ډکې دي. هغه ناڅاپه وویل.

خبره نو داسې وه.زه به هیڅکله نه وم پوه شوی. دا د پیسو خبره وه... په لوړو ماڼیو کې د چا لور...یوه طلایي انجلۍ.

ټام بیرته راووت. یو لیټري بوتل یې یوه ټوټه کې تاو کړی و، ورپسې ډېزي او جورډن تنګ د ګرمۍ کالي او یوه نرۍ بې لستوڼو چپنه یې په لوڅو مټو راخوره کړې وه.

- زما په موټر کې به لاړ شو ! ګیټس بې وړاندیز وکړ. هغه په خپل شین رنګه او لمر ګرم کړي څرمني سیټونو باندې لاس تېراوه،

- دا مې باید سیوري ته ودرولی و.

- دا د کمپنۍ نه همداسې جوړ دی؟

- هو...

- ته راشه زما موټر وچلوه او زه به ستا موټر کې ښار ته لاړ شم.

دا وړاندیز ګیټس بې لپاره بې خونده و.

- زه فکر نه کوم دومره تیل به پکې وي. هغه نیوکه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېر دي پکې... ټام په زيږه لهجه وويل. هغه د تيلو ستن ته وکتل؛ او که تيل پکې ختم شي بيا به يې يو ځای کی ودروو. د هغه په غير منطقي دليل ټول يوه شيبه غلي وو. ډيزي ټام ته کتل چې تندی يې تريو نيولی و او يوه عجيبه غوندې خيره يې جوړه کړې وه. په دې وخت کې هغه نا اشنا ښکاريده. هغه د ګيټس بي مخې ته تيريده ډيزي ته يې وويل،

- راځه ډيزي ! هغه يې له ځان سره د ګيټس بي موټر خواته روانه کړه. راځه په دې نمايشي موټر کې دې ښار ته بوځم.. هغه د موټر دروازه خلاصه کړه، ډيزي خپل ځان د هغې د لاسونو دايرې نه رابيل کړ

- تا سره به موټر کې نيک او جورډن لاړ شي، مونږ درپسې ستا موټر کې درځو. د ټام دوه کسي موټر و، هغه د ګيټس بي خواته روانه شوه، هغه يې د کورتۍ راونيو.

زه، جورډن او ټام د ګيټس بي موټر کې کيناستو، ټام موټر چالان کړ او د ټيرونو نه يې يو تريخ غږ پورته کړ، د موټر شاته يوه شنه دوړه جوړه شوه او په سرعت روان شو.

- تاسو دا وليدل؟ ټام وپوښتل.

- څه شی؟

هغه ماته په ځير وکتل، چې زه او جورډن بايد په دې هرڅه پوه شوي وو.

- تاسو څه فکر کوئ، زه غول يم. همداسې نه ده؟ هغه وويل؛ کيدای شي زه يم خو زه يو بل اړخ هم لرم چې کله کله ماته وايي چې زه بايد څه وکړم کيدای شي تاسو باور ونه کړئ خو ساينس...“ هغه لږ تم شو او بيا لګيا شو،

- ما ددې ستاسو ملګري باره کې تحقيقات کړي دي، که چيرته زه



خبر وم زه به ډېر ژور تللی وم.

- ستا مطلب دا دی چې ته يو بزرګ يې؟ جورډن په ټوکو ترې وپوښتل.

- څه شی؟ مونږ دواړو وخندل هغه مونږ ته وکتل؛ يو بزرګ؟

- د ګيټس بي باره کې.

- ګيټس بي باره کې؟ نه ما خو داسې نه دي ويلي، ما خو ويل چې ما د هغه د تېر ژوند باره کې پوره څيړنه کړې ده.

- او ته به پوه شوی يې چې هغه اکسفورډ کې درس ويلی. جورډن لکه د هغه خبرې سره چې کومک کوي.

- اکسفورډ کې درس ويلی؟ خوشې چټي لګيا دی !

- هغه خو دا ثابتوي چې اکسفورډ کې يې درس ويلی.

- اکسفورډ ، نوی مکسيکو يا کوم بل ځای. هغه کبرجنه لهجه کې وويل.

- واوره ټام ! که ته چيرته ځان په هغه بره ګڼې نو بيا دې ولې غرمې ډوډۍ ته بلنه ورکړې وه؟ جورډن وپوښتل.

- زه يې څه کوم، ډيزي راغوښتی و، زمونږ د واده نه وړاندې يې ورسره پيژندل، خدای خبر چيرته...

زمونږ درې واړو طبيعت سم نه و، تر يوې شيبې غلي وو.

- دومره تيل دي چې مونږ ښار ته ورسوي. ټام وويل.

- خو دلته نيزدې يو پمپ شته، تيل پکې واچوه، زه نه غواړم لاره کې تيل خلاص کړي او زه دې ګرمۍ کې ځان پوخ کړم. ټام په زوره بريک باندې پښه کيښوده او موټر د ويلسن په نوم ګراج ته ورننوت.

- راشه تيل واچوه، ته څه فکر کوې مونږ دلته د څه لپاره ولاړ يو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې منظرې نه خوند واخلو؟

- زه ناروغ یم، بیگا ټوله شپه ناروغ وم. ویلسن پرته د خوځیدو نه وویل.

- ولې څه خبره ده؟

- زه بس خراب یم.

- ښه، زه درسره مرسته کوم، په ټیلیفون کې خو ښه غږیدې. ټام ورته وویل. ویلسن په ډېره مشکله له ځایه پاڅید، په زوره زوره یې ساه اخسته. د ټانکۍ سر پوخ یې پرانست، د لمر رڼا کې یې مخ شین ښکاریده.

- زما مطلب دا نه و چې ستا د غرمې ډوډۍ په مهال مزاحمت وکړم، خو پیسو ته مې ډېر سخت ضرورت دی، ما فکر کاوه چې ته خپل زوړ موټر راباندې خرڅ کړې.

- دغه موټر دې خوښ دی؟ تیره اونۍ مې اخستی." ټام ورته وویل.

- ښایسته زیړ موټر دی" ویلسن وویل.

- غواړې چې وا یې خلې؟

- زړه خو مې غواړي، خو زه باید په نورو موټرو باندې پیسې لاسته راوړم، بیا یې اخستلی شم. ویلسن بی خونده موسکا وکړه. پیسې دې څنگه داسې عاجل پکار وې؟

- ډېر وخت مې دې ځای کې تېر کړ. غواړم نور له دې ځایه لاړ شم. زه او زما میرمن غواړو غرب خوا ته لاړ شو.

- ستا میرمن هم ځي؟ ټام ناڅاپي وویل.

- هغه خو د لسو کلونو را پدې خوا لگیا وه..." هغه پمپ ته ډډه ووهله؛ او اوس به راسره ځي که زړه یې ښه وي که بد. زه یې له ځان سره



بیایم.

- زه ستا څومره پور وړی یم؟ ټام ترې په زیږه لهجه وپوښتل.

- زه غواړم له دې ځایه لاړ شم ځکه مې تا ته د موټر لپاره ویلي و.

- ستا څومره پوروړی یم؟

- شل ډالره!

بی رحمه تود باد زما مخ راسیزه. ویلسن لکه په دې چې پوه شوی وي ښځه یې بل چا سره یارانه لري او ددې خبر اوریدو سره ناروغه شوی هم و. ما ویلسن او بیا ټام ته وکتل، ټام هم لږ تر لږه نیم ساعت وړاندې د خپلې میرمنې یارانې باره کې خبر شوی و. زه په دې پوه شوم چې د سړیو ترمنځ هیڅ توپیر نشته، لیاقت یا مسابقه کې، همدومره بنسټیز او ژور لکه یو روغ او ناروغ.

- هغه موټر به درته درکړم، سبا ماسپښین به یې درته راولیږم. ټام ورته وویل. ما د گراج نه بهر وکتل او مارټل ویلسن موټر ته په غور سره کتل لکه هغه هیڅ نه پوهیږي یا ناخبره دی چې څوک ورته گوري، یو بل پسې یې احساسات په مخ کې ځرگندیدل.

د هغې احساسات ما ته اشنا ښکاریدل لکه ما چې نورو ښځو کې هم لیدلي وي خو د مارټل ویلسن په څیره کې بې موخې ښکاریده تر هغه وخته چې زه پوه شوم، د هغې په سترگو کې کینه کښنه وېره پرته وه. زه خو وایم چې د ساده خیال گډوډۍ په څېر مغزو کې بله گډوډي نشته. کله چې مونږ بیرته روان شو، د ټام احساسات هم له ویرې او حفگان نه ډک و. د هغې میرمن یوه ساعت وړاندې خوندي وه، خو اوس د هغې د قابو نه وتلې وه. د ډیزي له لاسه وتل او د مارټل ویلسن دا ځای پرېښودل، دغې غریزي شعور هغه مجبور کړی و تر څو خپل احساسات په غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقيمه توګه د موټر سرعت باندې راقابو کړي.

- هغه د پنځلسمې کوڅې غټ فلمونه ډېر ښايسته دي. د نيويارک ماسپښين مې ډېر خوښېږي کله چې ټول خلک په کورونو ننوځي. هلته څه احساس کونکي غوندې شته، لکه د ونې لاندې ناست او پخې ميوې ستا په لاسونو کې راپريوځي.

احساس کونکي لفظ ټام نورهم ناراحته کړ. وړاندې تر دې چې هغه کومه نيوکه وکړي، يوه دوه نفري موټر تم ځای ته راورسيده، ډېزي مونږ ته اشاره وکړه

- کم خوا ځو؟ هغې وپوښتل.

- فلم کتلو ته به لاړ شو.

- ډېره ګرمي ده، تاسو لاړ شئ، مونږ به همدلته خواوشا ګرځو بيا به تاسو سره وګورو. ډېزي وويل.

- د لارې په سر بحث نه شو کولای. ټام په بې صبرۍ وويل. يو غټ ټرک تريخ هارن سره زمونږ خواکې تېر شو، "ما پسې راځئ، د پلازې مخې سنټرل پارک ته. ټام به بيا بيا د هغو موټر پسې شا ليد هېنداره کې کتل، هغوی که د بيرو بار يا ترافيکي اشارې شاته پاتې شول نو ټام به هم ورو ورو کيده تر څو هغوي بيرته راښکاره شي، زما په خيال هغه داسې فکر کاوه چې هغوی به په ډېره چټکۍ لانديني سرک باندې ووځي او د تل لپاره به ډېزي له لاسه ورکړي.

خو هغوي ونه تښتيدل. مونږ پلازه هوټل ته ورسيدو. اوږدې او بې خونده مباحثې مونږ تر دې کوټې راورسولو، که څه هم ما د داسې حالاتو نه ډډه کوله. زما لوند نيکر هم داسې د مار په څير زما په ورونونو تاو شوی و، بيا بيا مې بره کش کوه اود خولو څاڅکې يو د بل پسې په



نوبتي ډول زما په ملا کې سره مسابقې کولې. دا وړانديز د ډېزي له خوا وو چې پنځه تشنابونه به کرايه کړو او په يخو اوبو به ولامبو. هر يو بيل بيل د هغې دا نظر بې ځايه وګڼه. مونږ ټولو په يو ځای د هوټل منشي سره د خونو او تشنابونو کرايه کولو خبرې کولې.

کوټه ښه غټه وه او اوس تقريبا څلور بجې وې، د کړکيو پرانستلو سره اوس هم د باندې نه تود باد راننوته. ډېزي د آينې په لور لاړه، مونږ ته يې شاه کړه او خپلو ويښتو کې يې ګوتې وهلې،

- هغه بله کړکۍ هم پرانيزه. ډېزي پرته شاته دکتلو وويل.

- نورې کړکۍ نشته.

- ښه... نو بيا ټيليفون وکړئ چې اضافي کړکۍ...

- خبره يوائې د ګرمۍ نه ځان خلاصول دي. ټام په بې صبرۍ وويل؛ او همدا تا لس چنده حالات خراب کړه. هغه د کېړې نه د ويسکي بوتل راوويست او د ميز په سر يې کېښود.

- ولې يې يوائې نه پرېږدې، زوړ ياره! همدا تا غوښتل چې ښار ته راشو کنه!

د يوې شيبې لپاره چوپتيا خپره وه، ګيټس بې يوه کتابچه د ميز په سر وغورځوله.

- دا ستا هغه، څرګندونې دي کنه؟ ټام وويل.

- څه شی دی؟

- دا ټول ستا (زوړ ياره) معاملې، دا دې د کومه کړي؟

- دلته وګوره ټام! ډېزي وويل، آينې نه يې مخ راوګرځاوه. که ته چيرته شخصي څرګندونه کوې نو زه پکې څه نه وايم، زنګ ووهه او يو څه يخ راوغواړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټام غوږې پورته کړ تر څو زنګ ووهي. لاندې صالون کې د سيل غږ اوريدل کيده.

- فکر وکړئ دې ګرمۍ کې څوک واده کوي؟ جورډن غمجنه لهجه کې وويل.

- ما هم د جون په نيمايي کې واده کړی و. يو څوک خو پکې بې هوښه شوی و ، څوک و هغه؟ ټام !

- بايلکس. ټام په لنډه ځواب ورکه.

- يو سړی بايلکوسي، بايلکس و که بيلاکس نوميده او هغه کارټنونه جوړول، هغه لکه چې د بايلوکسۍ ټينيسي و.

- او هغوي بيا زمونږ کور ته راوستی و. جورډن وويل؛ ځکه زما کور هملته کليسا سره خوا کې و. او هغه سړی تر درې اونيو پورې زمونږ کره ديره و. تر څو مې ورته پلار وويل چې بايد لاړ شي. په کومه ورځ چې هغه تلو پلار مې هم مړ شو. يوه شيبه وروسته يې بيا وويل؛ د دواړو پيښو تر منځ څه اړيکه نه وه.

- ما هم د بيلوکسي په نوم يو کس پيژنده، هغه د ممفس و !ما وويل.

- هغه يې خپلوان و. ما دهغه ټوله کورنۍ پيژنده. هغه ماته يوه الموني د ګولف ډنډه هم راکړې ده، اوس هم را سره شته.

لاندې صالون کې موسيقي پاته رسيدلې وه، لکه مراسم چې پيل شوې وي. وار په وار د کړکۍ د لارې د خلکو تيز غږونه اوريدل کيدل، يا...يا...يا...او د يو ډنګ سره چغې نورې هم زياتې شوې.

- مونږ نور بوډاګان کيږو ، که مونږ ځوانان وای نو مونږ به هم نڅا شروع کړې وه. ډيزي وويل.

- بايلکس دې ياد دی؟ او تا هغه څه پيژنده ټام !جورډن وپوښتل.



- بايلکس؟" هغه د فکر کولو هڅه کوله، ما هغه نه پيژنده، هغه د ډيزي ملګری و.

- هغه نه و. جورډن يې خبره ورپرې کړه؛ ما هغه مخکې هيڅ نه و ليدلی، هغه خپل شخصي موټر کې راغلی و او هغه ويل چې تا پيژني. هغه هم ليوزويلي کې رالوی شوی و. جورډن مسکۍ شوه؛ هغې ماته دا هم ويلي و چې ستاسو د ټولګي نماينده هم و. ما او ټام زر يو بل ته وکتل.

- اوله خبره خو دا وه چې مونږ هيڅ نماينده نه درلود ، هسې ګيټس بې ما اوريدلي چې تا اکسفورډ کې درس ويلی؟

- نه...

- آه...هو ، زه پوهيږم چې ته اکسفورډ ته تللی يې.

- هو زه هلته تللی يم.

لنډ ځنډ چوپتيا رامنځته شوه او بيا د ټام دروند غږ؛

- ته به هغه مهال اکسفورډ ته تللی وې چې بايلکس نيو هيون ته تللی و.

يو بل ځنډ رامنځته شو ، خدمتګار دروازه وټکوله او د يخ سره دننه راننوت او د څو شيبو چوپتيا د خدمتګار د منني په لفظ سره پای ته ورسيده. دا لړزونکي جزيات بايد روښانه شوې وای.

- ما درته ويلي و چې زه هلته تللی وم. ګيټس بې وويل.

- ما ستا خبره واوريده خو زه غواړم چې پوه شم چې کله؟

- په ۱۹۱۹ کال کې يوائې د پنځه مياشتو لپاره هلته تللی وم، نو ځکه په اسانۍ چاته نه وايم چې ما هلته درس ويلی دی.

ټام شاوخوا وکتل لکه مونږ ته چې وايي دهغه دروغ منځ ته راغلل. ټولو ګيټس بې ته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جګړې اوربند نه وروسته یو څو افسرانو ته دا موقع ورکړل شوې وه چې د فرانسې او انګلستان په هر پوهنتون کې درس ویلی شي.ما غوښتل چې پاڅم او هغه یو څو څپېړې کش کړم چې ولې یې ماته دروغ ویلي و، خو اوس مې د هغه په خبرو لږلږ باور راغلی و. ډیزي بې خونده موسکا وکړه او د میز خوا ته لاړه.

- ویسکي پرانیزه، ټام !"هغې امر وکړ؛ زه به درته لږ شراب یخ کړم تر څو ځان درته دومره کم عقل ښکاره نشې...

- یوه دقیقه، زه د ښاغلي ګیتسبي نه یوه بله پوښتنه هم لرم. ټام وویل.

- کولای شې...ګیتسبي مودبانه لهجه کې وویل.

- دا ته زما کور کې د څه خنډ رامنځته کولو هڅه کوې؟

- هغه هیڅ فرق نه کوي. ډیزي په مایوسۍ وویل، ته ولې ناندرې رامنځته کوې، مهرباني وکړئ لږ ځان قابو کړئ.

- ځان قابو کړم؟ټام یې خبره تکرار کړه؛ زه فکر کوم چې یوه ګوښه ځای کې کینم او ښاغلی هیڅ شی، د هیڅ ځای نه راغلی زه پریږدم چې زما میرمنې سره یارانه جوړه کړي... ښه... که چیرته زما نه دا طمع کوې نو... نن سبا خلک په کورني ژوند او کورني رواجونو باندې ملنډې وهي، بیا کیدای شي داسې وخت راشي چې توریان او سپین به سره خپلو کې ودونه وکړي.

هغه خپلې بې مانا خبرې وکړې او خپل ځان یې د تمدن پر وړاندې خنډ ځای کې یوائې وموند.

- دلته خو مونږ ټول سپین یو. جورډن پس پسک وکړ.

- زه پوهیږم چې زه دومره مشهور نه یم، زه غټې محفلونه هم نه



جوړوم، زه فکر کوم چې ته د خپل کور نه د خوږ شپول جوړ کړه چې یو څه ملګري پیدا کړې. په دې متمدنه نړۍ کې.

زه ډېر په غوسه وم، بلکې ټول په غوسه وو. کله چې هغه خبره پیل کوله نو ما به د هغه تېر ایستلو لپاره مسکا هم کوله، د بدغونۍ نه تر چالاکۍ پورې یې دا لیږدونه بشپړه کړه.

- زه به درته یوه خبره وکړم زوړیاره !ګیتسبي شروع وکړه، خو ډیزي د هغې په منظور پوی شوه.

- مهرباني وکړئ، مه کوئ. هغې په بې وسۍ د ګیتسبي خبرې وریرې کړې؛ خیر دی راځئ ټول بیرته کور ته لاړ شو، مونږ ولې کور ته نه ځو؟

- دا خو ډېره ښه خبره ده. زه پاڅیدم؛ راځه ټام ! څوک خو څه نه څکي؟

- زه غواړم پوه شم چې ګیتسبي ماته خپله څه وواېي.

- ستا ښځه تا سره مینه نه لري. ګیتسبي وویل؛ هغې تا سره هیڅکله مینه نه ده کړې، د هغې مینه ما سره ده.

- ته لیونی شوی یې...ټام یو دم وویل.

ګیتسبي راپاڅیده او په تازه جوش سره یې وویل.

- هغې تا سره هیڅکله مینه نه ده کړې، تا واوریدل؟ هغې صرف ددې لپاره تا سره واده کړی و چې هغه وخت کې زه غریب وم. ماته په انتظار ستړې شوې وه. دا یوه غټه تېروتنه وه، خو د هغې زړه کې زما پرته بل هیچا ته مینه شتون نه لري.

په دې وخت کې ما او جورډن وغوښتل چې لاړ شو، خو ګیتسبي او ټام په دې ټینګار وکړ چې باید پاتې شو. ځکه هغوی یو سره هم د ټولو لپاره څه نه و او مونږ ته یې ددې هر څه باره کې د پوهیدو لپاره ځانګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق راکړی و او د هغوی احساساتو نه خبر شو.

- ډیزي ! تـه کینـه ! د ټـام غـږ نـور هـم را ډډ شـو. څـه خـو شـتـه دی، زه غوارم د هر څه باره کې پوه شم.

- ما درته هر څه وویل، د پنځو کلونو راهیسې دا کیسه روانه ده او ته هیڅ نه یې خبر. ګیټس بې ورته وویل.

ټام ناڅاپه ډیزي ته وکتل.

- ته دې سره د پنځه کلونو راهیسې ګورې؟

- ګورم ورسره نه او نه مونږ یو بل سره لیدلي، خو په دې دومره وختونو کې مونږ یو بل سره په زړونو کې مینه کړې ده.

- اوه...دا هرڅه دي.ټام د لاسونو ګوتې سره یو بل کې ننباسلې او په څوکۍ کیناست.

- ته لیونی یې، زه د تیرو پنځه کلونو باره کې نه شم ویلی چې څه شوي. ځکه هغه وخت خو ما ډیزي نه پیژنده. خو لعنت دې پر ما وي که چیري ما ته د هغې سره یو مایل نیږدې هم لیدلی وی او ما پرینښی وی، خو دا ټول لعنتي دروغ دي. ډیزي هماغـه مهال هم ما سره مینه درلوده کله چې مونږ واده وکړ او اوس هم راسره مینه لري.

- نه... ګیټس بې خپل سر خوځاوه.

- هغې به تاسره مینه کړې وي... خو ستونزه دلته دا ده چې هغه کله کله د خپلو کم عقلو خیالونو په جال کې راګیره او نه پوهیږي چې څه کوي. هغه په ځیرکتیا سره خوځاوه؛ او نور څه پاتي، زه هم ډیزي سره ډېره مینه لرم. کله کله به ترې لرې تلم او ځان نه به مې کمعقل جوړوه خو زه همیشه بیرته ورغلی یم، زما په زړه کې تل مې ورسره مینه کړې ده.

- تاسو پاتې کیږئ...ډیزي وویل، د هغې غږ لړزیدونکې و، هغې



ماته وکتل.

- ته پوهیږې مونږ ولې شیکاګو پرینښود؟

ګیټس بې لاړ او ډیزي سره خواکې ودرید

- ډیزي، هر څه پای ته ورسیدل، اوس هیڅ فرق نه کوي، رینښتیا ورته ووایه چې تا ورسره هیڅکله مینه نده کړې او دا هرڅه د تل لپاره صفا کړه. هغه په غلا نظر ټام ته وکتل.

- ولې... څنګه ورسره مینه کولی شم، په ممکنه توګه؟

- دا ووایه چې تا ورسره هیڅکله مینه نه ده کړې.“ګیټس بې ورته وویل، هغه زړه نا زړه کیده، هغې کله ما ته او کله جوړډن ته د عرض په ځیر کتل او بیا ورته معلومه شوه چې هغه څه کوي او که څه هم هغې هیڅکله داسې څه لپاره نه تیاری او نه تکل درلود، خو اوس او به له ورښه تیرې وې.

- ما هغې سره هیڅکله مینه نده کړې...هغې بې مینې ځواب ورکړ.

-کاپیولانې کې هم نه؟ د ټام سترګې ډکې شوې او زر یې ترې وپوښتل.

- نا...

لاندې سالون نه درز غوبل غږونه اوریدل کیده.

- هغه ورځ هم نا چې پنج بال نه مې په غیږ کې راوستې وې تر څو دې بوټان وچ پاتې شي.د ټام په غږ کې یوه غښتلې نرمي پرته وه؛ ډیزي...؟

- داسې مه کوه...د ډیزي لهجه ارامه وه او هغه مخکینۍ کینه پکې نه وه. هغې ګیټس بې ته وکتل؛ واخله جی... د هغې لاسونه رپیدل، ګیټس بې ته یې سګرټ ونیو، دهغه د لاس نه سګرټ په ځمکه پریوت،

- ته ډېر څه غواړې، زه درسره اوس مینه لرم، دا تا لپاره بس ندي؟ زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پخوا باره کې هیڅ مرسته نه شم کولای.ډیزي په ژړغوني غږ وویل؛ ما هغه سره هم مینه کړې ده، خو زه تا سره هم مینه لرم.

ګیټس بې لکه سربداله چې شي،

- ته ما سره...هم لرې؟ هغه یې خبره تکرار کړه.

- کیدای شي دا هم دروغ وي. ټام په وحشي لهجه کې وویل؛ هغه ددې هم نه وه خبره چې ته ژوندی یې که مړ. ولې؟ دا ځکه چې زما او ډیزي تر منځ څه شته چې ته به هیڅکله پوه نشې، دا سې څه چې مونږ دواړه یې هیڅکله نه شو هیرولای. دې خبرو د ګیټس بې اوضاع خرابه کړه،

- زه غواړم ډیزي سره یواځې خبرې وکړم. هغه ټینګار وکه؛ هغه اوس ډېره وارخطا ده.

- که یواځې هم شم بیا هم دا سې نه شم ویلای چې ما ټام سره مینه نه ده کړې، دا به غټ دروغ وي. ډیزي په زړه سوی غږ کې وویل.

- ریښتیا هم دا به غلطه وي ! ټام یې خبره تایید کړه.

هغې خپل خاوند ته مخ واړوه،

-که چیرته دا تا ته څه فرق کوي.

- هرومرو ! ما ته فرق کوي او دې نه وروسته به دې لا ډېر خیال ساتم.

- ته پوه نه شوې، ټام !" ګیټس بې وویل، د هغه په غږ کې وارخطایي وه، ته به ددې نه وروسته د هغې خیال نه ساتې، زه یم کنه.

- ته به یې خیال ساتې؟ټام سترګې رابرګې کړې او په خندا شو، هغې اوس ځان قابو کې راوستی و.

- او دا نو ولې...؟

- ځکه ډیزي تا پرېږدي...



- چټیات...

- هغه ما نه پرېږدي ! ټام د ګیټس بې په لور ورکوږ شو؛ دا سې هم نه شي کیدای، ځکه د هغې په ګوته ګوتمۍ زما په نوم ده.

-زه نور نشم زغملای، ډیزي په ژړا شوه، خیر دی، راځئ کور ته لاړ شو.

- دا ته یې څوک، په هر حال؟ ټام د خبرو منځ ته راودانګل؛ بس هماغه د وولف شیم یو معمولي ناظر یې. تر اوسه چې زه خبر یم. ما ستا باره کې یو څه تحقیقات کړي دي، سبا نه نور تحقیقات هم کوم.

- همدې کې ساعت تېروه، زوړ یاره ! ګیټس بې وویل.

-زه خبر شوی یم چې ستا هغه ګودامونه د څه لپاره دي" هغه مونږ ته راکتل

- دې او وولف شیم دلته او شیکاګو کې یو څه ځایونه په کرایه کړي دي او په غیر قانوني توګه پکې شرابونه خرڅوي. دا خو یې لا ډېره وړه خبره ده. په لومړي ځل مې قمار خانه کې وکته.

- او دا خبره د څه باره کې وه؟ ګیټس بې موآدبه لهجه کې وویل؛ زه فکر کوم ستا ملګری والټر جیسن به هم خفه وي چې هلته رانغلې.

- او تا هغه کمین کې پرېښود ، همداسې نده؟ تا هغه پرېښود او هغې یوه میاشت نیوجرسي زندان کې تېره کړه، خدایه ! د والټر ښېرې تا پسې شه.

- هغه مونږ ته د هیڅ ښې نه و ، د ډېرو پیسو شوقي و ، زوړ یاره !

- ما ته نور (زوړ یاره ) ونه وای. ټام پرې ورچغه کړه، ګیټس بې غلی ولاړ و.

- والټر ته هم ځان سره زندان ته کش کولای شوې خو وولف شیم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله وربنده کړه. دغه پټ تجارتونه خو دې وړه خبره ده، خو ته اوس داسې کارونه کوې چې والټر یې ماته هم نه شي ویلای.

زما ډیزي ته پام شو، چې په وارخطایي کله ګیټس بې، کله ټام او کله جورډن ته ګوري.

ګیټس بې د ډیزي خواته ورغی، هغې سره یې په هیجاني توګه خبرې کولې، ددې ټولو خبرو نه یې انکار کاوه او ځان یې ورته سپیناوه. خو په ډیزي یې لا منفي اثر غورځوه، نو هغه خپله سلاح وغورځوله او د ماسپښین تیریدو سره د ګیټس بې مړ خوب جګړه هم پای ته ورسیده، هغه د هغه څه چې د حس کیدو امکان یې نه درلود، خپلول غوښتل، په نه زړه یې لا مقابله کوله، په یوې نوې هیلې سره...

- خیر دی ټام! زه نور وس نلرم.

د ډیزي ویرونکو سترګو ویل چې هر تصمیم او هر تشویش چې هغې درلود، اوس له منځه تللی و.

- تاسو دواړه د ګیټس بې موټر کې کور ته ځئ. ټام په خوښۍ وویل او لکه یو غټ جنګ چې یې ګټلی وي؛ ورځئ، هغه به تا نه ځوروي، زه فکر کوم هغه په ځان غره وړوکی غوندې ناز یې نور ختم شوی دی.

ډیزي پسې ګیټس بې ووت، پرته د څه ویلو. لکه د بلاګانو په څېر زمونږ نه وتښتیدل.

یوه شیبه وروسته ټام پاڅید او د ویسکي بوتل یې هماغسې بند بیرته توته کې تاووه،

- غواړې خو نه؟... جورډن...؟ نیک...؟

ما ځواب ورنکړ.

- نیک؟



- څه...؟

- غواړې؟

- نه... هسې زما را یاد شول چې نن زما کلیزه وه.

- کلیزه دې مبارک شه.

زه دیرش کلن وم، زما په وړاندې ویرونکې او د بدشګون ډکه لسیزه پیل شوه. تقریبا اووه بجې وې چې ټام سره د هغه موټر کې زه او جورډن کیناستو او د غربي جزیرې په لور روان شو. ټام په ځان ډیر ویاړي، هغه خوشاله دی او د خبرو منځ کې خاندي هم. د انسان خواخوږي هم یو حد لري او زمونږ د خواخوږۍ اندازه هم پوره شوې وه او مخکینی بحث مو هماغه د رڼا په ښار کې پریښود. دیرش کلن، د یوائې والي یوه لسیزه، یو مجرد سړي ته د پوهولو لپاره همدومره بس وي. خو اوس ماسره خواکې جورډن وه، هغه د ډیزي په څیر نه وه. هغه ډیره هوښیاره وه چې تېر شوي خوبونه د وخت په تیریدو سره له ځان سره وساتي. کله چې مونږ د تور پل نه تیریدو، د هغې پرکاله ستړی مخ زما په اوږو پروت و.

***

ځوان عبراني مایکل چې د ایرو درې په یو قهوې دوکان کې یې کار کاوه، هغه د صحنې شاهدي ویله. هغه چې کله د جورج ویلسن دفتر ته راغلی و نو هغه ناروغ پروت و. مایکل ورته ویلي ول چې لاړ شي او ارام وکړي یا ځان ډاکټر ته وښایي خو ویلسن نه منله ویل یې چې کار به یې خراب شي.

- ما خپله ښځه بره کوټه کې بندي کړې ده. هغه به سبا نه بله ورځ پورې هملته وي، ترڅو مونږ له دې ځایه لاړ شو. ویلسن خپل ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مایکل ته ویلي ول. مایکل حیران و ، هغوی د څلورو کلونو راهیسې ګاونډیان ول.

په عمومي توګه ویلسن د هغه کسانو د ډلې نه و چې ټوله ورځ به په چوکۍ ناست و ، خلکو او موټرو ته به یې کتل. کله چې به ورته چا کوم نصیحت کوه نو بې خونده خندا به یې ورته کوله. هغه د خپلې ښځې سړی و ، د خپل ځان سړی نه و.

په طبیعي ډول مایکل ترې پوښتلي ول چې څه شوي خو د ویلسن په هغې هم شک راغلی و چې ولې یې ورنه داسې پوښتنه کړې ده. یو څو نور مزدوران چې دننه راغلل نو مایکل هم د موقع نه ګټه اخیستې وه او تللی و. یو څو شیبې وروسته د اووه بجو نه تیرې وې، د خلکو د خولې خبر شو چې ښځې سره یې شور راخستی و. د ښځې غږونه یې بهر راتلل.

- ما ووهه، له دې ځای مې لاندې وغورځوه، ما ووهه، ته مردار خور بې غیرته انسان... یوه شیبه وروسته آغلی ویلسن تیارې ته راوتلې وه، یو موټر یې لرې لیدلی او پیژندلی یې و ، هغې ته یې لاسونه رپول تر څو ودریږي او خبرې ورسره وکړي. خو وړاندې تر دې چې خاوند یې دروازې ته راووځي میرمن یې د موټر لاندې شوې وه.

مایکل ویل د موټر رنګ یې سم نه دی لیدلی، خو لومړي جینایي پولیس ته یې وویل چې شاید شین رنګ یې درلود. او یو بل موټر چې نیویارک ته روان و ، خپل موټر یې غاړې ته کړ او د مارټل ویلسن خواته راغی، د هغې ژوند په بې رحمۍ له مینځه تللی و. مخ او نور ټول بدن یې په وینو او خاورو کې ورک شوی و. مایکل او موټر چلونکی لومړي کسان ول چې د پیښې ځای ته رسیدلي وو ، د هغې خوله وازه پاتې وه.



***

هغه لږ وروشو ، لاره هم بنده نه وه خو موټر ورنږدې شو. د خلکو بې سده او مړاوې څیرو لیدلو سره ټام مجبوره شو چې له موټره ورښکته شي.

- راځئ چې وګورو ، یو اځې ګورو یې.

موټر د ویلسن ګراج په لور روان شو ، ډېر خلک ولاړ ول، دننه نه ؛ اوه زما خدایه... غږونه راتلل.

- لکه چې څه پیښه رامنځته شوې ده." ټام هیجاني وپوښتل. هغه د ډله خلکو منځ کې ځانته لاره جوړه کړه، زه او جورډن ورپسې دننه ورغلو ، دننه یو زیړ څراغ تته رڼا جوړه کړې وه.

آغلی ویلسن کمپله کې او بیا یو څادر کې تاوه شوې د یوال سره خواکې په میز پرته وه. ټام چې موټر ته یې شاه وه، ورکوږ شو. خواکې پولیس سره یوه کتابچه وه چې شاید یاداښتونه یې اخستل. ویلسن لرې ولاړ او ژړل یې، یو څو کسان ترې چاپیره ولاړ په اوږه ورته لاسونه ږدي او ډاډ ورکوي، خو ویلسن نه څه لیدل او نه څه اوریدل، هغه بس هم دا چغې وهلې؛ اوه...زما...خدایه ټام سر راپورته کړ او ګراج کې یې شا وخوا کتل.

- ته څه غواړې ملګریه؟ پولیس، ټام نه وپوښتل.
- څه شوي؟ زه غواړم پوه شم.
- یو موټر ووهله او مړه شوه.
- په هماغه ساعت مړه شوه؟ ټام یې خبره تکرار کړه.
- ښځې سرک ته منډه کړه، د سپې زوی موټر هم ونه دراه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هلته دوه موټرې وې، یو موټر راروان او بل روان و. مایکل پولیس ته وویل.

- چیرته روان و؟ پولیس وپوښتل.

- هر یو په خپله لاره روان و. هغه سړي د مړي په لور اشاره کوله خو لاسونه یې بیرته نیمايي کې راستانه کړل؟ هغې رامنډه کړه او هغه موټر چې نیویارک نه راروان و، د هغه موټر مخې ته ورغله، زما په خیال د موټر سرعت ۷۰،۶۰ کې و.

- ددې ځای نوم څه شی دی؟ پولیس وپوښتل.

- نوم یې راته نه راځي.

یو باسلیقه تور سړی خواکې ودرید.

- هغه موټر زیړ رنګ و، غټ زیړ موټر و او نوی هم و.

- ټکر دې خپله ولید؟ پولیس ترې وپوښتل.

- نه...خو هغه موټر زما مخې ته راغی، هلته یې سرعت زیات شوی و. اتیا نوي کې روان و.

- دلته راشه او نوم دې راته ووایه.

یو څه خبرې دننه ویلسن هم واوریدې.

- تاسو ما نه پوښتنه وکړئ چې کوم ډول موټر و، زه پوهیږم چې کوم ډول موټر و. هغه ټام ته وکتل، هغه زر د ویلسن خواته راغی او د هغه مخې ته ودرید او د مټه یې ونیو.

- لږ ځان قابو که... ویلسن، ټام ته په ځیر ځیر کتل.

- واوره! ټام ورته ویل، هغه یې لږ ولړزاوه؛ زه همدا اوس نیویارک نه راغلم، ما درته هماغه موټر راوسته، ما چې درسره خبره کړې وه. هغه زیړ موټر، کوم چې ماسره ماسپښین و، هغه زما نه و، پوی شوې؟ ما



هغه موټر ماسپښین نه دیخوا نه دی کتلی.

یواځې زه او توری دومره نږدې وو چې د هغه خبرې مو واوریدې، خو د پولیس هم لږ شک راغی.

- څه خبره ده؟ پولیس وپوښتل

- ملګری مې دی.ټام، پولیس ته سر وروواړوه خو ویلسن یې لا لاسونو کې نیولی و. دا وایي چې هغه موټر پیژني...غټ زیړ موټر و. پولیس په شکي سترګه ټام ته وکتل.

- او ستا موټر کوم قسم رنګ لري؟

- زما خو آبي دوه کسي موټر دی.

- مونږ همدا اوس نیویارک نه راغلو. ماورته وویل، یو کس چې مونږ پسې راروان و، زما خبره تایید کړه. ویلسن یې لکه د ماشوم راپورته کړ ټام هغه دفتر ته ننویست، په څوکۍ یې کیناوه او بیرته راووت

- یو کس ورشئ او ورسره کینئ. دوه کسه مجبوره او په نه زړه کوټې ته ورغلل. ټام هغوی پسې دروازه بنده کړه او زما خواته راغی او راته یې وویل؛ راځه چې ځو.

ټام له صحنې ځای نه په ورو راووت، خو د پیښې ځای پناه کیدو وروسته په سرعت روان شو. شیبه کې سترګې ډکې شوې او سترګې یې موښلې،

- څه بیغیرته انسان، لږ خو به دې موټر ودرولی و.

***

ټام موټر کور کې ګراج مخې ته ودراوه او دوهم منزل ته یې وکتل، دوه کړکۍ له ورایه ښکاریدې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډیزي کورته راغلې ده. هغه وویل. کله چې مونږ کورته راورسیدو ، هغه وویل؛ ما باید تر کوره رسولی وی، نیک ! نن شپه مونږ هیڅ نه شو کولای. د هغه خبرو کې بدلون ښکاریده، هغه جدي و. زه به چاته وو ایم چې تا ته یوه ټیکسي راوغواړي او تا تر کوره ورسوي او دلته انتظار نه ښه ده، ته او جورډن لاړ شئ که اشپزخانه کې مو څه لګیدل، هغه د کور دروازه خلاصه کړه

- راځه دننه.

- نه خیر ویسې. خو زه به ډېر خوښ شم که د ټیکسي غم دې راته وخوړه. زه بهر انتظار کوم. جورډن خپل لاسونه زما لاسونو کې راکړل

- راځه دننه ځو ، نیک !

- نه، مننه...

زه لږ ناروغ غوندې وم، ما غوښتل یوائې واوسم، خو جورډن یوه شیبه نوره هم تم شوه،

- تر اوسه خو لا نهه نیمې بجې دي. هغې وویل.

په ما دې لعنت وي چې زه دې بیا دننه لاړ شم، ما په یوه ورځ کې ډېر څه ولیدل او ناڅاپه په دې دریځ کې جورډن هم شامله شوه. ما یوه شیبه خپل سر لاسونو کې نیولی ګنګس ناست وم، بیا مې واوریدل چې د کارکونکو مشر یو چاته د ټیکسي لپاره زنګ وهي. جورډن هم تریو تندی دننه لاړه، زه د دروازې په لور روان شوم، هملته به ټیکسي ته انتظار وباسم.

زه شل متره هم لرې نه وم تللی چې خپل نوم مې واوریده او ورسره ګیټس بې د بوټو د منځ نه راووت، زه باید هغه وخت ډېر حیران شوی وم. خو د سپوږمۍ په رڼا کې مې یوائې د هغه ګلابي دریشي ته پام شو.



- ته څه کوې دلته؟ ما وپوښتل.

- بس هم دلته ولاړ وم زوړ یاره !

په یو نظر خو دا ډېر سپک کار دی. ما باید فکر کړی وای چې هغه به دا کور ولوټي خو زه د ګناهګارو څیرو په لیدلو عادي وم، لکه د وولف شیم څیره

- په لاره کې خو څه ستونزه نه وه پیښه شوې؟ شیبه وروسته یې وپوښتل.

- هو...هغه زړه نا زړه کیده.

- څوک خو پکې مړ شوی نه و ؟

- هو...

- ما همدا فکر کاوه، ما ډیزي ته ویلي و. ما همدا فکر کاوه. او دا ښه وي چې ټکان یو دمې راشي. هغه داسې لګیا و لکه یوائې چې د ډیزي خبرې فرق کوي.

- زه غربي جزیري ته په بل سرک تللی وم او خپل موټر مې ګراج کې پریښود. زه فکر نه کوم که مونږ چا لیدلي یو. خو زه ډاډمن یم چې مونږ چا نه یو لیدلي.

په دې وخت کې مې ترې زړه ډېر بد شو او ډېره غوسه مې هم ورته راغله، د ډېرې غوسې نه ورته غلی ولاړ وم.

- هغه ښځه څوک وه؟ هغه وپوښتل.

- د هغې نوم مارټل ویلسن و ، خاوند یې هملته ګراج درلود ، دا شیطاني پیښه څنګه رامنځته شوه؟

- ما غوښتل چې هغې نه اشترنګ... ما غوښتل اشترنګ تاو کړم.خبره یې منځ کې پرې شوه او ما ته حقیقت راڅرګند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- موټر ډېزي چلوه...؟

- همممم... هو. یوه شیبه وروسته یې وویل؛ خو زه به وایم چې موټر ما چلاوه، ته خو خبر یې چې مونږ نیویارک ته راتلو نو هغه ډېره هیجاني وه او هغې فکر کاوه چې موټر چلولو سره به یې ماغزه لږ په ارامه شي، خو هغه ښځه یو ناڅاپه زمونږ مخې ته راغله، دا هرڅه یوه شیبه کې رامنځته شول، ماته داسې ښکاریده لکه هغې چې مونږ ته اشاره کوله او هغې مونږ سره خبرې کول غوښتل. لومړی ډېزي موټر د ښځې نه بچ او د مخامخ راروان موټر په لور تاو کړ او بیا یې د وارخطای نه بیرته د هغې په لور اشترنګ ووهه. تر څو چې زما لاس اشترنګ ته رسیده نو ښځه مې په هوا ولیده، زما په فکر هماغه شیبه کې وژل شوې وه.

- هغه په مینځ دوه شوې وه.

- ماته یې مه یادوه، زوړ یاره! هغه ټکان وخوړ؛ ما غوښتل د ټکر مخه ونیسم، نو لاسي بریک مې راکش کړ، خو ګټه یې نه وه، له هغې وروسته زه خپله موټر ته کیناستم، هغه به سبا پورې ښه شي، بس زه همدلته انتظار کوم او ګورم که چیرې ورته ټام د نن ماسپښین بحث باره کې څه کم عقلي کوي نو زه به یې مخه ونیسم. هغې خپل ځان کوټه کې بند کړی دی. که چیری ټام څه حماقت کوي نو ما هغې ته ویلي چې څراغ روښانه او بیا مړ کړه.

- هغه به ورته هیڅ هم ونه وایي. ما ورته وویل.

- زه په هغې باور نه لرم، زوړ یاره!

- ته به تر کومه انتظار کوې؟

- ټوله شپه که ضرورت وي، تر هغه مهال به هغوی ویده شوي هم وي.

یوه نوې خبره مې ذهن ته راغله، که چیرې ټام خبر شي چې موټر ډېزي



چلوه، هغه به فکر کوي چې دواړه خبرې څه تړاو لري، هغه د هرڅه باره کې فکر کولای شي. ما د ډېزي کور ته ورو وکتل، یوائې دوه خونو کې څراغونه بل ول.

- ته صبر وکه زه ګورم چې څه خو شته نه... ما د کړکیو نه غلې وکتل، برنډه کې هماغسې څراغونه لګیدلي وو لکه درې میاشتې وړاندې چې زه ډوډۍ لپاره رابلل شوی وم... اشپز خانه کې ډېزي او ټام یو بل ته مخامخ ناست وو، تر منځ میز باندې یخ سورکړی چرګ او دوه بوتله شراب ایښي وو. یو ځل به ورته ډېزي بره وکتل، ټام ورته خبرې کولې او هغې ورته سر خوځاوه.

هغوی خوشاله نه ښکاریدل، هغوی د چرګ او یا د شرابو نه هیڅ نه و خوړلي او دواړه خفه هم نه ښکاریدل. کله چې برنډې نه راښکته شوم، بهر نه مې د ټکسي غږ واوریده او ګیټس بې همله ولاړ انتظار کاوه.

- هر څه خو سم دي؟ هغه بې کراره وپوښتل.

- هو... هر څه سم دي. ما زړه نا زړه وویل؛ ښه ده چې لاړ شې او لږ خوب وکړې.

هغه سر خوځاوه.

- زه همدلته انتظار کوم تر څو ډېزي په ارامه خوب وکړي... ښه شپه زوړ یاره!

هغې خپل لاسونه کورتۍ جیب کې ننباسل او یو ځل بیا د بوټو ترمنځ پټ ودرید او په ځیر ځیر یې کوټې ته کتل. زه مجبوره شوم، هغه مې همله د سپوږمۍ په سپینه رڼا کې پریښود، هغه د څه انتظار کاوه او څه شي ته یې کتل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم څپرکی

ماتوله شپه خوب ونه شو کړای. زه لېر ناروغ هم وم، که سترګه به مې پټه شوه نو وحشي او ويرونکي خوبونه به مې ليدل. سهار سپيده داغ مهال د موټر غږ اوريدو سره له ځايه پورته شوم، کالي مې بدل کړل او د ګيټس بي کور ته روان شوم، زه پوه شوم چې همغه دی. ما غوښتل د سهار کيدو نه وړاندې ورسره وګورم او د يو څه باره کې خبرداری ورکړم ځکه د سهار رارسيدو پورې به ډېر ناوخته شي.

د هغه کورته ورننوتم، باندينۍ دروازه خلاصه وه. دننه لاړم، دهليز کې الماری ته ډډه وهلی ځوړند ولاړ و، لکه توله شپه چې يې خوب نه وي کړی.

- هيڅ ونه شول. هغه په مړاوي غږ وويل.... زه تر ځلورو بجو هملته ولاړ وم، بيا هغه کړکۍ ته راغله، يوه شيبه ولاړه وه او بيا يې څراغ مړ کړ.

د هغې کور ماته هيڅکله دومره ستر نه وښکاره شوی، په هماغه



سهار چې مونږ سګرټ څکولو لپاره يوې کوټې ته لاړو. خو اوس هر ځای ګردونه پراته ول او کوټه ګردجنه وه لکه د څو ورځو راهيسې چې صفايي نه وي شوې.

- ته بايد دا ځای پريږدې. ماورته وويل.... دا ښکاره خبره ده چې هغوي به ستا موټر تعقيب کړی وي.

- اوس دا ځای پريږدم؟ زوړ ياره !

- يوې اونۍ لپاره اټلانټيک يا مونټيريل ته لاړ شه.

هغه زما خبرې باره کې هيڅ فکر ونه کړ، هغه ډيزي نه شوه پريښودی، تر څو هغه پوه شي چې ډيزي به څه پريکړه وکړي. هغه يوه اخيري هيله راټينګه کړې وه او ما هغه يواځې نه شو پريښودی. دا هغه سهار و چې هغه ماته د خپلې ځوانۍ او د ډان کوډي سره د يوځای کيدو کيسه کړې وه.دا کيسه يې راته ځکه کوله چې هغه د ټام پر وړاندې دښمنۍ کې ماتې خوړلې وه. زما په فکر هغه اوس په هر څه اعتراف کړی و، پرته د څه پټ ساتلو خو هغه ډيزي سره خبرې کول غوښتل.

ډيزي د هغه په ژوند کې لومړنۍ ښايسته جينۍ وه، په مختلفو ناڅرګندو استعدادونو درلودلو سره هغه د هر چا سره اړيکې نه درلودې. د هغه د زړه يواځينۍ غوښتونکې انجلۍ وه. هغه د ډيزي کورته په لومړي ځل د څه نورو افسرانو سره د ټايلر کيمپ نه تللی و او بيا وروسته به يواځې ورتلو. هغه ډېر خوښ بريښېده، هغه لا تر اوسه په داسې کور کې نه و پاتې شوی. هلته يو پوخ راز پروت و، يو څو کوټې بره د اوسيدو لپاره ښايسته او يخې وې او يو څه په زړه پورې کړنې به د همغې کوټو مخې دهليزونو کې تر سره کيدې، کله چې به ډيزۍ او ګيټس بي کور کې يواځې پاتې شول، هغې ته يې هم ډېر خوند ورکاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېرو نورو سړيو هم ډېزي خوښيده، نو ځکه د همدې افسر په زړه کې د ډېزي لپاره ارزښت نور هم زيات شوی و.

خو هغه پوهيده چې د ډېزي په کور کې د هغه شتون تصادفي و، خو بيا هم جې ګيټس بې لپاره د آينده زمانت چا ورکاوه، هغه دا مهال يو تش لاسی ځوان و چې د هغه په دريشي لګيدلې ستوري او نښې هر مهال ترې اخيستل کيدای شوې. ګيټس بې د هماغه مهال نه دوخت نه ګټه اخستل پيل کړي ول، هغه څه يې چې کولای شول تر لاسه يې کړه. په بې مسلکۍ او په نه تجربې...

هغه ځانته په ټيټه سترګه ونه کتل. اګر چې د هغه شاته يې د کورنۍ يو غړی هم نه و ولاړ، هغه پوهيده چې ډېزي ډېره فوق العاده جينۍ ده خو هغه په دې نه پوهېده چې يوه فوق العاه جينۍ څه ته وايي؟ ډېزي خپله شتمنه کور کې ورکه وه. ګيټس بې يې هېر کړی و، خو ګيټس بې ورسره په خپلو خيالونو کې واده هم کړی و.

کله چې دوه ورځې وړاندې هغوی يو بل سره وکتل، ګيټس بې بې ساه و، لکه دا جفا چې همغې کړې وي.

-زه تاته هيڅ نشم ښوولای چې زه څومره حيران وم کله چې زه په ځان پوه شوم چې ورسره مينه لرم. ما به کله کله دا فکر کاوه چې شايد هغه مې پرېږدي خو هغې هغه مهال داسې ونکړل، ځکه هغې ما سره مينه لرله. هغې دا فکر کاوه چې زه به په ډېر څه پوهيږم خو خبره يواځې دلته وه چې زه په مختلفو شيانو پوهيدم...نو بيا... خبره تر دې راورسيده، حرص مې کم شو او دهغې په مينه کې شيبه په شيبه وردننه کيدم او بيا مې د هيڅ شي پروا نه درلوده. د لويو کارونو کولو څه ګټه وه؟ که ما هغه وخت کې هغې ته د راتلونکې باره کې خبرو کولو نه خوند اخسته.



په اخري ماسپښين يې چې کله ډېزي نه خدای پاماني اخسته، هغې سره خواکې ناست و، لاسونه يې پرې اچولي و، د مني يخه ورځ وه. په کوټه کې اور بل و، د هغې اننګي سره شوي ول. ډېره شيبه وروسته هغه لړه وخوځيده او د ګيټس بې مړوند دمه ولېده او بيا توره تياره کې خوله په خوله شول. هغه ماسپښين دواړه خوبوړي شول، هغوی په مياشت کې هم دومره سره نه و يوځای شوي او نه يې هم يو د بل سره دومره خبرې کړې وې. او بيا يې د هغې په اوږه سر ايښی و او د هغې نرمو ګوتو سره يې لوبې کولې او بيا هغه ويده شوی و.

❀❀❀

هغه په جګړه کې ډېر په ميړانه وجنګيد، د اوربند نه وروسته يې غوښتل چې کورته لاړ شي خو د څه غلط فهمۍ له وجې هغه اکسفورډ ته وليږل شو. هغه خفه و، ځکه د ډېزي د خطونو نه د نا اميدۍ او مايوسۍ بوی راتلو. ډېزي به ترې پوښتل چې ولې نه شي کولای کور ته راشي، ډېزي باندې هم بهرني فشارونه پراته ول. هغې ورسره ليدل غوښتل او د ګيټس بې شتون ته يې اړتيا درلوده.

داسې وخت هم شو چې ډېزي به ډېرو سړيو سره کتل ځکه د هغې د يواځې والي ترخې شيبې اخري حد ته رسيدلې وې، چې هماغه پسرلي کې ټام بکنن راورسيده. ټام د يو ښاغلي په څېر و. ګيټس بې ته خط همدلته په اکسفورډ کې ورسيد.

ما ورنه وپوښتل، چې هغه خط کې څه ول چې ډېزي ته د واده په شپه رسيدلی و.

-د جګړې ختميدو نه وروسته نشم کولای درشم، ماته لږ صبر وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځان نه څه جوړ کړم.

رڼا لږه خپره شوې وه، مونږ لاندینۍ کړکۍ هم پرانستې وې، مرغیو ونو کې چغې شروع کړې وې. نرې شمال سهار وختې لږ یخ غوندې و او د ګرمۍ د ختمیدو زیری یې راکاوه.

- زه فکر نه کوم چې هغې به ټام سره مینه کړې وي.

ګیټس بې د کړکۍ نه سر راوګرځاوه او ماته یې داسې راکتل لکه چیلینج راکوي چې ته ترې هم انکار نه شې کولای.

- تا ته یاد شي زوړیاره! پرون ماسپښین ډېره وارخطا وه، هغې ځکه داسې خبرې وکړې چې ټام ویرولې وه. او بیا هغه هیڅ نه پوهیده چې څه وایي.

هغه غمجن کیناست.

- هغې کیدای شي هماغه دقیقه ورسره مینه کړې وي چې کله یې واده و او هغې نه ډېره مینه ماسره لري، ته خو پوهیږې؟

سهار نهه نیمې بجې وې، مونږ چای څښلې وې، بهر برنډه کې ناست وو. تېره شپه لکه موسم بدلیدونکې شپه وه او نن سهار یې ننښې ښکاریدې، باغوان چې د ګیټس بې پخوانیو کارکونکو نه و، رانږدې شو.

- ښاغلې ګیټس بې! نن به حوض اوبو نه ډک کړم، پاڼې نور په رژیدو دي او بیا پیپونه بندیږي.

- لږ وروسته یې ډک کړه.

ګیټس بې ماته مخ راواړوه: ته پوهیږې زوړیاره! ما په دې حوض کې ټول اوړی نه دي لمبلي.

ما خپل لاسي ساعت ته وکتل او په نه زړه پاڅیدو کې شوم.



- زما ریل ته دولس دقیقې پاتې دي... ما نه غوښتل چې ښار ته لاړ شم او نه مې هم کار ته زړه کیده. یو څه چې زما زړه یې غوښتل چې ګیټس بې یو اځې پرینږدم. ما نه ریل پاتې شو او بیا وروسته بل هم، ترڅو مې ځان تلو ته برابروه.

- زه درته بیا زنګ وهم. ما ورته وویل.

- سمه ده، زوړ یاره!

- غرمه شاوخوا دې احوال اخلم. هغه هم ماسره په زینو کې راښکته شو.

- زه فکر کوم ډیزي به هم ترغرمې راته زنګ ووهي. هغه ما ته د اندیښنې نه په ډک نظر وکتل لکه چې زه یې خبره تایید کړم.

- زه هم ګمان کوم...

- ښه، خدای پامان.

مونږ سره لاسونه ورکړل او زه ترې روان شوم. لږ وړاندې لاړم، یو څه مې رایاد شول.

- هغوی ټول بې کاره پرزې دي، هیڅوک پکې ستا ارزښت نه لري. ما د لرې نه په چغه ورته وویل.

زه تل ډېر خوشالیږم چې ما ورته داسې ویلي و، ځکه دا زما هغه سره یو اځینۍ خواخوږي وه، د اول نه تر اخره پورې مې د هغه هره خبره رد کړې او یا مې پکې خوراویستې ده. لومړی یې په درنښت سر وخوځاوه او بیا د هغه په مخ کې ځلانده او پوهیدونکې موسکا خپره شوه لکه دا ټول وخت چې مونږ دواړه په یوه ستره ماجرا کې ښکیل وو، هغه اوس هم هماغسې ښایسته لباس پر تن و، لکه ما چې نن نه درې میاشتې وړاندې د همدې کور په محفل کې لیدلی و، زینو کې ولاړ او خلکو ته یې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پامانۍ لپاره لاسونه رپول.

ما د هغې میلمه پالنې نه مننه وکړه، مونږ ټولو باید د هغې میلمه پالنې نه مننه کړې وای، هغه هملته ولاړ و.

- خدای پامان. ماورچغه کړه،... سهار چای ډېر خوند وکړ، ګیټس بي !

***

کار ځای ته تللی وم، کار ته مې زړه هم نه کیده، په همدې کې پریشانۍ وړی وم. غرمې نه لږ مخکې د ټیلیفون غږ سره راپورته شوم، تندي نه مې خوله وچه کړه. جورډن بیکر ټیلیفون کړی و. هغې به زیاتره وخت ماته په دې مهال زنګ وهه. په هره حال د هغې غږ اوریدو سره به لږ تازه شوم، لکه په ګرمه ګرمۍ کې خدایي یخ شمال د کړکۍ خلاصولو سره راننوځي، خو دا ځل د هغې غږ وچ او زیږ معلومیده.

- ما د ډیزي کور پریښود، زه هیمپ سټیډ کې یم او نن ماسپښین سوت المپټن ته روان یم. دا خو اصولي خبره وه چې هغې د ډیزي کور پرېښی و خو دې خبرې زه وځورولم او ورپسې خبرې لا پسې غمجن کړم.

- تېره شپه دې راسره سلوک سم نه و.

- دا نو بیا څه فرق کوي؟

- په هر حال غواړم وګورم درسره...

- زه هم غواړم درسره وګورم.

- فرض که زه نن سوت المپټن ته لاړه نه شم او نن ماسپښین ښار ته درشم.

- نا ، زه فکر نه کوم چې نن ماسپښین به سم وي.



- ښه، نو...

- نن ماسپښین امکان نه لري...“مونږ یوه شیبه په همدې خبرې وکړې او بیا زمونږ خبرې ختمې شوې، زه پوه نشوم چې مونږ دواړو کې چا غوږی مخکې کیښود. خو زه یې کیسه کې نه وم.

څو دقیقې وروسته مې د ګیټس بي کور ته زنګ ووهه، خو ټیلیفون بوخت راته. ما درې څلور ځله هڅه وکړه. خپل مهال ویش مې وکوت او درې نیمو بجو ریل کې مې د تلو اراده وکړه. بیا په خپله سپرنګي څوکۍ اوږد وغزیدم، ما غوښتل فکر وکړم، دا مهال غرمه وه.

***

جورج ویلسن خو ټوله شپه د ښځې د بیلتون په ویر تېره کړې وه.ملګري تر سهار درې بجو پورې ورسره وو، تر هغه مهال لږ غلی شوی و او د زیړ موټر باره کې یې خبرې کولې. هغه همدا پوښتل چې زیړ موټر د چا و؟. هغه د خبرو په منځ کې بیا په ژړا شو: اوه... زما خدایه...او زما خدایه... مایکل یې د فکر بدلولو لپاره ورته وویل:

- څومره وخت مو د واده کیده؟راشه دلته، یوه شیبه کینه ! زما پوښتنې ته ځواب راکه، د واده دې څومره وخت کیده؟

- دولس کاله...

- ماشومان دې درلودل؟ جورج ! سم کینه، ما درنه پوښتنه کړې ده، بچې دې شته که نا ؟

خو هغه یې په خبرو سر نه خلاصوه. جسد لا تر اوسه هملته پروت و. مایکل مجبوره شو ، خواته ورغی، ورسره کیناست.

- تر اوسه کومې کلیسا ته تللی یې؟ جورج ! یا ډېر وخت کیږي نه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللی؟ که کومې کلیسا ته زنګ ووهم او تا لپاره یو پادري راوغواړم تر څو تا ته لږې خبرې وکړي، سمه ده؟

په دې کې د هیچا کار نشته؟

- ته باید کلیسا ته لاړ شې جورج! او بیا داسې وختونو کې تلل اړین وي، ولې تا کلیسا کې واده نه وکړی؟ جورج، زما خبرې ته غوږ شه، تا کلیسا کې واده نه وکړی؟

- هغه ډېر پخوا و...

د هغه خبرو پرې کوم مثبت اثر نه کاوه. بیا یې سر راجیګ کړ، سربداله غوندې ښکاریده.

- هغه روک وګوره. ویلسن وویل او میز ته یې اشاره وکړه،

- کوم روک؟ مایکل څنې وپوښتل.

- هغه برنی، هغه یو. مایکل روک خلاص کړ. روک کې دننه یو شی ټوټه کې تاو و.

- دا شی؟ مایکل هغه شی لاس کې نیولی و، هغه ته یې اشاره وکړه، ویلسن ورته د سر په خوځولو هو وویل.

- ما پرون ماسپښین پیدا کړه، زما ښځې سره وه. هغې ما ته د دې باره کې ویل خو ما یې خبرې ته غوږ ونه نیو.

- ستا ښځې راوړی و؟

- هغې خپله الماری کې ایښی و. مایکل پرته د څه ویلو هغه شی ویلسن ته ورکړ، د مایکل په وینا هغه شی دروند غوندې ښکاریده. ویلسن ځان سره لګیا و: یارانه یې ورسره وه او بیا همدې ووژله...

- چا ووژله؟

- ما ته پته ولګیده.



- ته ناروغ شوی یې، جورج! ته د فشار لاندې یې او ته نه پوهیږې چې څه وایې. ته سهار پورې صبر وکړه...

- هغې ووژله...

- دا خو یو ټکر وو کنه.

ویلسن د نا په ویلو سر خوځاوه، هغه سترګې بندې کړې او خوله یې خلاصه وه: هممم...

- زه پوهیږم چې هیچا ته بد نه رسوم، خو چې کله زه پوه شم بیا پوهیږم چې څه باید وکړم. په موټر کې هماغه سړی و، زما ښځې ورسره خبرې غوښتې او هغه ونه درید، زما د ښځې یار او قاتل...

- ستا ښځه څنګه داسې کولای شي؟

- هغه ډېره ژوره وه... ویلس وویل.

***

سهار شپږو پورې مایکل هم خپل کور ته تللی و. ویلسن هغه وخت کې غلی و، خو کله چې مایکل څلور ساعته وروسته راپاڅیده او د ویلسن ګراج ته راغی نو جورج ویلسن تللی و.

درې ساعتونه کیدل چې ویلسن نا درکه و. پولیسو چې د مایکل له خولې یې اوریدلي و، چې ویلسن ویلي و کس به پیدا کوم. هغه وتلی و او د زیړ موټر باره کې یې پوښتنې کولې، بیا ماسپښین دوه نیمو بجو پورې غربي جزیرې پورې رسیدلی و او هلته یې د چا نه د ګیټس بي د کور پوښتنه کړې وه. او بیا له هغې وروسته یې د ګیټس بي نوم وپیژنده.

***

ماسپښین دوه بجې وې، ګیټس بي خپل د لمبلو لباس پر تن کړ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړي ځل لپاره يې غوښتل چې حوض کې ولامبي. د کارکونکو مشر ته يې ويلي و که چا ټيليفون وکړ نو حوض ته دې يې راوړي. لږه شيبه يې حوض ته کتل او بيا يې پکې ځان ور وغورځاوه، د کارکونکو مشر ورته ويل تر څو ورسره کومک شي ځکه د هغه طبيعت سم نه ښکاريده، خو هغه د نا په ويلو سر وخوځاوه. نن ورځ ټيليفون ته ځواب ويل او ګيټس بي ته خبر ورکول د کارکونکو د مشر لومړيتوب و.

زما په خيال ګيټس بي خپله هم باوري نه و چې ډيزي به ورته ټيليفون وکړي او کيداى شي نور يې کيسه کې هم نه وي. که چيرته دا صحي وي نو هغې بايد دا احساس کړی وی چې د ژوند خوږې شيبې يې له لاسه ورکړې او د ستر قيمت په بدله کې يې د يو نيمګړي خوب پوره کولو باندې برباد کړ.

د کارکونکو مشر د ډز غږ واوريد، هغه وروسته ويل چې د داسې پيښې مخنيوي لپاره يې څه چمتو والی نه درلود او يا دا يې فکر کی هم نه راتلل چې داسې څه به پيښيږي. زه د ښار نه نيغ د ګيټس بي کور ته لاړم. خو هغوی پوه شوي ول او زه هم باوري وم، موټر څلور واړه، زه، موټروان، د کارکونکو مشر او زوړ باغوان حوض سره ولاړ وو.

هلته هر څه پرکاله وو، يوائې د اوبو خوځښت و چې د يوې خوا تازه اوبه حوض ته ننوځي او بل سوري کې ترې ووځي، هلته اوبو کې بې سکه پروت و، د هغې سيوری د اوبو په تل کې ښکاريده، د حوض اوبو خپل رنګ بدل کړی و، که څه هم تازه اوبو د زړو اوبو ځای نيوه خو لا پکې سور رنګ له ورايه ښکاريده، د حوض بل سره ته په شنو وښو کې د ويلسن جسد هم پروت و او پيښه په هماغه شيبه کې سر ته رسيدلې وه.

هماغه شيبه مې ورته دفتر نه ټيليفون کړی و، هماغه شيبه ويلسن



تمانچه په لاس ګيټس بي ته د حوض سر ته ولاړ و، هماغه شيبه ګيټس بي د حوض نه د راوتو په حال کې و تر څو د هغه په خيال د ډيزي ټيليفون ته ځواب ووايي، هماغه شيبه ويلسن هغه د شا له لورې په چپه اوږه وويشت او هماغه شيبه ويلسن تمانچه په خپل سر ږدي او ځان وژني.

ما ټيليفون کې د دوه ډزو غږ هم واوريد، خو بيا ټيليفون ته څوک رانغی، د کارکونکو مشر وړاندې تر دې چې ويلسن ته ځان ورسوي، هغه خپل کار ويستی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. اوله کې زه حيران او کشمکش کې وم، خو کله چې مې هغه خپل کور کې بې ساه او بې سده پروت وليد ، نو شيبه په شيبه به مې ځان مسول ګڼه، ځکه نورهيڅا پکې دلچسپي نه اخسته...

د هغه د مرګ نه يو ساعت وروسته مې ښه په ډاډه زړه ډيزي ته زنګ ووهه، خو هغې او ټام په هماغه ماسپښين خپل سامان سره د کوره وتي وو او يا کيداى شي دګيټس بې مرګ نه هم خبر شوي او بيا تللي وي.

- هيڅ کومه پته يې نه ده پرېښې؟
- نا...
- څه يې ويلي کله به بيرته راستنيږي؟
- نا...
- څه معلومات درته شته چيرته به وي؟ څنګه هغوى سره اړيکه نيولى شم؟
- زه نه يم خبر، نشم ويلاى.

د ډيزي له لورې ناهيلې شوم. ما غوښتل ګيټس بې لپاره څوک نږدې راپيدا کړم. ما غوښتل چې د هغه کوټې ته لاړ شم چيرته چې هغه پروت دى او هغه ته ډاډ ورکړم: يو څوک درته پيدا کوم، ګيټس بې! ته غم مه کوه، بس په ما باور ولره زه به درته څوک پيدا کړم...

د ښاغلي وولف شيم نوم کتابچه کې نه و. د کارکونکو مشر د هغې دفتر شميره راکړې وه خو کله مې چې دفتر ته زنګ ورووهه، پنځه بجو نه تيرې وې، ټيليفون ځوابولو لپاره يو څوک پيدا شو ،

- ته بيا ټيليفون کوې؟
- ما درې ځله وړاندې هم زنګ وهلى، ډېره ضروري ده...
- وبښئ اوس هيڅوک نشته.



# نهم څپرکې

دوه کاله وروسته مې هماغه ورځ او هاغه شپه بلکې ورپسې څو ورځې مې ډېرې ښې يادې دي. پوليس، عکاسان او اخبارونو والا سړي د ګيټس بې کور مخې ته ډله ولاړ وو. د ډېرو رسنيو راپورونه اکثره د پيښو پورې اړوند او ناسم وي. کله چې مايکل شاهدي ورکوله هغې ويلي و چې ويلسن خپله ميرمنه باندې شکمن شوى و ، خو کيټيرين چې د ويلسن خينه وه، دهغې په وينا چې خپله خور يې هيڅکله ګيټس بې سره نه وه ليدلې. هغې خپلې اوښکې د سمال باندې وچولې. د همدې څيړنو پر بنسټ دا ثابته شوې وه چې ويلسن د ډېر خفګان له کبله مغزي توازن له لاسه ورکړى و او د سم او غلط توپير يې نه شو کولاى ځکه داسې يوه کړنه يې ترسره کړه.

ما خپل ځان د ګيټس بې په خوا کې ډېر يواځې وموند ، ما سره نور هيڅوک نه و ولاړ. کله چې ما غربي جزيرې کې رسنيو ته د ګيټس بې د مرګ باره کې خبر ورکړ، نو د ګيټس بې په اړوند هره پوښتنه ماته راجع

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بیا لاړم کوټې ته، د یوې شیبې لپاره مې فکر کاوه چې بل څوک به داسې پیدا کړم، ګیټس بي یواځې پروت دی او خبرې یې زما مغزو کې تاویږي،

- ما ته وګوره، زوړیاره ! یو څوک خو راته پیدا کړه، ته خپله پوره هڅه وکړه، زه یواځې دا هرڅه نشم زغملای.

یو څو کسانو ما نه پوښتنې کولې، خو زه په مات زړه بره لاړم، ګیټس بي ماته د خپل مور او پلار باره کې هم نه و ویلي چې ژوندي به وي که څنګه؟ خو هلته د هغه په کور کې هیڅوک نه وو، پرته د ډان کوډي د انځور نه.

راتلونکی سهار مې د ګیټس بي ناظر ته یو خط ورکړ او نیویارک ته مې ولیږه تر څو وولف شیم ته خبر ورکړي، هغه نه مې وغوښتل تر څو د هغه کورنیو غړو باره کې راته ووایې او پرته د ځنډ نه راشي. زه ډاډه وم چې هغه به اخبار کې د خبر لیدو سره راشي، هغسې ډاډه چې ډیزي به غرمې نه وړاندې زنګ ووهي، خو نه هم زنګ راغی او نه هم وولف شیم رامعلوم شو.

*...ښاغلې کیرووي، دا زما د ژوند تر ټولو غټه غمیزه او غټ ټکان و او په حقیقت کې پرې باور هم نشم کولای. داسې احمقانه کار چې هغه سړي کړی دی باید مونږ ټول ورته په فکر کې شو. زه اوس نشم راتلای، ځکه دلته ډېر ضروري کارونه لرم او ځان ترې خلاصولی نشم. که زما په اړوند هر څه خدمت وي بیا وروسته ویلی شې. زه نه پوهیږم چیرته یم خو چې کله داسې خبر واورم بیا ډېر خفه کیږم.*

*په درنښت*

*مئیر وولف شیم*



کله چې ما سپښین زنګ راغی، سړي وویل چې شیکاګو نه څوک خبرې کوي. ما بیا هم فکر کاوه چې ډیزي به وي، خو په غوږي کې مې د یو سړي اواز واوریده.

- سلیګل خبرې کوم...

- ښه...“غږ نا اشنا ښکاریده.

- عجیبه خبر و کنه؟ زما زنګ درغلی و ؟

- کوم زنګ نه دی راغلی.

- ځوان پارکز ستونزه کې دی، هغه زر زر لګیا و، هغوی هغه د خرڅلاو میز خوا کې نیولی و. هغوی ته چا د نیویارک نه خبر ورکړی و، ته تری څه احوال لرې...

- هیلو... ما یې خبره ورپرې کړه: غوږ ونیسه، زه ښاغلی ګیټس بي نه یم، ښاغلی ګیټس بي مړ شوی دی.

یوې شیبې لپاره هغه چپ و، بیا یې لکه چې ټیلیفون بند کړی و.

***

زما په خیال نن دریمه ورځ وه. د مینیسوټا نه د هینري ګیټز په نوم یو تیلي ګرام راورسید، هغې کې یواځې دومره لیکل شوي و چې همدا اوس درروان شوم او جنازه یې تر راتګ وځنډول شي.

هغه د ګیټس بي پلار و، یو جدي زوړ سړی و، هغه ډېر بې وسه او تشویش کې ښکاریده، د سپټمبر په معتدله موسم کې یې غټه چپنه اغوستې وه. ما د هغې نه بیګ او چترۍ واخستل، هغه ډېر ستړی ښکاریده. ما د موسیقۍ خونه کې کیناوه او ترې ووتم تر څو ورته خوراک لپاره څه راوړم. خو هغه هیڅ ونه خوړل، خو یو ګیلاس شودې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رپيدلي لاس واخستې.

- ما د شيکاګو اخبار کې وليدل. هغه وويل: د شيکاګو هر اخبار سر خط همدا و، ما چې وکتل بس راروان شوم.

- زه نه پوهيدم چې تاسو سره څنګه اړيکه ونيسم.د هغه سترګې لکه هيڅ چې نه ګوري او په پرله پسې توګه يې کوټې ته کتل.

- هغه سړی ليونی؟ هغه سم ليونی و... هغه وويل.

- قهوه درته راوړم؟ ما وړانديز ورته وکړ.

- هيڅ شی نه غواړم، زه بيخي ښه يم، ښاغلی...

- کيرو وي.

- ښه ښاغلی کيرووي زه ښه يم، زه غواړم خپل جيمي سره وګورم...هغه به ورته د مينې نه جيمي ويل، هغه مې کوټې ته ورننويست، زه ترې راووتم. شيبه وروسته ښاغلی ګيټز کوټې نه راووت. دهغه سترګو کې اوښکې ځليدې. او کله يې چې لوی دهليز او لويو کوټو ته کتل نو د خفګان سره سره يې يو ويار هم سترګو کې ښکاريده. ما تر خوب خونې پورې بوته، هغه خپله چپنه وويسته، ما هغې ته دا هم وويل چې ستاسو راتګ ته مو هر څه ځنډولي.

- زه نه پوهيږم چې تاسو څرنګه غواړئ؟ ښاغلې ګيټس بې

- ښاغلې ګيټز، زما نوم دی.

- ښاغلې ګيټز، ما فکر کاوه چې تاسو به جسد غربي خواته وړئ؟ هغه خپل سر خوځاوه.

- د جيمي همدا ختيځ سيمه خوښه وه. هغه په خپل زړه همدلته اوسيدلی دی، ته زما د ځوی ملګری وې، ښاغلی...

- هو، زما کلک ملګری و.



- هغه به ډېر غټ راتلونکی درلودلای، ته خو پوهيږې. هغه خو لا ځوان و، خو د ډېر غښتلي مغز څښتن و. هغه خپلو سترګو کې ګوتې وهلې.

-که هغه ژوندي پاتې و، نو يو ستر شخصيت به ترې جوړ شوی و. هغه د وطن جوړولو کې مهم رول لوبولای شو.

- بالکل همدا سې ده.ما ورته وويل. هغه خامکين روجايي باندې سترې پريوت.

په دې شپه يو بل سړي ټيليفون وکړ، لومړی يې رانه د نوم پوښتنه وکړه.

- زه کيرووي يم.

- اوه... هغه لږ په ارام شو.. زه کلپ سپرنګر يم

زه هم لږ په کراره شوم، ما ويل چې د ګيټس بې يو بل ملګری خو هم پيدا شو، ما نه غوښتل چې دهغه د جنازې مراسم رسنيو سره شريک کړم او بيرو بار رامنځته کړم، خو يو څو کسانو ته مې خپله زنګ ووهه.

- جنازه سبا درې بجې ده، همدلته په کور کې، هغه چاته وو ايه چې د راتلو علاقه لري... ما کلپ سپرنګر ته وويل.

- اوه... سمه ده، زه خو دومره څوک نه پيژنم خو بيا هم. هغه زړه نا زړه کيده، د هغه خبرې زه يو دوه کې حيران کړم.

- که نور څوک نه وي ته خو هرومرو راشه.

- ښه، زه به خپل کوشش وکړم. ما چې د کوم شي باره کې زنګ وهلی و...

- يوه دقيقه... ما يې خبره ورپرې کړه: تا څه وويل ته راتلای شې که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خبره داسې ده، اصل کې رینښتیا داسې دي چې زه دلته ګرینوېچ کې خلکو ته پاتې کیږم او هغوی غواړي زه ورسره سبا ته اووسم. اصل کې که چیرته هغوی د مېلې هوډ درلود، نو بیا به زه خپله هڅه وکړم چې درشم. ما په زوره آه... وکړل او د هغه خبرې مې ورنیمایي کړې.

- ما چې د څه لپاره زنګ وهلی و، هلته زما یوه جوړه بوټان پاتې شوي او که یو چاته یې ورکړې او ما ته یې راولیږي، ته خو پوهیږې هغه د ټېنس لوبې بوټان دي او زه د هغې پرته ګوزاره نه شم کولای، زما د کور پته ده، بي ایف...

ما یې نوره خبره وانه وریده او ټیلیفون مې پرې بند کړ.

زه ګیتس بې لپاره ډېر شرمنده وم، یو کس ته خو چې مې زنګ ووهه، نو هغه ویل چې همداسې ورسره کول پکار و. او دا هم ما خپله سهوه ګڼله چې داسې خلکو سره مې باید اړیکه نه وی نیولی، ځکه کیدای شي د ګیتس بې ښو ملګرو نه نه ول او ما باید پیژندلي وای.

د جنازې په سهار وختې نیویارک ته لاړم تر څو وولف شیم پیدا کړم، خو هغه مې ونه موند. دروازه مې خلاصه کړه خو هیڅوک دننه نه ول، بیا مې په تیز غږ وویل چې څوک شته؟

- هیڅوک هم نشته، ښاغلي وولف شیم شیکاګو ته تللی. ښځې وویل، د ښځې لومړۍ خبره خو ځکه ناسمه وه چې دننه د بل سړي غږ هم اوریدل کیده.

- مهرباني وکړئ ورته ووایې، چې ښاغلې کیرووې راغلی، ورسره لیدل غواړي.

- زه یې شیکاګو نه نه شم راغوښتلی. په دې وخت کې په غلطۍ سره د وولف شیم غږ: ستیلا!!!" د هغه بلې دروازې نه واوریدل شو.



- خپل نوم دې ولیکه او په میز یې کیږده. ښځې زر وویل: کله چې راغی زه به یې ورکړم

- زه پوهیږم چې هغه دننه دی. هغه زما مخې ته رانږدې شوه، خپل لاسونه یې په کوناټو تېرول،

- غوږ ونیسه ځوانه! ته فکر کوې دلته په زور راغلی یې، مونږ نور سترې شوي یو، چې درته مې وویل چې شیکاګو ته تللی نو بیا شیکاګو ته تللی.

ما د ګیتس بې نوم واخست.

- اوه... هغې یو ځل بیا ماته وکتل: لږ صبر وکړه، ستا نوم څه دی؟

هغه لاړه، یوه شیبه وروسته ښاغلی مایر وولف شیم په جدي ډول دروازه کې رابښکاره شو. خپل دفتر ته یې بوتلم، هغه خپله خواخوږي څرګنده کړه، ما ته یې د سیګار څښلو وړاندیز وکړ.

- زما ذهن هماغه وختونو ته ځي چې کله مې په لومړي ځل ولید، یو ځوان جګړن چې د جګړې په موده کې یې څو مډالونه هم ترلاسه کړي وو، هغه به تل یونیفورم کې ګرځیده ځکه هغه د عام لباس اخستلو لپاره کالي نه درلودل. په لومړي ځل مې واین برینر کې ولید چې دندې ترلاسه کولو لپاره راغلی و. هغه د څو ورځو راهیسې هیڅ نه وو خوړلي. ما ورته د ډوډۍ وړاندیز وکړ. هغه تر نیم ساعت پورې لګیا و، د څلورو ډالرو نه یې هم ډېر خوراک وکړ

- تا سره تجارت کې شریک شوی و؟

- تجارت کې شریک شوم؟ هغه ما جوړ کړی.

- ښه.

- هغه ما د نشت نه راوچت کړی، د ویالې نه مې راپورته کړی. ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولید چې یو ښه ځوان دی او کله یې چې وویل اکسفورډ کې یې درس ویلی نو ما فکر وکړ چې ښه ځای یې استعمالولی شم. هغه مې امیریکن لیجن کې ورننباسه، او بیا یې الباني کې زما یو ګاک لپاره کار کاوه... خو اوس هغه مړ دی. هغه یوه شیبه چپ و.

- ته د هغه ډېر نږدې ملګری وې نو زه پوهیږم نن ماسپښین به د هغه جنازې ته راځې.

- زه غواړم چې درشم.

- ښه، نو بیا راشه

د هغه د پوزې ویښتان د غشو غوندې بهر راوتلي وو، هغه خپل سر خوځاوه. سترګې یې ډکې شوې،

- زه نشم کولای، زه په دې کې ځان نشم ورګډولای. هغه وویل.

- هیڅ شي کې ځان مه ورګډوه، هر څه ختم شول.

- کله چې یو څوک ووژل شي، زه ترې ځان لرې ساتم. کله چې ځوان وم، هغه مهال داسې نه وو. که زما کوم ملګرې به مړ شو، که هر څنګه به وو زه به ورسره تر اخره ولاړ وم.

زه پوه شوم چې هغه د خپلو شخصي وجوهاتو له کبله نشي کولای چې جنازه کې ګډون وکړي، نو پاڅیدم.

- تا کالج لوستلی؟

د یوې شیبې لپاره مې فکر کوه چې څه وړاندیز کوي خو بیا یې سر وخوځاوه او ماته یې لاس راکړ.

- پریږده چې مونږ دا زده کړو تر څو چې یو کس ژوندی وي د هغه لپاره خپل ملګرتوب وښایو، نه د هغه د مړینې وروسته... هغه وویل: او لدې وروسته زما قانون داسې وي چې هر څه همداسې پریږده.



کله چې د هغه دفتر نه راستون شوم، آسمان تورو وریځو نیولی و، غربي جزیرې ته رارسیدو سره نرۍ نرۍ باران وریده، د کالو بدلولو وروسته د ګیټس بي کور ته ورغلم، ښاغلی ګیټز د هلیز کې هاخوا دیخوا هیجاني ګرځیده. هغه خپل ځوی کې یو ویاړ لیده او د هغه د ځوی لاسته راوړنې پرله پسې توګه زیاتیدې. هغه غوښتل ماته څه وښایي.

- جیمي ماته دا انځور رالیږلی و. هغه په لړزیدا لاسونو خپلې بټوې نه تصویر راوباسه.

- راشه وګوره.

دا د کور یو انځور و، انځور په کونجونو کې درزونه او په لاسونو ښه خیرن شوی و. هغه ماته انځور ډېر په لیوالتیا تشریح کاوه: دلته وګوره او بیا به مې هماغه ځای ته کتل، هغه ته دا انځور د حقیقي کور نه هم ډېر حقیقي ښکاریده.

- جیمي ماته رالیږلی و، زما په خیال ډېر ښایسته انځور دی، ډېر ښه ښکاري.

- ډېر ښه ښکاري، ډېر وخت کیږي نه دې وو لیدلی؟

- هغه دوه کاله مخکې زما خواته راغلی و او ماته یې یو کور اخستی و، زه پکې اوس هم اوسیږم. د کله نه چې د کوره تښتیدلی و نو مونږ سره بیل شوي وو خو اوس مې ولیدل چې د هغه تر شا یو دلیل پروت و. هغه پوهیده چې یو روښانه راتلونکی لري. هغه ماته ډېر سخي و.

هغه د څو نورو شیبو لپاره هم تصویر زما مخې ته نیولی و او بیا یې د بټوې په زوړ ځای کې کیښود، ورپسې یې یوه زړه کتابچه راوویسته.

- دا وګوره، دا یې د ماشومتوب کتابچه وه. د کتابچې په مخ پاڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې *مهال ویش* لیکل شوی و، لاندې ترې نیټه، د سپټمبر ۱۲، ۱۹۰۶ کال. او لاندې،

*خوب نه پاڅیدل....۶ بجې*
*ورزش....۶:۱۵-۶:۳۰*
*برق درس او نور....۷:۱۵-۸:۱۵*
*کار....۸:۳۰-۴:۳۰ (مازیګر)*
*بیس بال او لوبې....۴:۳۰-۵:۰۰*
*د بلاغت او انډول تمرین او څنګه ترلاسه کول....۵:۰۰-۶:۰۰*
*درسي اختراع....۷:۰۰-۹:۰۰*
*عمومي تحلیل او ځان سمونه*
*- وخت نه ضایع کول*
*- سګرټ څکول بند*
*- هره بله ورځ لامبل*
*- اونۍ کې یو کتاب یا مجله لوستل*
*- اونۍ کې درې ډالره سپما کول*
*- پلار او مور سره نښه چلند کول*

- دا کتابچه مې هسې ګوتو ته راغله. دا مونږ ته هرڅه ښایي کنه؟
- بالکل هر څه ښایي.

هغه د جیمي باره کې لګیا و او د کتابچې بندول یې زړه نه غوښتل او همداسې ی اړوله رااړوله، د کتابچې هره جمله به یې په زوره ویله او ماته به یې په لیواله نظر راکتل. زما په فکر هغه دا توقع درلوده چې زه د خپلې ګټې لپاره ترې یو څه ولیکم.

درې بجو نه مخکې لیتران وزیر هم رارسیدلی و او ما ورته د کړکۍ



نه په نه زړه کتل. شیبه وروسته یو څو کارکونکي او نور خلک د هلیز کې ودریدل. وزیر څو ځله خپل لاسي ساعت ته وکتل، هغه د باران باره کې وارخطا و، بیا مې یوې غاړې ته بوت او د نیم ساعت نور انتظار مې ورته وویل. خو هیڅ ګټه یې نه درلوده، هیڅوک رانغلل.

تقریبا مازیګر پنځه بجې تیز نری نری باران ورېده. درې موټرې پرله پسې د کور دروازې نه د هدیرې په لور روان شوو. اول تور غټ موټر کې تابوت، ورپسې موټر کې د ګیټس بي پلار او ورپسې لیمو موټر کې زه او وزیر ناست وو. وروسته څلور پنځه مزدوران او د غربي جزیرې پوسته رسان چې باران ښه لامده کړي وو، راڅرګند شووو. هدیرې ته رسیدو سره بل موټر هم راغی، ومې لیدل چې هماغه د ګیټس بي د کتابخانې ګونګي په څېر سترګو والا سړی و، چې درې میاشتې مې د ګیټس بي د کور په کتابخانه کې لیدلی و. د هغې نه وروسته مې دا سړی نه و لیدلی. نه پوهیږم چې څنګه جنازې نه خبر شو، باران د هغه پلنې عینکې لمدې کړې وې، عینکې یې له سترګو لرې کړې په یوه ټوټه یې پاکې کړې تر څو د ګیټس بي قبر سم وګوري.

ما هڅه کوله د یوې شیبې لپاره د ګیټس بي باره کې فکر وکړم، خو هغه ډېر لرې تللی و او ما صرف یادولی شو، پرته د خفګان نه چې ډېزې یو پیغام او نه هم یو ګل راولیږه.

ما واوریدل چې یو سړی لګیا و، "هغه سړی خوشبخته وي چې د خښولو په مهال یې باران وي. او بیا د ګونګي په څېر سترګو والا په زوره آمین وویل. د باران له کبله مونږ بیرته موټرو کې کیناستو. ګونګي سترګو والا راته دروازه کې وویل،

- زه کور ته نشم ننوتلای. هغه وویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هیڅوک نشي کولای ننوځي.

- ولې خدایه ! هغه خو باید سلګونو سره هلته تللی وای. هغه خپلې عینکې له سترګو ښکته کړې او بیا یې په خپل جیبي دسمال وچې کړې.

***

د ګیټس بي مرګ نه وروسته راته شرق ویرونکی ښکاره شو. کله چې د ونو نه پاڼې غورځیدل پیل شول او نري شمال هم د شپې له خوا پرخه غورځوله، نو ما پریکړه وکړه چې کورته لاړ شم.

یو شی اړین و چې باید ددې ځای تلو نه دمخه مې کړی وای، یو بې خونده او خواشینونکی کار و. خو ما غوښتل چې هرڅه یو ترتیب کې پریږدم. ما جورډن بیکر هم ولیده. مونږ د ېرې خبرې سره وکړې. چې ما ته څه راپېښ شوي وو او د ګیټس باره کې مې هر څه ورته وویل. هغه ځوکۍ کې ناسته او زما خبرو ته یې غوږ نیولی و.

هغې د ګولف لوبې لباس پر تن و، زما یاد دي چې هغه مې د یو ښه انځور په شکل ذهن کې ساتلې ده. د هغې زنه یو څه راپورته شوې وه، د هغې ویښته د خزان د ونو پاڼو په څېر ول.

کله چې ما خپلې خبرې پای ته ورسولې، نو هغې پکې پرته د څه ویلو وویل چې هغې یو بل سړي سره کوژدن کړې ده. خو زه شکي وم، ځکه د سر په خوځولو هغې د هرچا سره چې زړه وغوارې واده کولای شول، یوی شیبې لپاره مې همدا فکر کاوه چې شاید زه سهوه شوی یم، خو وروسته پوه شوم، د خپل ځایه راپاڅیدم تر څو خدای پامانې ترې واخلم

- سره له دې تا زه پرېښې وم. جورډن زر وویل: تا ما سره په ټیلیفون څنګه خبرې کړې وې، زه اوس ستا په کیسه کې نه یم، خو دا زما لپاره



یوه نوې تجربه شوه او ما یو څه ګنګس کوي هم.

- اوه... تا ته یاد دي؟ هغې ورزیاته کړه: مونږ چې موټر کې ناست وو د موټر چلولو باره کې مو بحث کړی و.

- ولې، فکر نه کوم...

- تا ویلي ول چې یو موټر چلونکی هغه وخت خراب وي چې یو بل خراب موټر چلونکي سره مخ شي ! ښه، نو ما یو بل خراب موټرچلونکي سره ولیدل، همداسې نده؟ ما فکر کړی چې ته یو ایمانداره او ساده سړی یې او زه فکر کوم دا ستا یو پټ ویاړ دی.

- زه دیرش کلن یم، ما وویل: زه دروغو ویلو نه پنځه کاله مشر یم. هغې ځواب رانکړ. غوسه مې هم راتله او لږ پرې مئین هم وم. زه ترې لاړم.

***

د اکتوبر میاشت اخري ورځې وې، یو ماسپښین مې ټام ولید. هغه د پنځمې جادې په لور په قهرجنه توګه، خپل لاسونه چاک نیولي لکه چا سره جنګ کولو لپاره روان وي، هغه یوې بلې خوا کتل. زه لږ په ورو شوم چې هغه تېر شي، هغه د سرو زرو دوکان مخې شیشې ته ودرید، تندی یې تریو نیولی و، چې زه یې شیشیه کې ولیدم او بیرته په شا راغی، لاس یې راته ونیو.

- څه خبرې دي نیک ! ولې لاس ورکولو باندې هم اعتراض لرې؟

- هو... ته پوهیږې زه ستا باره کې څه فکر کوم.

- ته لیونی شوی یې نیک ! ته بیخي لیونی یې. زه نه پوهیږم چې په تا څه شوي؟ هغه زر وویل او لاسونه یې کورتۍ کې ننباسل.

- ټام ! هغه ماسپښین تا ویلسن ته څه ویلي و؟ ما په ترخه لهجه ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویوښتل. هغه ماته همداسې کتل، او زه پوهیدم چې زما فکر د هغه وخت باره کې سم دی، زه ترې بیرته روانیدم خو هغه راوړاندې شو او زه یې مټ نه ونیولم

- ماهغه ته ریښتیا ویلي و، مونږ هماغه مهال کور پریښود او سامانونه مې تړلي وو چې هغه رانتوت. ما څوک ورولیږه چې ورته ووایي چې ټام کور کې نشته، خو هغه بره راوخوت. هغه به زه هم ویشتلی وم که ما ورته نه وو ویلي چې هغه زیړ موټر د چا و. هغه جیب کې د تمانچې په ماشه ګوته ایښې وه. هغه بې پروا لګیا و، لږ تم شو. نو څه وشو که ما ورته ویلي؟ ګیټس بې ستا او د ډیزي په سترګو کې خاورې شیندلې وې، خو هغه یو کلک سړی و، هغه په مارټل موټر داسې وروخیژوه لکه یو سپی او بیا یې موټر هم ونه دراوه.

ما سره د ویلو لپاره هیڅ نه و، پرته د یو نا مکمل حقیقته چې هغه ریښتیا و.

ما هغه یا د هغې په څېر هیڅوک نه شو بښلی یا د بښلو وړ وو. ټام او ډیزي بې پروا خلک وو، دوی شیان او ژوندي راټولوي او بیا وروسته خپلو پیسو او بې پروایۍ ته په شا تګ کوي یا کوم څه چې هغوی دواړه سره یوځای ساتي او د نورو خلکو په واسطه خپله ګندګي صفا کړي...

ما هغه ته لاس ورکړ، ډېره بده راته ښکاریده، دا ځل مې ورته ځکه لاس ورکړی و چې زما دې خبرې ته پام شوی و چې زه یو ماشوم سره خبرې کوم. بیا هغه د سرو زرو دوکان ته ننوت ترڅو د ملغلرو یوه غاړه کۍ واخلي یا کیدای شي بل څه اخلي خو زما یې پرې څه...

***



کله چې زه راوتم، د ګیټس بې کور هماغسې تش و، د هغې وابښه هم زما د کور په څېر ببر شوي وو. د همغې کلي یو ټکسي چلونکی چې کله هم د ګیټس بې کور سره تیریږي نو یو ځل هرو مرو د کور مخکینۍ دروازې سره په ورو کیږي او د ننه لورته اشاره کوي، کیدای شي دا هغه ټیکسي والا وي چې د ټکر په شپه یې ګیټس بې او ډیزي له دې ځای نه شرقي جزیرې پورې رسولي وي او یا کیدای شي دا کیسه یې ځان نه جوړه کړې وي. ما نه غوښتل چې نوره دا کیسه واورم، نو ځکه ما منع کړ او ریل نه ښکته شوم.

د شنبې شپه مې نیویارک کې تېره کړه، ځکه د هغه د رڼا نه ډک او بریښیدونکي محفلونه ما سره ملګري وو چې په اسانۍ سره مې د هغه د کورنه د سندرو، خنداګانو، پرکالتوب چې د هغه د بڼ نه اوریدل کیده او خلک موټرو کې تګ راتګ اوس هم زما ذهن کې هماغسې تازه دی.

په اخرنۍ شپه چې ډاله مې د سامان نه ډکه کړې وه، زه لاړم او یو ځل بیا مې د هغه ستر ناکامه شوي کور ته وکتل. سپینو زینو کې یو کرغیړن څه لغت لیکل شوی و، لکه یو ماشوم چې په خښته لیکلی وي. د سپوږمۍ په رڼا کې صفا ښکاریده، هغه لیکل مې وران کړل. بیا لاړم ساحل خواته او په شګو کې یوه شېبه کیناستم.

زه هلته ناست او د دې زړې او نااشنا دنیا باره کې مې چرت وهه، ما د ګیټس بې خیالاتو باره کې فکر کاوه چې په لومړي ځل به یې د ډیزي کور مخې ته شین رنګه څراغ لیدلی وي، هغه د ډېر لرې ځای نه دلته راغلی و او د هغه خوبونه ریښتیا هم دومره نږدې شوي و خو هغه ډېر په مشکله په دې ونه توانید چې هغه راخپل او یا درک کړي.

ګیټس بې په شین څراغ باور درلود، یو ژوندی راتلونکی چې کال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال زمونږ د مخې نه په شا روان دی. بیا هغه مونږ تېر باسي خو بیا ځکه فرق نه کوي چې سبا ته مونږ په تیزۍ منډه وهو ، زمونږ لا سونه لا پسې پراخوي...او بیا به یو روڼ سهار...

خو مونږ روان یو ، د اوبو په مخالف جهت لامبو وهو ، او مونږ پرله پسې توګه په شا تمبوي.

پای

د جولای ۱۱، ۲۰۱۵ کال
کابل، افغانستان

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**